# لټونکي ګټونکي دي

(غمجنو زړونو ته د خوښۍ زيرى)

۱۳۹۷



محمد آصف اشنا

Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم


**کتاب پېژندنه:**

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | لټونکي ګټونکي دي |
| بـقـلـم | محمد آصف اشنا |
| خپرندوی | الفلاح خپرندویه ټولنه- جلال آباد |
| کمپوز | وفي الله منت بار۰۷۶۷۰۳۳۸۶۸ |
| چاپ وار | لومړی |
| چاپ شمېر | ۱۱۰۰ |

چاپ کال۱۳۹۷لمریز کال / ۲۰۱۸م



**د چاپ حقوق له ليکوال سره خوندي دي.**



پته:

الفلاح کتاب پلورنځی، اسحاقزي مارکيټ جلال اباد ښار.

۰۷۹۸۸۱۱۵۰۰ -۰۷۸۰۷۶۰۷۶۴



Scanned by CamScanner

## ډالۍ !

- مننه ربه په نړۍ کې دې نړۍ ته راکړه.
- زما د ژوند ستره هستي ، زما ګران او قدرمن پلار جان ته!

چې د ژوند په دې سختو پړاوونو کې یې ځان هرې سختۍ ته ورکړی، تکلیفونه یې ګاللي اوزه یې ترې ساتلی یم او تل یې زده کړې ته هڅولی یم.

- خوږې او مهربانې مور جانې ته چې تل یې د ناز خواږه راکړې.

## او

زما د ژوند ښکلا ته!

Scanned by CamScanner

## پلټوونکي، ګټوونکي دي!

که چېرې ووایو، چې ژوند سخت دی او هېڅ هیلې شتون نه لري، دا سمه نه ده! ځکه که له دې نظره ژوند ته وګورو؛ نو طبیعي ده، چې هېڅ یو شخص به کومه هیله اختراع نه وه شوې؛ ځکه انسان به له کوچنۍ ستونزې سره مخ کېدو؛ نو خپله هیله او انګېزه به یې له لاسه ورکوله، همداسې به هر شخص یو کار پېلولو او له ستونزو مخ کېدو سره سم به یې له خپل کاره لاس اخیستلوه، په همدې ډول به نړۍ له وروسته والي سره مخ او هېڅ ډول پرمختګ ته به زمینه برابره شوې نه وه.

نو یقیناً هیله هغه څه ده، چې د ژوند په سختو شرایطو کې آسانه کوي او همدا د یو انسان تر ټولو ستر هنر دی، چې په سختو شرایطو کې د ځان لپاره هیلې راوټوکوي؛ ځکه له همدې هیلې پلټنه رامنځته کېږي او له پلټنې وروسته انسان خپلې هیلې ته رسېږي، چې موږ ورته ګټوونکی وایو.

ستاسو په لاس کې کتاب د ښاغلي محمد آصف (آشنا) له خوا په ډېره ماهرانه بڼه لیکل شوی؛ له پنده ډکې قیصې، هیله بخښوونکې متنونه، د خوشاله ژوند پر لور لارښوونې، شخصیت جوړونه، د ګډ او پرهمکاریو ولاړ انساني ژوند لارښوونې، د بریالیتوب رازونه او بلاخره د ژوند د سکون لپاره قراني ایاتونه یې په ډېر ښه ترتیب سره راټول کړي، دا په حقیقت کې هغه دی، چې لوستل یې په اوسنۍ غمجنې او ناهیلې نړۍ کې هر لوستي شخص ته اړین بولم.

ښایي د دغه کتاب په لوستلو مو مړاوې هیلې بېرته تازه او د ژوند نوې پړاو ته د داخلېدو لپاره مو په ذهن کې یوه انګېزه رامنځته

شي.

په پای کې ښاغلي محمد اصف (اشنا) ښخه د زړه له تله مننه کوم، چې د پښتو ژبې لوستونکو ته يې دا ډول ارزښتمن کتاب وړاندې کړ، يقيناً د ټولنيز ژوند او شخصيت جوړونې په برخه کې خورا ارزښتمن اثر دی.

خدای جل جلاله دې د ښاغلي آشنا په پوهه او ژوند کې برکت واچوي.

په درنښت

عبدالبصير سباوون

الفلاح پوهنتون استاد

Scanned by CamScanner

# د حق په لټه کې

دا په نړۍ کې د الله تعالی.... سنت دی، چې د هېڅ امت قوم او ډلې حالت له تیارو نه رڼا ته له جهل نه علم ته له ذلت نه عزت ته له غلامۍ نه باداری ته او په ټوله کې له بدوالي ښه والي ته نه بدلوي، مګر هغه وخت چې قوم او امت په خپله د خپل ځان د بدلون هڅه وکړي؛ نو د بدلون لپاره لټون اړین دی، همدې مطلب ته الله تعالی داسې اشاره کوي.

إِنَّ اللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا مَا بِأَنفُسِهِمْ ۗ

په دې اړه په نړۍ په تاریخ کې بې شمېره بېلګې او شواهد موجود دي، که یواځې د صحابه کرامو تاریخ راو اخلو هر صحابي د حق د لټنې یوه نمونه او بېلګه ده، سلمان فاسي رضي الله تعالی عنه د حق په لټه کې نږدې دیرش راهبانو سره شاګردي وکړه او هغوی نوبت په نوبت رحلت کولو ان تر دې چې د څو لسیزو په تېرېدو مدینې منورې ته راورسیدو په حضرت محمد صلی الله علیه وسلم یې ایمان راوړ او د نړۍ ستوری شو.

په بازار او مارکیټ کې ډېر خلک لر او بر ګرځي؛ مګر هغه څوک ډکې منګولې خپل کورته راستنېږي، چې د څه شي په نیت وتلي وي، د هغې لټون وکړي.

د کانونو او معدنونو په سر ډېر خلک تېرېږي راتېرېږي؛ مګر یواځې پلټونکي دي، چې کانونه راسپړي او ګټه ترې اخلي.

په ټولګي کې ډېر زده کوونکي درس وایي؛ خو یو یې هغه زده کوونکي نوښتونه کوي او اختراعات کوي، چې لټونکي وي.

که په لنډو ټکو کې ووایو یوائې لټونکي دي، چې په خارو کې سره زر وینې او او په اوبو کې ملغلرې؛ مګر دا هر څه له زیار او کار پرته نه ترسره کېږي.

په نړۍ کې بشریت د ځان لپاره څومره اسانتیاوې برابرې کړې دي؟ که هغه د تګ راتګ وسایل دي، چې د ځمکې تدابونه یې رانږدې دي، کړې دي، که هغه غړیز وسایل دي، چې نړۍ یې په یو کلي بدل کړې ده او که د ژوند تیرولو نوري اسانتیاوې دي ، دا هر څه لټون پایله ده، د بشریت د بریا راز په لټه کې نغښتې دي، څو څو ځایه په قران عظیم الشان کې ورته په بېلابېلو الفاظو اشارې شوې دي، یو ځای وایې په ځمکه کې وګرځئ، تر څو عبرت واخلئ بل ځای وایې، په ځمکه کې خواره شئ، د الله تعالی فضل دا لټون چې هر څوک وکړي هغه د نړۍ واګې په لاس کې نیسي . یو وخت چې مسلمانان د لټون په حال کې د نړۍ مشري او قیادت هم ورسره وو کله یې چې عظمت وکړ،بې واکه شوه له نېکه مرغه اوس په نړۍ کې په ځانګړې ډول اسلامي امت کې د خوځښت او بیدارۍ احساس پېدا شوی دی او د رڼا څرک تر سترګو کېږي.

کله مې چې (لټونکي ګټونکي دي)، په نوم لیکنه ولیده، چې زموږ ځوان او هڅاند ورور محمد اصف اشنا په ډېره روانه او خوږ ژبه ترتیب کړې ده، ډېر خوښ شوم، د اصف خان لیکنه به ولې خوندوره نه وي، چې په ډېر کم عمر کې ډېرې لاسته راوړنې لري زیار کښ او لټونکی ځوان دی. له منځنیو زده کړو یې د پوهنتون ترکچې خپل لکښت په خپله غاړه اخیستې او د خپلې کورنۍ لپاره هم هلې ځلې

کوي ، اوس يې دا دی د خپلو تجربو په رڼا کې دا توګه هم منظمه کړې ده، د قران عظيم الشان اياتونه په ډېر ښه انداز کارول شوي دي د دنني شخصيتونو ولاسته راوړنې ښې بېلګې دي او د نړۍ د زيار کښانو کيسې، غوره ويناوې او متلونه هم پکې شته چې زياتره يې ژباړه او راټولونه ده.

خپلې خبرې په دې بيت راټولوم

چې غوټې پسې وهي په لاس به درشي

چا ويل چې په درياب کې ګوهر نشته

په ټوله علمي او ادبي مينه

محمد ګلاب توحيديار د خراسان پوهنتون استاد

۱۱/ ۱۳۹۷/۵

اصلاح غږ راډيو جلال اباد

Scanned by CamScanner

## مفهومي دریاب

انسان ټولنیز مخلوق دی. دلته دوه نقاط ذکر شول، لومړی انسان او دوهم ټولنه، کله چې دغه دوه الفاظ یادوو، نو خورا زیاتې پوښتنې په مو ذهن کې راټوکېږي.

انسان ولې مخکې نشي تللی؟ انسان ولې نهیلی کېږي؟ انسانان چې په فکري او ذهني لحاظ تر تساوي لاندې نیول شوي، نو بیا ولې ځېنې پرمختللي او ځېنې وروسته پاتې دي؟

ټولنه د انسانانو نه تشکیل مومي، کله چې انسان نه اوسي نو ټولنه څه مانا؟ د ټولنې وروسته پاتې والی د انسانو سره داسې اړیکه لري، لکه د ځنځیر کړۍ یې چې له یو بل سره لري.

د انسانانو اذهان خپله د ده او ټولنې په وده کې هر اړخیز رول لوبوي. که د ده ذهن داسې عیار شوی وي، چې تل د فسیمیزم (منفي ګرایي) په محور کې چورلي، نو دا به داسې وي، چې دی نه د ټولنې او نه د ځان پرمختګ غواړي.

کتابونه نه یوازې په لاس لیکل شوي د قلم تور توري دي، بلکې دا د سوونو کلونو او په پراخه پیمانه د وګړو له تجاربو نه راویستل شوي لعلونه دي، چې شخصیت پرې وده او زندګي پرې سکون پیدا کوي.

دغه وړوکی کتاب، په زیاتو موضوعاتو راڅرخي، وبه لولئ، چې انسان ولې خود غرضه دی؟ له دغې بلا نه ځان څنګه خلاصولی شي؟ د وروسته پاتې کېدو عمده دلایل یې څه دي؟ تاریخ دوی ته څه وایي؟ د خپل ژوند تاریخ څنګه باید ولیکي؟ د بریا کیلي څنګه له خړو خاورو نه راویستلی شي؟ شخصیت یې په کومو اوصافو د خلکو په ذهنونو کې مثبت پالی پیدا او لوړولی شي؟ څه باید

وکړي، چې ټولنه کې د نېکانو شخصیتونو په لیست کې راشي؟ اسلام دوی ته څه وایي؟

دا او دې ته ورته نور ډېر موضوعات په دې وړوکي خو د مفهوم په یوه دراب کتاب کې راټول شوي، چې هم به ترې خپله پوره ګټه وکړئ یاو هم به نور د بریا او شخصیت د لوړولو په ځانګړنو اګاه کړئ.

زه د ښاغلي محمد اصف (اشنا) د داسې هڅې چې ټولنې ته به یې په خپل نشتون کې هم ګټه رسېږي، قدردانی کوم او د لا بریاو غوښتونکی یې یم. په معاصر دور یا په دې وروستی لسیزه کې د افغانستان د ویجاړو شویو خړو کورونو له خاورو نه په رنګ داسې خړ ځوانان راووتل، چې نه یوازې خپلو هیلو ته د رسېدو ارمان ورسره وي، بلکې غواړي خپله هغه ټولنه چې تل پرې نورو امرانه چلند کړی، له خوبه راپورته کړي او د هغوی سره د سیال کېدو انګېزه ورکړي.

د محمد اصف (اشنا) په شمول دې د ټولو کور ودان وي او په راتلونکي کې له هر هغه ځوان نه هیله او امید لرم، چې د تعلیم او لوست په لوړولو کې به د خپل کړېدلي ولس سره پوره همکاري او مرسته کوي.

نور عمر

د مینې مجلې همکار او

الفلاح پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو زده کړیال

# لومړۍ برخه


الله تعالی کافي دی! ۱
د رسول الله صلی الله علیه وسلم اوښکې مبارکې ۲
زه د مصر پاچا یم ! ۵
د تاریخ عبرتونه تلپاتې ویي ۶
فکر وکړه او منندویه اوسه! ۷
له خلکو سره ښېګڼه، زړه پراخوي ۹
شات ترلاسه کړه! ۱۰
مه خپه کېږه! ۱۱
خپل تاریخ پخپله ولیکه ۱۲
د خلکو له ویناوو به څنګه ځان خلاصوې؟ ۱۳
له بل سره نېکي ۱۵
په سختۍ پسې اساني راځي ۱۶
ښکلې مینه ! ۱۸
د اونۍ په دوو ورځو کې د جنت دروازې پرانیستل کېږي! ۱۸
نرم خویې اختیار کړئ! ۱۹
د خلکو په خوشالی ۲۱
مور او پلار ۲۲
سلام ۲۳
د بندګی احساس ۲۴
د اسلام سپېڅلي دین انسان ته ۲۴
اسنان ته د کرامت تاج ور په دی ۲۵
انسان په بهترین نظم، اعتدال ۲۵
الله تعالی په انسان کې ۲۶
د یو انسان ژوند د ټولو ۲۶
انسان ته د علم برتري ورکړل شوې ۲۶
پرېښتو ته امور شوی دی ۲۷
د دنیا بې شمېره نعمتونه ورکړل ۲۷
له انسان سره د جنت ۲۷
د شخصیت-منشور ۲۸
د شخصیت د پاېښت توکي ۳۱
. اخلاقي نیمګړتیا ۳۱
ذهني او بدني نیمګړتیا ۳۱
په معاملاتو کې نېمګړتیا ۳۲
د ناکامی وجوهات ۳۲
د مستقل مزاجي نیشتوالی ۳۲
خود غرضي او لالچ ۳۲


# دویمه برخه


د بریالیتوب ته د رسېدو لس لارې ۳۳
منفي لیدونکي یا منفي ګرام ۳۴
وای... ټولې ورځې مې بربادې شوې! ۳۴
زه په دغه کار کې ناکام یم! ۳۴
زه همېشه یوه ستونزه لرم! ۳۵
نا ممکنه ده! ۳۵
زما د کار په قدر نه پوهېږي! ۳۵
زه همیشه یوازې یم او هېڅوک راسره نشته! ۳۵
ټول وایي، مثبت فکر وکړئ، خو څه ډول؟ ۳۶
لومړی ګام ۳۶
دویم ګام ۳۷
درېیم ګام ۳۷
څلورم ګام ۳۷
پینځم ګام ۳۸
د ریښتینې خوښۍ په موخه ۸ چلندونه غوره کړئ! ۳۸
اته شیان چې په پرېښودو ۴۰
بهانه مه کوئ ۴۰
ځان جامع الکمالات مه ګواړئ ۴۰
وېره له زړه وباسئ ۴۰
په هر شي د کنټرول درلودلو څه ۴۱


Scanned by CamScanner

تنگ نظري مه کوئ ٤١
په یوه ورځ کې دننه ٤١
منفي گرا خلک له خپل ژوند ٤٢
همیشه د (هو) ویلو عادت پرېږدئ ٤٢
که غواړئ، چې غوره شخصیت ولرئ ٤٣
د خوښمنو (خوشال) ٤٦
که دغه اوه(۷) پوښتنو ته مو ٤٩
لس خویونه ٥٠
اوو (۷) هغه نښې چې تاسو پرې ملگرو
سره باید اړیکه پرې کړئ ٥٠
سپکاوی کول ٥١
دورغ ویل ٥١
له شخصیت څخه ناوړه گټه اخیستل ٥١
دوستان چلند نه کول ٥١
ژر غصه کول ٥٢
تېز چلند کول ٥٢
راز نه ساتل ٥٢
له دې ۸ ډوله کسانو لرې واوسئ! ٥٣
ځان غوښتونکي کسان ٥٣
کینه لرونکي کسان ٥٣
وروسته پاتې کسان ٥٣
ژر قضاوت کوونکي کسان ٥٣
کنټرول کوونکي کسان ٥٤
دورغجن کسان ٥٤

مزاحم کسان ٥٤
مغرور او کبرجن کسان ٥٤
د حضرت لقمان حکیم ۴۰ نصیحتونه ٥٥
خوشاله کسان څه ډول ژوند کوي؟ ٥٧
د بریا پر لور لس ساده لارې ٦٢
کله کله فیصلې مه کوئ ٦٣
ایا تاسو یو ښه انسان یاستئ؟ ٦٣
د شخصیت لوړونې په اړه د پوهانو ۵۰
زریني ویناوې ٦٦
وقفه ٧٢
د دې اوه (۷) شیانو په اړه هېڅ ٧٣
ستاسې په اړه د نورو خلکو نظریات ٧٣
ستاسې تېروتنې ٧٣
ستاسو تېر ژوند ٧٣
ستاسو راتلونکی ٧٤
ستاسو دنده ٧٤
د زده کړې لپاره له ویناو گټه واخلئ ٧٤
لالچ څنگه پیدا کېږي ٧٥
د کامل یقین نیشتوالی........................ ٧٦
په دنیا کې درې ډول خلک دي ٧٦
پلان جوړونه او تیاري نکول ٧٧
تجزیه ٧٧
د جرئت نیشتوالی ٧٨
دوه ځانگړتیا وې ٧٨


## دریمه برخه


له خلکو سره یو ځای شه ٧٩
له ځان سره ریښتیني واوسه ٧٩
لمونځ وکړه ٧٩
دعاء وکړه ٧٩
موسکی شه ٧٩
مینه ٨٠
ذکر کوه ٨٠
توکل او ښه گومان کوه ٨٠
د هغوی د تجربو لنډیز ٨٠

له ژونده خوند واخلئ! ٨١
مؤمن ولې نه نامیده کېږي؟ ٨١
لږه کینه روغه سینه ٨٢
لنډ تنگ ژوند ٨٣
ټولنیزې اړیکې ښې وپالئ ٨٣
ځان ته مو یو هدف وټاکئ ٨٣
امانت دار اوسئ ٨٤
حقیقت ٨٤
د بریالیو کسانو د ٨٤


Scanned by CamScanner

ښه اخلاق ۸۵
څنګه له ځانه يو ۸۶
په ځان باور او اعتماد ۸۶
مسکا کوي ۸۷
نور خلک تشويقوي ۸۷
مثبته بدنې ژبه لري ۸۷
ايمان ۸۸
ژوند همداسې دی ۸۸
اعتماد پرې مه کوه! ۸۸
ای غم ځپلو! ۸۹
ژوند دا رازده کړل ۸۹
هر څوک ۸۹
چې خلک درسره مينه وکړي ۹۰
ولې حق نه خوښوو؟ ۹۰
خپله شتمني په کار واچوه ۹۰
نا ازمويل شوی قومندان ۹۰
د عبرت په نيت ۹۰
پلرونه او زامن ۹۱
د ښځو ښکلا ۹۳
بيدار اوسه!
د تاريخ جوړونه ۹۴
بدل اخيستل ۹۴
پياوړی اوسه او مه ودرېږه! ۹۴
مهارتونه بايد مخکې له ۹۵
د کلک او ټينګ تصميم ۹۵
د خبرو کولو مهارت ۹۵
د احترام کولو مهارت ۹۶
د مسوليت منلو مهارت ۹۶
د مديريت مهارت ۹۶
د جذبولو مهارت ۹۶
باوري اوسئ او هېڅکله ۹۶
دروغ مه وايئ او ۹۷
ماتې ته هرکلی کوئ ۹۷
تر هر څه وړاندې پر ځان ۹۷


## څلورمه برخه


مېخونه ۹۸
د مهاتما ګاندي حلم ۹۹
زمری او هوسی ۱۰۰
همتونه دې چې له نا ۱۰۰
وارن بوفت ۱۰۱
رتن ټاټا ۱۰۲
جک ما ۱۰۳
فقير واکمن هم وي! ۱۰۳
بلاله دومره جفا؟! ۱۰۵
موږ مينه نه پېژنو ۱۰۷
د ژوند لاره ۱۰۸
مېړه او ښځه ۱۰۹
نهيلو زړونو ته هيلې ۱۱۰
ملايکه او شيطان ۱۱۱
سپکې خبرې مه ۱۱۳
ښه روزنه ۱۱۴
تاسو خپل دين خرڅ ۱۱۵
حکايت ۱۱۵
اوسپنې يو ټوټه ۱۱۶
ماخذونه ۱۱۷
د ليکوال په اړه ۱۱۹


Scanned by CamScanner

# لومړۍ برخه

## الله تعالی کافي دی!

خپل کارونه الله تعالی ته سپارل، توکل پرې کول، پروعدې یې باور لرل، رضا ته یې تسلیمېدل، نېک ګومان پرې لرل او د هغه له لورې د ستونزو او اندېښنو د غوټې پرانیستلو ته انتظار ویستل، د ایمان له سترو ثمرو او د مومن له مهمو صفاتو څخه دي، کله چې بنده د خپل عاقبت په اړه مطمئن شي او په هره معامله کې پر الله تعالی باور او توکل وکړي، نو د الله تعالی د مرستې ، نصرت او پام وړ ګرځي.

کله چې ابراهیم علیه السلام اور ته وغورځول شو، نو ویې ویل:

(حَسْبُنَا اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ) .(سورة ال عمران: ۱۷۳ایات).

زموږ لپاره الله کافي دی او هغه غوره کار جوړوونکی دی.

الله تعالی پرې اور یخ او سالم کړ، کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم او ملګري یې د کفارو له لښکرو نه ووېرول شول، نو ویې ویل:

(حَسْبُنَا اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ ١٧٤ فَانْقَلَبُوا بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللَّهِ وَفَضْلٍ لَّمْ يَمْسَسْهُمْ سُوءٌ وَاتَّبَعُوا رِضْوَانَ اللَّهِ وَاللَّهُ ذُو فَضْلٍ عَظِيمٍ ) (سورة: ال عمران: ۱۷۳او ۱۷۴ ایاتونه).

زموږ لپاره الله تعالی کافي دی او هغه غوره کار جوړوونکی دی، په پای کې هغوی الله تعالی له نعمت او لورېینې سره بېرته ستانه شول، هغو ته هېڅ راز زیان هم ونه رسېده او د الله تعالی له خوښې سره سم تګ کولو مرتبه یې هم ومونده، الله ډېر ستر لورورونکی دی.

انسان د خپلې کمزورۍ له امله نشي کولای ، چې په يوازې ځان له پېښو سره پهلواني وکړي او د ستونزو مخه ونيسي؛ خو کله چې پر خپل پروردګار توکل او باور اوکړي او خپل کارونه هغه ته وسپاري؛ نو بيا کولای شي، چې له پېښو سره پهلواني او له ستونزو سره مقاومت وکړي.

که انسان پر خپل رب توکل او باور ونه کړؤي، نو کله چې حادثې ستونزې، مصيبتونه او ناروغۍ له ده غېږې راچاپېره کړي، نو څه لاره به ولري؟

(وَعَلَى اللهِ فَتَوَكَّلُوٓا اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ).(سورة مائده: ۲۳ايات).

پر الله تعالی توکل وکړئ، که تاسې مومنان يئ.

ای خلکو! که غواړئ، چې بريالي اوسئ، نو پر قوي او غني ذات توکل وکړئ، چې له بلاګانو او پېښو نه مو وساتي.

(حَسْبُنَا اللهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ). (سورة : ال عمران ۱۵۳ ايات).

خپل شعار وګرځوه، که شتنمني دي کمه شي او پوروونه دربانـدې زيات شي، غږ وکړه. (حَسْبُنَا اللهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ). کله چې د دښمن وېره دربانديې غالبه شي يا څوک دربانديې ظالم شي، نو ووايه چې (حَسْبُنَا اللهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ) (سورة ال عمران : ۱۵۳ايت).

(وَكَفٰى بِرَبِّكَ هَادِيًا وَّنَصِيْرًا)(سورة ال الفرقان: ۳۱ايت).

او ستا لپاره ستا رب لارښوونکی او مرستندوی کافي دی.

## د رسول الله صلی الله عليه وسلم اوښکې مبارکې

د رحمت نبي صلی الله عليه وسلم په ډېرو موزونو او خوږو کلماتو خپل امت ته د الله تعالی په ربوبيت، د اسلام په دين او او د محمد په نبوت د رضا ښکاره کولو طريقه ښودلې (رضيت بالله ربا ، و بالاسلام دينا، وبمحمد نبيا).

او خپله يې هم داسې ژوند تېر کړی، چې له خپل رب نه په هر حالت کې راضي و، د شتمنۍ په حالت کې ، د فقر په حالت کې، د جنګ او سولې په حالت کې د قوت او کمزورتيا په حالت کې، د روغتيا او ناروغۍ په حالت کې د تنګسۍ او پراخۍ په حالت کې.

د پلار له خوږو بې برخې، بيا د مور له خوږو بې برخې شو، د نيکه له ناز نه بې برخې او بيا د تره له ناز نه هم بې برخې شو، له دې ټولو ناخوالو سره سره هم له الله تعالی نه راضي و.

د لوري له امله يې په ګېډې پورې تېږې تړلې، له يهودي سره به يې خپله پيغمبري توره ګاڼه کوله او اوربشې به يې ترې پور اخيستلې، پر يوازې به ويده کېده، چې له امله به يې په اړخونو کې د پوزي (له لوښو څخه جوړ شوې) نښې ځرګندېدلې، پر له پسې درې ورځې به يې په نهرې تېرولې؛ خو بيا هم له الله تعالی د سپېڅلو مجاهدينو په کوچنۍ ډلګۍ کې د دنيا د زورورو مشرکانو مجهز لښکر ته په مخکې ودرېد، داسې لښکر چې په پليو،اسونو..... سرو او سپينو او رنګا .. رنګ وسلو سمبال و.

په غمناکه ورځ هم له الله تعالی نه راضي و، چې د خواږه او مهربان تره له مينې محروم شو او هم يې لومړۍ مسلمانې مشرې ګرانې او مرستيالې مېرمن خديجة الکبری رضی الله عنها يې له نړۍ نه سترګې پټې کړې.

د مشرکانو له لورې په ډېرو سختو او نا اشنا کړاوونو وځورول شو، سخت دروغجن ورته وويل شو، کرامت يې ورته ژوبل، پر صداقت يې

ورته تورونه پورې کړل، کوډګر، فالګر، لېونې اوشاعر باندې یې ونوماوه، خو بیا هم له ستر خالق تعالی څخه راضي او خوښ و.

په هغه سخته خواشینوونکې ورځ یې هم د الله تعالی د رضا ستر نعمت ګټلی و، چې د مشرکانو د لاسه له خپل پلرنې ټاټوبي وایستل شو.

هو؛ د داسې ټاټوبي، چې هم هلته یې نړۍ ته سترګې پرانیستې وې، د کوچنیتوب لوبې او خاپوړې یې پکې کړې وې، د زلمیتوب خاطرې یې پکې روزل شوې او غوړېدلې وې، کله چې له مکې نه ووت شا شاته یې په ګرانې مکې مکرمې پسې کتل او له ښکلو، زړه راښکونکو او تورو سترګو څخه یې پر ښکلي رخسار او ښکې راتوېېدلې او په ژړغونې غږ یې ویل (مکې ! ته د الله تعالی په ښارونو کې زما ګران او خوښ ښار یې ، که ستا اهل زه له تا څخه نه ایستلای زه به هېڅکله له تا نه نه وای وتلی).

د صبر او حلم په ګاڼه سینګار نبي صلی الله علیه وسلم په هغه ورځ هم له الله تعالی څخه خوښ او راضي و، چې طایف ته د توحید د دعوت په موخه لاړ، خو له بده مرغه چې د هغوی له لورې یې ډېر ناوړه او سپک هرکلی وشو، په کاڼو یې وویشت ، تر دې چې پښې مبارکې یې له وینو ډنډ شوې.

په احد کې یې سر مبارک ټپي شو، غاښونه یې مات او شهیدان شو، ګران تره حمزه رضی الله عنه یې شهید شو، نږدې ملګري ترې جلا او شهیدان شول، لښکر یې کمزوری شو، بیا هم د کایناتو خالق ته ودرېد

او مجاهدینو ته یې وویل په ماپسې لیکه شئ، چې د خپل رب لوییې او ثنا ووایو.

همدا لامل و، چې په هر وطن، هر ځای او هره زمانه کې یې له الله تعالی څخه خپله رضا ښکاره کوله.

الله تعالی هم په قران کې زیری ورکړ.

(وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَىٰ). (سورة : الضحی: ۵ ایات).

(او رب به دې دومره څه ) درکړي، چې ته (په دنیا کې په تصرف او په اخرت کې د شفاعت په مقام)، خوښ شې).

**زه د مصر پاچا یم !**

(أَلَيْسَ لِي مُلْكُ مِصْرَ وَهَٰذِهِ الْأَنْهَارُ تَجْرِي مِن تَحْتِي أَفَلَا تُبْصِرُونَ ) (سورة الزخرف: ۵۱ ایات).

(ایا د مصر پاچاهي او دا نهرونه چې له مانه لاندې بهېږي ، زما نه دي، ولې تاسې نه وینئ؟).

ډېر ځلې داسې شوي، ځینې انسانان د کبر او ځان منی بلا داړلي او ښکار کړي، ځوک چې پر دنیاوي ژوند ډېر زړه نه تړي، داسې نه وایي چې زه د دې ښار واکمن یم او د دې چارو اختیار زما په لاس کې دی.

موسی علیه السلام د نبوت له ستر نعمت نه برخمن و؛ خو کله یې هم د لویۍ خبره نه ده کړې؛ بلکې تل به یې ځان د الله تعالی یو عاجز بنده ښوده؛ خو څوک چې د کبر په دریاب کې لاهو شوي و، هغوی ځان تر ټولو ستر معرفي کاوه، خپل اولس او لاس لاندې حکومتي چارواکي به یې تر خپل رعب او هیبت لاندې راوستل، ویل به یې: تاسې نه ګورئ، ! چې زه د مصر پاچا یم او دا ستر ستر نهرونه زما په حکم بهېږي.

Scanned by CamScanner

د الله تعالی له لوري په زياته شتمنۍ نازول شويو ته، چې د موسی عليه السلام له لوري د زکات اخيستلو استازی ورغی، د دې پر ځای چې د الله تعالی شکر ادا کړي، په مغرورانه لهجه يې وويل (قال انما اوتيته علی علم عندي ).

(دا خو ماته زما د علم له برکته راکړ شوي ده).

اوس؛ نو نه ، هغه د مصر پاچا په نړۍ کې پاتې شو، نه قارون او نه د هغه خزانې.

ګرانه لوستونکيه!

په دې هيله، چې ځان درنه ورک نشي، تل د الله تعالی حمد او پاکي وايه او ځان د الله تعالی پوروړی ګڼه!

**د تاريخ عبرتونه تلپاتې ويي**

کله يو کار په ښکاره ښه نه وي؛ خو پای يې د الله تعالی په حکم سره ډېر ښه وي، ايا د (افک) له پېښې نه يې خبر، چې څومره ناوړه بريښېده؟ خو له دې سره سره هم الله تعالی د دې پېښې په اړه وفرمايل:

(لَا تَحۡسَبُوهُ شَرًّا لَّكُمۖ بَلۡ هُوَ خَيۡرٞ لَّكُمۡۚ).(سورة النور: ١١ايت).

((دغه پېښه د ځان په اړه شر مه ګڼئ، بلکې دا هم ستاسې لپاره خير دی)).

سراقه بن مالک (رضي الله عنه) ته وګوره، هغه مهال چې له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره مخامخ شو، د ورځې په پيل کې يې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د وژلو هوډ کړی و؛ خو د ورځې په پای کې د مؤمنانو په لښکر کې شامل شو!

موږ بايد ټولو كارونو ته د خوش باوري په سترګه وګورو، كه څه هم چې بايد ښكاره ډول پكې د خوش باورى څرک نه تر سترګو كېده او نا اميدي بايد پرېږدو، ايا رسول اللّه صلى اللّه عليه وسلم نه دي فرمايلي چې:

((د كارونو ښو پايلو ته خوش باوره واوسئ، مونده به يې كړئ!)).

اى نا اميده انسانه!د كوټې كړكۍ دې خلاصې كړه او پرېږده ، چې رڼا يې له تورتمونو سره مقابله وكړي، ځكه د كوټې غمجن كونجونه د هيلې رڼا كوونكو څركونو ته لېواله دي!

## فكر وكړه او منندويه اوسه!

كله چې د اللّه تعالى نعمتونه رایاد كړئ، نو سر تر پایه به تاسې د اللّه تعالى نعمتونه سترګو ته ودرېږي.

(وَإِن تَعُدُّوا۟ نِعْمَةَ ٱللَّهِ لَا تُحْصُوهَآ ).(سورة: ابراهيم: ۳۴ايت).

كه تاسې د اللّه تعالى د نعمتونو شمېرل وغواړئ، نو نه يې شئ شمېرلی.

روغ بدن، سو كاله ژوند ، په وطن كې امن، كور او كالي، خوراک او څښاک ، لنډه دا چې ټوله نړۍ درسره شته؛ خو ته پرې نه پوهېږې، ښكلی ژوند لرې، خو پام دې ورته نه دی.

(وَأَسْبَغَ عَلَيْكُمْ نِعَمَهُۥ ظَٰهِرَةً وَبَاطِنَةً).(سورة: لمن: ۲۰ايت).

او خپل ښكاره او پټ نعمتونه يې پر تاسې تمام كړي دي.

ته دوه سترګې، يوه ژبه، دوه شونډې، دوه لاسونه او دوه پښې هم لرې.

(فَبِأَىِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ).(سورة: الرحمن: ۱۳ايت).

تاسې به د خپل رب كوم كوم نعمتونه درواغ وګڼئ!

Scanned by CamScanner

ایا دا کومه ساده خبره ده، ته څنګه کولای شي، له پښو پرته دوه ګامه واخلې او یا پرې ودرېږې.
کله چې غمونه او اندېښنې ستا له سترګو خوب وتښتوي؛ نو څنګه به وکولای شي، چې خوب وکړې!
کله چې خېټه دې د مرضونو او دردونو ذخیره وي، نو څنګه به وکولای شي، چې اوبه او خواړه و څښې او وخورې؟ او څنګه به دې وزنه زړه وشي.
لږ فکر؛ خو وکړه، چې څومره ستر ویاړ دې په برخه شوی، په غوږونو اورې او کوڼ نه یې، سترګې دې کار کوي او ړوند نه یې، بدن دې روغ دی او کنډو پکې نشته ، عقل دې روغ دی او لېونی نه یې؛ نو بې شکه چې څومره ستر ویاړ دې په برخه شوی.
ایا د احد د غره په اندازه سرو زرو په بدل کې به دې یوه سترګه چا ته ورکړې؟ ایا د ثهلان د غره په اندازه سپینو زرو په بدل کې به خپل غوږونه ورکړې؟ ایا د خپلې ژبې په بدل کې به یوه ماڼۍ واخلې؟ ایا د یاقوتو او ملغلرو امیل به د دواړو لاسونو په بدل کې واخلې؟
د سر له ویښتو څخه ان د پښو تر ګوتو پورې د الله تعالی په نعمتونو کې پټ یې؛ خو بیا هم پوهېږې، په غمونو او اندېښنو کې ستړې ژوند تېروې، دا په داسې حال چې په بدن روغ او په خېټه موړ یې، ولې د ورک شي په اړه اندېښمن یې او د موجودو شیانو په اړه شکر نه وباسې؟
پر مالي تاوان خپه یې، حال دا چې نېکمرغي، خیر، ورتیا او داسې نور ټول نعمتونه ستا په واک کې دي؛ خو بیا هم د الله تعالی د نعمتونه په اړه په بې پروایۍ کې پروت یې، فکر وکړه او شکر وباسه.
(وَفِيٓ أَنفُسِكُمۡۚ أَفَلَا تُبۡصِرُونَ).(سورة : الزاريات: ۲۱ايات).
او ستاسې پخپل وجود کې د الله تعالی د عظمت نښې موجودې دي، نو بیا ولې تاسې له عقل نه کار نه اخلئ!؟

د خپل ځان او چاپیریال په اړه فکر وکړه، نو هر څه به درته معلوم شي.

{يَعْرِفُونَ نِعْمَتَ اللَّهِ ثُمَّ يُنْكِرُونَهَا}. (سورة : النحل: ۸۳ایت).

دوی د الله تعالی نعمتونه پېژني؛ بیا هم ورڅخه منکرېږي.

## له خلکو سره ښېګڼه، زړه پراخوي

د خیر ښېګڼې پایله ښه وي، تر ټولو مخکې پخپله احسان کوونکي ته د احسان ګټه رسېږي، د هغه زړه پخپلو اخلاقو او ضمیر ډاډه او مطمئن وي.

زړه یې پراخ او له خوښیو ډک وي، له دې امله کله چې له کوم خپګان او غم سره مخ شي، نو له خلکو سره نېکي وکړه، پر خلکو خپل نیکي وکړه، نو زړه به دې ډاډ او اطمینان ومومي، د چا اړتیا پوره کړه، له مظلوم سره مرسته وکړه، د یو چا ستونزه ، ورې موړ کړه، د ناروغ پوښتنه وکړه، نو خوښي او نېکمرغي به در څخه خپله غېږه راتاوه کړي، نفساني ښېګڼې هغه درمل دي، چې د نېکي، په پلورنځي کې ترلاسه کېږي.

د ښو اخلاقو ورې ترې ته یې موسکا کول جاري صدقه ده، ځکه چې له خپل مسلمان ورور سره په ورین تندي مخ کېدل صدقه ده، له چا سره په خپه او نااميده څېره مخ کېدل یو ډول رواني جنګ دی، چې الله تعالی پرې ښه پوهېږي.

له تندې د مرګ په درشل کې ناست سپي ته د یو غړپ اوبو په ورکولو سره یوه بدلمنه ښځه د جنت مستحقه وګرځېده، ځکه چې الله تعالی غفور او رحیم دی، محسن ذات دی او له احسان کوونکي سره مینه کوي ، غني او حمید ذات دي، له دې امله کوم کسان چې د بدبختی، نارامی او ویرې په لومو کې پراته دي، هغوی دې د ښېګڼو کولو له لارې ځان د کامیابی باغ ته ورسوي، د نورو په خدمت او مرسته کولو د دواړو جهانونو نېکمرغي او خوښي ترلاسه کېږي.

(وَمَا لِاَحَدٍ عِنْدَهٗ مِنْ نِّعْمَةٍ تُجْزٰۤى اِلَّا ابْتِغَآءَ وَجْهِ رَبِّهِ الْاَعْلٰى).(سورة الیل: ۱۹ایات).

د الله په لار کې ورکوي او د سره چا احسان کړې نه وو، چې بدل یې خلاصولو، خو د خپل لویې رب رضامندي یې لټوله.

## شات ترلاسه کړه!

په یو شي کې د نرمۍ شتون د ښکلا سبب ګرځي، همدرانګه د نرمۍ نشتوالی د ښکلانشتوالی دی، په خبرو کې نرمي ، پر مخ موسکا او ښې خبرې کول هغه اوصاف دي، چې د نېکمرغو خلکو او مومنانو په برخه وي.

د دې مثال د شاتو مچۍ ته ورته دی ، چې پاک خوري او پاک ورکوي او کله چې پر ګل کېني، نه یې ماتوي، ځکه چې الله تعالی د نرمۍ په بدل هغه څه ورکوي، چې په سختۍ سره یې نه ورکوي.

نرم خویه خلک پر هر چا ګران وي، خلک یې لېدلو ته لېوال وي، پر سترګو ښه لګېږي، زړه او روح یې په کتو خوښېږي، همدالامل دی، چې ښه خوي، خبرې اترې، معاملې او ناستې پاستې له امله په هر ځای کې خلکو ته محبوب وي.

ملګرتیا جوړول یو داسې فن دی، چې نېکمرغه او ښه خلک پرې ښه پوهېږي، د دا ډول خلکواخلاقي تګلاره د دې ایت مطابق وي.

(اِدْفَعْ بِالَّتِیْ هِیَ اَحْسَنُ السَّیِّئَةَ نَحْنُ اَعْلَمُ بِمَا یَصِفُوْنَ ). (سورة: المؤمون:۹۶ایت).

ته د بدۍ مخنیوی په هغې نېکۍ سره وکړه، چې هغه ډېره ښه وي، ته به وګورې چې له تا سره ، چې د چا دښمني لوېدلې وه، هغه دې لکه صمیمي دوست ګرځېدلی دی.

دغه ډول خلک د عاطفې او ښېنې له لارې کينه او حسد له منځه وړي، د خلکو بدۍ هېروي او نېکۍ يې تل يادې ساتې، بدو خبرو او پسخندونو ته غوږ نه ږدي، چې له امله يې هوسا ژوند کوي او خلک ترې هم په امن او هوساينې ژوند کوي.

(المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده والمؤمن امنه الناس على دمائهم واموالهم).

مسلمان هغه دی چې د ژبې او لاس له ضرر څخه يې نور مسلمعنين خوندي وي، مومن هغه دی، چې خلک يې د خپل ځان او مال ساتونکی وګڼي.

(ان الله امرني ان اصل من قطعني وان اعفو عمن ظلمني وان اعطي من جرمني).

الله تعالى راته امر کړی؛ چې له هغه چا سره ملګرتيا وګړم، چا چې راسره اړيکه پرې کړې، هغه چا ته ښېنه وکړم، ظلم يې راباندې کړی او هغه چا ته ورکړه وکړم، چې زه يې ترې محروم يم.

(وَالْكَٰظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ). (سورة ال عمران: ۱۳۴ايات).

او څوک چې خپله غوسه خوري او خلکو ته ښېنه کوي.

دغو خلکو ته به د سکون او اطمينان شتمني ورپه برخه شي او له الله تعالى سره د اخروي ستر اجرزېرى يوازې د همدوی لپاره دی.

(فِي مَقْعَدِ صِدْقٍ عِندَ مَلِيكٍ مُّقْتَدِرٍ). (سورة القمرر ۵۵ايات).

د رښتيا په ځای کې د ستر پاچا په څنګ کې.

Scanned by CamScanner

## مه خپه کېږه!

مه خپه کېږه! ځکه چې غم او اندېښنه دې تجربه کړل؛ خو څه ګټه يې درته ونه رسوله، په ازموينه کې د زوې پر ناکامېدو دې خپګان وکړ، ايا هغه بريالی شو؟

د پلار پر مرګ دې خپګان وکړ، ايا هغه را ژوندی شو.! که د تجاوت پر تاوان دې خپګان وکړ، ايا دا خپګان به دې تاوان په ګټه بدل کړي؟ يا څه ګټه به درته وکړي؟

مه خپه کېږه! ځکه پر يوه مصيبت به خپه شي؛ خو د مصيبتونو نور ډېرې به درته جوړ شي، پر غريبی خپه شوې، لوږې په سر واخيستې، د دښمن پر خبرو دې چورت خراب کړ، نو هغه دې پخپله موخه بريالی کړ، يو افت ته اندېښمن وې؛ نو هغه له سره رانغي.

مه خپه کېږه! ځکه له خپګان سره به غټ کور، ښايسته ښځه ، مال او دولت، جاه او منصب او اولادونه درته هېڅ ګټه ونه رسولي.

مه خپه کېږه! ځکه چې خفګان به درته يخې اوبه په تروو اوبو، د ګلاب اوبه په زهرو او باغ به درته په دښته بدل کړي او ژوند به درته زندان وګرځوي.

مه خپه کېږه! ځکه چې تـه دوه سترګې، دوه غوږونـه،و دوه شـونډې، دوه پښې او دوه لاسونه لرې، په بدن روغ او د امن ژوند تېروي، بيا نو:

(فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ) .(سورة: الرحمن: ۱۳ايت).

(تاسې به د خپل رب کوم کوم انعامونه درواغ وګڼئ؟)

مه خپه کېږه! ځکه چې په خپل دين عقيده لرې، د اوسېدو لپاره کور لرې، د خوراک او څښاک شيان او جامه لـري، د ملګرتيـا او ارام لپـاره ښـکلي ښځه لري، نو بيا ولي خپه يې؟

## خپل تاریخ پخپله ولیکه

سخته ګرمي وه او په حرم شریف کې د ماسپښین د لمانځه په انتظار ناست وم، چې یو سپین ږیری سړی را ولاړ شو او خلکو ته یې د زمزم د اوبو په ورکولو پیل وکړ، یوه ته د اوبو ګلاس ورکړه او بل ته یې ورکړه ... تر دې چې ډېر خلک یې خړوب کړل، خوله یې پر تندي را روانه وه، خلک په انتظار کې و،چې خامخا باید د دغه بوډا سړي له لاسس نه اوبه وڅښي او هغه هم د تبسم په بدرګه خپل دغه خیریه عمل ته دوام ورکړ، ما د هغه صبر او له نېکۍ سره د بې کچې مینې په اړه ډېر زیات تعجب وکړ او و پوهېدم چې خیر رسونه اسانه کار دی؛ خو الله تعالی یې چا ته اسانه کړي.وګوره هلته اوبوبکرصدیق رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حمایت او ساتنې په خاطر خپل ځان د بلا په خوله کې ورکړ. پیاوړی قومندان ابوعبیده بن الجراح رضی الله عنه د مسلمانانو د لښکر د راخت ا وسو کالي په خاطر پخپله پیره کوي او شپه په ویښه تېروي...د عدالت ستر علمبردار عمر فاروق رضي الله عنه د رعیت د ښې او بدې د معلومولو په پار د مدینې په کوڅو کې ګرځي او حال دا چې ټول خلک ویده پراته دي. د اسلام د ستر پیغمبر صلی الله علیه وسلم مېن ، ابوطلحه رضي الله عنه د احد په پېښه کې خپل ځان د غشو د تورو او برچو په خوله کې ورکوي ، چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم محفوظ او خوندي پاتې شي. عبدالله بن مبارک رحمه الله پخپله روژه دی او نورو ته روژه ماتی ورکوي، یو شاعر وایي:(دساې وکړي د اسمان د ستورو په څېر په ځلانده او د سباوون په څېر رانه او روښانه دي). الله تعالی فرمایي: (وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَىٰ حُبِّهِ مِسْكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا).(سورة الدهر: ۸ایت).ژباړه: (او د الله په مینه کې مسکین او یتیم ا وبندي ته خواړه ورکوي).

## د خلکو له ویناوو به څنګه ځان خلاصوې؟

ناپوهه خلک الله تعالی ته کنځل کوي ، نو ما او تا به ترې څنګه خوندي شو؟ له دې امله ته به په ژوند کې له ډېرو ناوړه خبرو ، جګړو او شخړو سره مخ کېږې او دا ټول د ناوړه خلکو له لاسه، هغوی به ستا سپکاوی کوي او تل به ترې داسې ویناوې اورې، چې ته به حیران یې چې له دوی نه کوم خوا وتښتم، ایا په ځمکه ننوځم او که اسمان ته وخېژم او بیا په داسې حال کې چې ته د دوی ترمنځ په ښه نوم یادېږې یا څه لوړ مقام لرونکی یې، نو بیا خو له دوی نه ډېر څه ته تیار شه به ترې واورې، چې د اوښکو پر ځای به وینې توی کړې.

حسـدو الفتـی اذ ینـالو سـعیه
فالنـاس اعـداء لـه و خصـوم

خلک له یوه ځوان سره له دې امله کینه کوي، چې د هغه وړتیا ته ځان رسولای نشي.

هغه څوک چې پر ځمکه ناست وي نه رالوېږي او مړه سپي ته څوک کوړې نه وایې،دوی تا ته ځکه غصه دي، چې په وړتیا ، علم، ادب او مال دولت کې تا ته نشي رسېدای همدا لامل دی، چې ته د دوی په اند ګناهګار یې نه دې د توبې قبلېدو وړ بولي او نه دې سم یادول مناسب ګڼي، تر دې چې د الله تعالی نعمتونه دې ټول له لاسه نه وي ورکړي او د ستاینې له ټولو صفتونو نه خالي شوی نه یې، یو غبي او ناپوهه درڅخه جوړ شوی نه وې، له دې امله د خلکو د ویناوو په مقابل کې د تېږې، په کلک شه پروار پرې مه کوه او مه پرې غمجن کېږه، بلکې د دوی ویناوې د ځان لپاره فضیلت وګڼه، له دوی څخه مخ واړوه احسان ورسره وکړه، که له تاسره یې کینه پرېښوده، نو د ځان ګټه یې ده او که نه، نو پر خپل حال یې پرېږده، چې سوځي، د وی کینه او

نیوکې تا ته زیان نشي رسولای، بلکې دا هر څه یې ستا د لوړ شان ترجماني کوي.

ته د دوی خولې نشي تړلای او نه یې په ښو خبرو راوستلای شې؛ هو! ته کولای شي چې د دوی نیوکې پخپل زړه کې وساتې او عکس العمل پرې ونه ښيې، د وی پر ویناوو پروا ونه کړې، ستا لپاره تر دې پرته بله ښه لار نشته او الله تعالی هم دې ته اشاره کړې ، لکه چې فرمايي.

(قُلْ مُوتُوا بِغَيْظِكُمْ).(سورة ال عمران: ۱۱۹ایات)

ورته ووایه پخپله غصه مړه شئ.

که ته غواړې، چې د ټولو خلکو په زړونو کې ځای ولري؛ نو دا خو ته د یوه محال (ناشون) کار په هیله یې چې هېڅ کېدای نشي، د دې داسې مثال دی

• لکه ته چې غواړې اسمان ته وخېژې، ایا دا کار کېدای شي؟

## له بل سره نېکي

د نېکیو ګټه تر ټولو لومړی خپله کوونکي ته رسېږي، د ونې لومړنۍ مېوه د ونې کرونکیی راټولوی، نېکي کوونکي لومړی په خپل نفس کې په زړه پورې صفتونه او ښکلي اخلاق مومي او په زړه کې یې خوښي راپیدا کېږي، ارامي مومي او د زړه غم یې له منځه ځي.

کله چې یو مصیبت درپېښ شي له بل سره نېکي وکړه، ستا مصیبت به له منځه لاړ شي، یو غمجن سره د غم پر مهال مرسته وکړه، له غمونو به خوندي شي، د یوه دردمند د درد لپاره مرهم شه، یو بې وزله او محروم ته د هغه د اړتیا سره سم یو څه ورکړه، د مظلوم مرسته وکړه، وږي ته خواړه ورکړه، د ناروغ پوښتنه وکړه، خپلې مخې ته به ښکاره نېکمرغي وګورې.

د نېکۍ کارونه د مشکو مثال لري، چې له خپل خاوند پرته پلورونکي او پیرودونکي ته هم ګټه رسوي، د نېکیو بازارونه له برکتونو ډک دي، چې زړونه له احسان ، نېکۍ او ښو ځوي،نو څخه ډکوي.

د خندا په ډکه خوله له بې وزلو سره مخ کېدل صدقه جاریه ده، نبي علیه السلام فرمایي:

(ان تلقی اخاک بوجه طلق).

له خپل مسلمان ورور سره ستا په پراخه تنده او خوښۍ سره مخ کېدل، صدقه جاریه ده.

او په تریو تندي له یو چا سره مخ کېدل له هغه سره د جنګ اعلان دی، چې په نښته یې رب العلمین خبر دی او ډېره نږدې ده، چې دغه نښته رامنځته شي.

یوه داړونکي سپي ته یو ګوټ اوبه ورکول د هغه جنت لامل دی، چې پلنوالی یې د اسمانونو او ځمکې په اندازه دی، څکه د بدلې ورکولو والا ذات اللّٰه رب

العلمین دی، چې ډېر ښــونکی دی، جمیـل دی، جـمال خوښـوي، غنـي او ستایلی شوی دی.

ای له بدمرغۍ څخه وېرېدونکیو!

د نېکیو باغ ته راشئ او د نورو د حقونو په ادا کولو ځان بوخت کړئ، دوی ته له خپلې سخا نـه ورکـړه وکـړئ، مېلمستیا یـې وکـړئ، مرسـته ورسره وکـړئ، خدمت یې وکړئ، په دې سره به هرو مرو تاسې ته نېکرغي ترلاسه کېږي.

(وَمَا لِأَحَدٍ عِندَهُ مِن نِّعْمَةٍ تُجْزَىٰ إِلَّا ابْتِغَاءَ وَجْهِ رَبِّهِ الْأَعْلَىٰ) .(سورة: الیل : ۱۹او ۲۰ ایتونه).

پر هغه باندې د هېڅا احسان نشته، هغه ته د هغ دبدل په ورکـړه کـې هغـه خو ي،اځې د خپل لوړ رب د خوښۍ لټونې لپاره دا کار کوي، اورمرو به هغـه ترېنه خوشحاله شي..

## په سختۍ پسې اساني راځي

ای انسانه! له لوږې او تندې وروسته مړښت، له شوګیر وروسـته خـوب او لـه نـاروغۍ وروسـته روغتیـا شـته، کېـدای شي، ډېـر ژر مسـافر پـه کـرو شي. ستونزې ختمې او تیارې له منځه لاړې شي.

(فَعَسَى اللَّهُ أَن يَأْتِيَ بِالْفَتْحِ أَوْ أَمْرٍ مِّنْ عِندِهِ).(سورة المائد: ۵۲ ایت).

خو لرې نه ده، چې کله الله تعالی تاسې ته غوڅ بری در په برخه کړي.

شپې ته د سپین سبا او غمجن ته د خوښۍ زېري شته ، کلـه چـې پـه سـفر کې ستا مخې ته یوه اوږده دښته راشي، که ته پر مـخ روان یـې او همـت ونـه بایلې؛ نو په دې باور وکړه، چې په دې پسې به وروسته یو په زړه پـورې شـین چمن ستا مخې ته راځي او که ته هر څومره لوړ او پیاوړی غر ووینـې؛ نـو پـه دې هم باور وکړه، چې نږدې ده د انسان په همت سره به دا هم ټوټې ټوټې شي او مخه به یې خلاصه شي.

په اوښکو سره خندا شته ، له ويرې سره امنيت شته او له نا کرارۍ سره کراري او ارام شته، اور ابراهيم عليه السلام ځکه ونه سېزه ، چې د توحيد د عقيدي له امله درباني پاملرنې لاندې و او موسى عليه السلام د سيند له ډوبوونکيو څپو څخه د خپل هغه غبنتلي پاخه اواز له امله خوندي شو، چې د ورګډېدو پر مهال يې پورته کړ.

هېڅکه هم له زيان سره نشم مخ کېداى ، بې شکه له ماسره مې خپل ربه ملګرى دى، هغه به مې خپلې موخې ته رسوي.

نبي عليه السلام د خپل دښمن له ضرر څخه په غار سمڅه کې په همدغه وينا خوندي شوى و، چې خپل رېښتيني ملګري ابوبکر صديق ته يې ډاډ ورکاوه او ويې ويل.

(اِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا ).(سورة التوبه: ۴۰ايت).

الله له موږ سره دى.

څوک چې په خپل ژوند کې له کومې ستونزې سره مخ کېږي، له همدې امله چې خپل رب له خپل ځان سره نه بولي او نه ورته ځان ورسپاري؛ نو ته خپله سينه مه تنګوه، له اللّٰه تعالى نه مرسته غواړه او داسې فکر مه کوه، چې ګوندې هغه حالت چې ورسره مخ يې تل به وي، تر ټولو غوره عبادت دا دى، چې له اللّٰه تعالى نه دستونزو د حل په هيله کې ژوند کوې، ورځې اوړې راووړي. زمانه بدلېږي، شيې تېرېدونکي دي او غيب زما او ستا له حواسو څخه پټ دى، اللّٰه تعالى هره ورځ ځانګړې پرېکړې رالېږي، له اللّٰه تعالى نه هيله ده، چې ستا په اړه تر دې غوره پرېکړه راولېږي.

(فَاِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ).(سورة الانشراح ۵ايات).

بې شکه په هرې سختۍ پسې اسانتيا شته.

**ښکلې مینه** !

ابو هريرة رضی اللّه عنه حديث راوړي دی، رسول اللّه صلی اللّه عليه وسلم د يو کس په اړه ويلي ، چې دوست يې په يو بل کلي کې استوګنه کوله، يوه ورځ د خپل دوست کتو ته روان شو، اللّه تعالی يوه پرښتنه وګومارله، چې ده ته به لار کې کېنې ، سړي چې د خپل دوست د ليدو د لارې هغه ځای ته راورسيد، چې پرښتنه پکې ناسته وه، پرښتې ترې وپوښتل: چېرته ځې؟

سړي وويل: په دغه وړاندې کلي کې مې يو مسلمان دوست دی، د هغه څنګ ته ورځم.

پرښتې ورته وويل: څه حق دې دی پرې، چې ورځې؟

ده وويل: نه ! يوازې د اللّه تعالی د رضا په پار ورسره مينه لرم.

پرښتې ورته وويل: زه تا ته د اللّه تعالی له لورې استازی را استول شوی يم، (زېرې درکوم)چې اللّه تعالی له تاسره داسې مينه کوي، لکه ته د اللّه تعالی د رضا لپاره له دغه کس سره مينه کوې.

**د اونۍ په دوو ورځو کې د جنت دروازې پرانیستل کېږي!**

ګرانو ورونو او خويندو!

تاسې پوهېږئ، چې ستاسې مقام ډېر لوړ دی، هو؛ په اسلامي فطرت پېدا شوي يې او له زړګي مو ايماني پلوشې پر بدن راخورېږي.

همدې مقام ته په پام د زړه مانۍ د دښمنۍ ، کينې، کرکې او ناپوهۍ په بلاګونو ورانه او ويجاړه نه کړئ.

اسلام هم سپارښتنه کوي، چې پخپلو کې مينه وکړئ، يو بل ته سره له تېروتنو تير شئ، د ښښنې او معافۍ کولتور دود کړئ، ورونه شئ، کينه مه کوئ، يو د بل عيبونه مه راسپړئ، يو بل ته شامه اړوئ،(مرورېږئ مه) د يو بل سپکاوي مه کوئ، بدګوماني مه کوئ.

اړیکې وپالي، پخپلو کې له شرعي چارو پرته اړیکې پرېکول داسې ګناه ده، چې مؤمن د زړونو له تخته غور ځوي.
د الله تعالی له رحمت نه انسان بې برخې کېږي، تر دې چې د جنت دروازه پرې پورې کېږي.
د رحمت پیغمبر محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم فرمایي:(تفتح ابواب الجنة یوم الاثنین ویوم الخمیس، فیغفر لکل عبدلا یشرک بالله شیئا الا رجل کانت بینه وبین احیه شحناء فیقال: انظرو هذین یصطلحا.).
(د هرې دوشنبې او پنجشنبې په ورځ د جنت دروازې پرانیستل کېږي، د الله تعالی هر هغه بنده ته بښنه کېږي، چې له الله تعالی سره یې څه شی شریک کړی نه وي، مګر یوازې هغه کس ته بښنه نه کېږي، چې د ده او د ده د مسلمان ورور ترمنځ یې شحناء (شخړه ) وي، بیا وویلای شي، دوی دواړو ته، تر هغې وخت ورکړئ، چې پخپلو منځونو کې سره جوړ شي.).

**نرم خویې اختیار کړئ!**

امام بخاري رحمه الله د ابو موسی اشعري رضی الله عنه په روایت حدیث نقل کړی دی.
رسول الله صلی علیه وسلم ویلي دي: (علی کل مسلم صدقة).
(پر هر مسلمان صدقه لازمه ده).
(فقالوا: یا نبي الله ، فمن لم یجد؟ قال: یعمل بیده فینفع نفسه ویتصدق قالوا: فان لم یجد؟ قال: یعین ذا الحاجة اللهوف قالو لم یجد؟ قال: فلیعمل بالمعروف، ولیمسک عن الشر، فانها له صدقه).
(صحابه کرامو وویل: ای د الله تعالی رسوله! صلی الله وسلم که د صدقې لپاره څه ونه مومي؟).
رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: په خپلو لاسونو دې کسب او کار وکړي، خپل ځانته دې ګټه ورسوي او صدقه دې ترې هم ورکړي.

صحابه کرامو وویل: که د کمزورتیا یا کسالت له امله دا کار هم ونه کړي؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: له مظلوم ، اړمن او حاجتمند سره دې مرسته وکړي.

صحابه کرامو وویل : که دا کار هم ونه کړي؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: په خیر او نېکۍ دې امر وکړي.

صحابه کرامو وویل: که دا کار هم ونه کړي؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: بیا دې ، نو ځان له شر څخه وساتې، دا هم د ده لپاره صدقه ده.

په پورتني حدیث کې لېدل کېږي، چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه څلور ځلې پوښتنه وشوه، خو هغه مبارک صلی الله علیه وسلم پرې نه په قهر شو او نه یې ورته په کومه سخته خبره ګواښ وکړ.

بلکې په ډېرې نرمۍ یې د هرې پوښتنې ځواب ورکړ، دا یوازې د اخلاقو د لوړي معلم (محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم ) ځانګړنه وه، چې په یوه موضوع کې څلور ځلې پوښتنو ته په ورین او موسکاندو شونډو ځواب وایي.

د اوسني وخت ډېر ښوونکي، له دې ډول اخلاقو نه بې برخې دي، تودې چې ډېر د ښوونځیو او پوهنځیو ښوونکو او استاذانو د زده کوونکو او زده کړیالونو پوښتنو ته ځواب د خپل شخصیت لپاره ګواښ بولي، د زده کوونکو او زده کړیالو پر پوښتنو د دوی احساسات راپارېږي، هغوی تهدیدوي ، احساسات یې وژني، چې په راتلونکي کې پوښتنې کولو ته زړه ښه نه کړي.

که حقیقت ته پاملرنه وشي، د رسول الله صلی الله علیه وسلم دود داسې نه و، هغه مبارک صلی الله علیه وسلم د نبوي مدرسې زده کوونکي او زده کړیال نازول، د هغوی فکریې او علمي ځواک ته یې وده ورکوله، تل به یې هڅه کوله، چې هغوی فکري او علمي ځواک ته یې وده ورکوله، تل به یې هڅه کوله، چې هغوی ځیرک او زړه ور وروزي او د یې موضوع په اړه بشپړ

معلومات ترلاسه کړي، هغه د ښو اخلاقو او نرم خوي په ګانه سينګار ښوونکی و.

تل به يې له زده کوونکيو سره په حليمانه ا و صبر ناکه لهجه خبرې کولې او د هغوی پوښتنې به يې په نرمۍ سره ځو ځله ځوابولې.

همدا لامل و، چې د ټولنې د هر پاټکي خلکو داسې احساس کاوه، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم يوازې له همدا مور سره د مينې تړون کړی او يوازې زمور ځانګړې او قدرمن دوست دی.

**د خلکو په خوشالۍ او خفګان کې ګډون وکړه!**

ګرانه وروره او خورې!

د اسلامي تهذيب غوښتنه له تا ښاغلي او له تا آغلي دا ده، په ځان کې د مينې، خواخوږۍ او عاطفې، ځواک کارنده او پياوړې کړه.

مؤمنان پخپلو کې د مينې او عاطفي له مخې د يو بدن په څېر دي، کله چې په بدن کې يوه سترګه خوږمنه وي، د بدن ټول غړي ورسره دردمن وي.همدې عاطفي تړون ته په پام هڅه وکړه، د نورو په خوښيو کې ګډون وکړې، خوښې يې ونمانځه او کله چې ستاسې نور خپلوان، دوستان او په ټوليز ډول مسلمعنين په غمونو او خفګانونو کې اخته وي، لومړی هڅه وکړه، چې له هغوی سره غمرازي وکړې، ډاډ ورکړه، چې د غمونو له سمندر نه ځو وشپېږې رابهر شي او که دا نه شي کولای ، بيا نو د هغوی پر حال او کړاو خوښي مه ښکاره کوه، هسې نه چې الله تعالی هغوی ته له غمونو څخه نجات ورکړي او تا پرې اخته کړي.

د رحمت نبي صلی الله عليه وسلم هم په دې اړه داسې سپارښتنه کوي:

Scanned by CamScanner

(لا تظهر الشماتة لا خيل فيرحمة اللّٰه ويبتليک).

(د مسلمان ورور په مصيبت خوښي مه کوه، اللّٰه تعالی به پر هغه رحم وکړي او تا به پرې اخته کړي.).

## مور او پلار

له مور او پلار سره ښه رویه کوئ او دا ښه رویه کول د دواړو جهانو بریالیتونو او سعادت وګڼئ، له اللّٰه تعالی وروسته پر انسان تر ټولو زیات حق د مور او پلار دی، مور او پلار د حق اهمیت او عظمت له دې اندازه کړئ. چې قران مجید د مور او پلار حق ځای په ځای د اللّٰه تعالی له حق سره بیان کړی دی او د اللّٰه تعالی له شکر ګذارۍ سره يې د مور او پلار پر شکر ګذارۍ تاکید کړې دی.

وقضی ربک الآ تعبدو الآ اياهُ وبوالالدين احسانا(او ستا رب پريکړه کړې ده، چې ته له اللّٰه جل جلاله پرته د بل بنده ګۍ مه کوه او له مور او پلار سره ښه رويه کوه).

حضرت عبدالله بن مسعود رضی اللّٰه عنه فرمايي ما له حضرت محمد صلی اللّٰه عليه وسلم نه پوښتنه وکړه، کوم ډول عمل اللّٰه جل جلاله ته ډېر ګران (محبوب) دی؟ رسول اکرم صلی اللّٰه عليه وسلم وفرمايل: هغه لمونځ، چې عمل اللّٰه تعالی ته تر نورو ډېر محبوب دی، وې فرمايل : مور او پلار سره ښه رويه ، ما پوښتنه وکړه، له دې نه وروسته وې فرمايل: د اللّٰه تعالی په لار کې جهاد کول(صحيح بخاري، صحيح مسلم).

حضرت عبدالله رضی اللّٰه عنه فرمايي: چې يو سړی د نبي عليه السلام په خدمت کې حاضر شو او و ويل: زه ستاسې په لار د هجرت او جهاد لپاره بيعت کوم او له اللّٰه يې اجر غواړم، نبي صلی اللّٰه عليه وسلم ترې پوښتنه وکړه، آيا ستا له مور او پلار نه څوک ژوندي دي؟ هغه وويل هو! بلکې د اللّٰه

Scanned by CamScanner

تعالی شکر دی دواړه ژوندي دي، هغه ورته وفرمایل: ایا ته واقعاً له الله تعالی د خپل هجرت او جهاد بدله غواړې؟ هغه وویل هو! (زه له الله تعالی اجر غواړم) نبي صلی الله علیه وسلم ورته لارښوونه وکړه، نو لاړ شه د خپل مور او پلار په خدمت کې اوسه او له هغوی سره ښه چلن کوه. (صحیح مسلم).

حضرت ابو مامه فرمایي یو سړي له نبي صلی الله علیه وسلم پوښتنه وکړه؟ یا رسولو الله علیه وسلم مور او پلار پر اولاد څه حق دی؟ لارښوونه یې وکړه، مور او پلار ستا لپاره جنت دی او هم مور او پلار ستا لپاره دوزخ دی(جامع ابن ماجه).

یعنې که له هغې سره ښه رویه وکړې، نو د جنت مستحق به شې او که هغوی حقوق د پښو لاندې کړې؛ نو د جهنم خس به شې.

**سلام**

کله چې د کوم مسلمان ورور سره مخامخ شي، نو د هغه سره د خپلو اړیکو د ښکاره کولو او د هغه په لېدو د خوشحالۍ له امله السلام علیکم وایاست په قران مجید کې دي:

(وَإِذَا جَآءَكَ ٱلَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِـَٔايَٰتِنَا فَقُلْ سَلَٰمٌ عَلَيْكُمْ).(سورة الانعام: ۵۴ ایات).

(ای نبي! صلی الله علیه وسلم چې کله تا ته هغه خلک راشي، چې زموږ پر آیتونو ایمان لرئ؛ نو هغوی ته السلام علیکم ووایه).

په دې ایت کې نبي صلی الله علیه وسلم ته په وینا کې په غیر مستقیم ډول امت ته دا زده کړل شوي، چې مسلمان کله هم له مسلمان سره مخامخ شي؛ نو دواړه دي د خوښۍ د ولولو ښکارونه وکړي او غوره لاره یې دا ده، چې یو دبل لپاره د سلامتی او عافیت دعا وکړي، یو السلام علیکم و وایئ؛

نو دويم دي په خوب کې وعليکم السلام ووايي، دا الفاظ د خپلمنځي مينې او محبت د زياتوالي او قايمولو وسيله ده.

د پيغمبر اکرم صلی الله عليه وسلم لاربښوونه ده: تاسې خلک جنت ته نشې تللای تر څو، چې مؤمنان نه شئ او تاسې مؤمنا کېدای نه شي، تر څو چې يو د بل سره مينه ونه کړي، زه تاسې ته هغه لارې چارې ولوي ونه ښايم، د کومو په غوره کولو چې به تاسې پخپلو منځو کې يو بل سره محبت کوئ، پخپلو منځو کې سلام خپور کړئ. (مشکوة).

## د بندګۍ احساس

د نبي اکرم صلی الله عليه وسلم لاربښوونه ده، چې الله تعالی فرمايي: زما بنده ګانو! له تاسې نه هر يو بې لارې دی، پرته له هغوی چې چا ته زه لاربښوونه وکړم، نو تاسې زما نه هدايت وغواړئ، چې زه درته هدايت وکړم، زما بنده ګانو! له تاسې هر يو وږی دی، پرته له هغوی چې زه يې پړې وخورم، نو تاسې زما نه روزي وغواړئ، چې زه تاسې ته روزي درکړم، زما بنده ګانو!له تاسې هر يو لوڅ دی، پرته له هغوی چې زه يې ورته واغوندم، نو تاسې زما نه جامې وغواړئ، چې زه يې درواغوندم، زما بنده ګانو! تاسې په شپه کې هم ګناه کوئ او د ورځې هم او زه ټول ګناهونه بخښلای شم، نو تاسې زمانه بخښنه وغواړئ، چې زه ستاسې ګناه وبخښم.

## د اسلام سپيڅلي دين انسان ته ستر امتيازونه ورکړي دي

۱. الله تعالی انسان ته پر ځمکه خپل خليفه ويلی دی.

(وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّى جَاعِلٌ فِى ٱلْأَرْضِ خَلِيفَةً) (سورة البقرة : ۳۰ ايت).

ژباړه: او هغه زمانه ياده کړه، چې ستا پروردګار پرېښتو ته وويل: په يقين سره ، چې زه په ځمکه کې يو ځای ناستی ټاکم.

(يٰدَاوٗدُ اِنَّا جَعَلۡنٰكَ خَلِيۡفَةً فِي الۡاَرۡضِ فَاحۡكُمۡ بَيۡنَ النَّاسِ بِالۡحَقِّ وَلَا تَتَّبِعِ الۡهَوٰى فَيُضِلَّكَ عَنۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ اِنَّ الَّذِيۡنَ يَضِلُّوۡنَ عَنۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ لَهُمۡ عَذَابٌ شَدِيۡدٌۢ بِمَا نَسُوۡا يَوۡمَ الۡحِسَابِ)(سورة : ص: ۲٦ ایت).

ژباړه: داوده!ته مو په ځمکه کې ځای ناستی ټاکلی یې، نو ود خلکو په منځ کې په حق قضاوت کوه او د نفس له هوا څخه پیروي مه کوه، چې تا د اللّه له لارې منحرفوي، بي له شکه هغه کسان ، چې د اللّه تعالی له لارې منحرفېږي، د دې لپاره ،چې د حساب ورځ یې هیره کړې، سخت عذاب لري.

(وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا مِنۡكُمۡ وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَيَسۡتَخۡلِفَنَّهُمۡ فِي الۡاَرۡضِ كَمَا اسۡتَخۡلَفَ الَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِهِمۡ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمۡ دِيۡنَهُمُ الَّذِي ارۡتَضٰى لَهُمۡ وَلَيُبَدِّلَنَّهُمۡ مِّنۡۢ بَعۡدِ خَوۡفِهِمۡ اَمۡنًا يَعۡبُدُوۡنَنِيۡ لَا يُشۡرِكُوۡنَ بِيۡ شَيۡـًٔا وَمَنۡ كَفَرَ بَعۡدَ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الۡفٰسِقُوۡنَ)(سورة: النور: ٥٥ ایت).

ژباړه: اللّه ستاسو هغو ته چې ایمان یې راوړی او ښه کارونه یې کړي دي، وعده ورکړې ده، حتماً به دوی پر ځمکه د نورو ځای ناستي کړي، په همغه ډول چې پخواني یې د نورو ځای ناستي کړل او په قطعي ډول یې د دوی لپاره د دوی دین خوښ کړی دی، چې د دوی په ګټه یې استوار او محکم کړي او په یقین سره د دوی وېره او وارخطایي په امنیت بدلوي، تر هغه که تر دې ټولو نعمتونو وروسته ناشکري وکړي په حقیقت کې دوی فاسقان دي.

## ۲. انسان ته د کرامت تاج ور په سر شوی دی

(وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيٓ آدَمَ وَحَمَلْنٰهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنٰهُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ وَفَضَّلْنٰهُمْ عَلٰى كَثِيْرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيْلًا )(سورة : بنی اسرائیل : ۷۰ ایات).

ژباړه: په یقین سره چې د ادم اولادونو ته مې کرامت ورکړ او په ځمکه او سیندونو مې (پر هغو سورلیو، چې دوی ته مې ورکړې)، سواره کړل او دوی ته مې له پاکو نعمتونو څخه روزي وبښه او دوی ته مې پر نورو مخلوقاتو کامله برتري ورکړه.

## ۳. انسان په بهترین نظم، اعتدال او ارزښت جوړ شوی دی

(خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ فِيْٓ اَحْسَنِ تَقْوِيْمٍ )(سورة : التین: ۴ ایت ).

ژباړه : په تحقیق سره انسان مو په بهترین نظم او اعتدال او ارزښت پیدا کړ.

## ۴. الله تعالی په انسان کې خپل روح اچولی دی

(اِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلٰٓئِكَةِ اِنِّيْ خَالِقٌۢ بَشَرًا مِّنْ طِيْنٍ) (سورة: ص: ۷۱ ایت).

ژباړه: یاد کړه چې کله ستا پروردګار پرښتو ته وویل: زه له خاورو څخه یو بشر جوړوم.

(فَاِذَا سَوَّيْتُهٗ وَنَفَخْتُ فِيْهِ مِنْ رُّوْحِيْ فَقَعُوْا لَهٗ سٰجِدِيْنَ)(سورة: ص: ۷۲ ایت).

ژباړه: نو کله، چې مې ورته اندامونه جوړ او سم کړل او وله خپل روح څخه مې پکې یو کړ، ملایکو ته مې وویل چې هغه ته سجده وکړئ .

Scanned by CamScanner

**۵. د يو انسان ژوند د ټولو انسانانو ژوند او مرګ يې د ټولو انسانانو له مرګ سره مساوي ګڼل شوی دی.**

(مَنْ قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعًا )(سورة : المائده: ۳۲ ايت).

ژباړه: هر هغه څوک، چې انسان بې له قصاصه يا پرته له دې، چې پر ځمکه يې فساد کړی وي، مړ کړي، داسې ده لکه ټول انسانان يې، چې وژلي وي او هر څوک چې يو انسان له مرګه وساتي او ژوند ور وربښي، داسې ده لکه ټولو انسانو ژوند چې يې ژغورلی وي.

په حديث شريف کې راغلي، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:
(لزوال الدنيا اهون عند الله من قتل رجل مسلم (سنن النسائي)).

ژباړه: د دنيا له منځه تګ، د الله تعالی په نزد، د مسلمان سړي له وژلو اسانه چاره ده.

**۶. انسان ته د علم برتري ورکړل شوې ده**

(وَعَلَّمَ آدَمَ الْأَسْمَاءَ كُلَّهَا)(سورة : البقرة : ۳۱ ايت).

ژباړه: او الله تعالی ادم عليه السلام ته ټول نومونه (د موجوداتو د هويت او ذات حقايق)، ورزده کړل.

**۷. پرښتو ته امر شوی دی، چې ادم عليه السلام ته سجده وکړي:**

(وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا) (سورة : طه: ۱۱۶ ايت ).

ژباړه: او ياد کړه چې کله مو پرښتو ته وويل: ادم ته سجده وکړئ ټولو سجده وکړه.

**۸.انسان ته د دنیا بې شمېره نعمتونه ورکړل شوي دي:**

(وَاٰتٰىكُمْ مِّنْ كُلِّ مَا سَاَلْتُمُوْهُ ۚ وَاِنْ تَعُدُّوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ لَا تُحْصُوْهَا)(سورة : ابراهیم: ۳۴ ایت).

ژباړه: او تاسو، چې هر شی(د خپلو اړتیاوو له مخې)، له هغه اللّه تعالی څخه غوښتل ، تاسو ته یې درکړل او که تاسو د اللّه تعالی نعمتونه وشمېرئ. هېڅکله نه شئ کولای هغه وشمېرهٔئ.

**۹. له انسان سره د جنت د بې شمېره نعمتونو وعدې شوې دي:**

(وَاُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِيْنَ )(سورة: الشعراء: ۹۰ایت).

ژباړه: او په هغې ورځ به پرهیزګارانو ته جنت نږدې راوړي.

(وَسَارِعُوْٓا اِلٰى مَغْفِرَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ اُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِيْنَ)(سورة : ال عمران : ۱۳۳ ایت).

ژباړه: او د خپل پروردګار د بښنې او هغه جنت پر لور بیړه وکړئ، چې پراخوالی یې د ځمکې او اسمانونو په کچه دی او د پرهیزګارانو لپاره تیار شوی دی.

Scanned by CamScanner

**۱۰. انسان ته ورځ، شپه، لمر، سپوږمۍ او په ځمکه او اسمان کې هر څه مسخر شوي دي:**

﴿وَسَخَّرَ لَكُمُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُوْمُ مُسَخَّرٰتٌ بِاَمْرِهٖ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ﴾سورة : النحل: ۱۲ يات.

ژباړه: او شپه ، روځ ، لمر او مياشت مې هم تاسو ته ته تابع او مسخر کړل او ستوري يې هم په فرمان تابع او مسخر شوي دي، په قطعي ډول په دې (حقايقو) کې هغې ډلې ته د الله تعالى د توحيد، ربوبيت او قدرت نښې دي چې تعقل کوي.

**۱۱. مومن انسان ته قرآن د عالي او لوړ خطاب کړی دی:**

﴿وَلَا تَهِنُوْا وَلَا تَحْزَنُوْا وَاَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ﴾(سورة : ال عمران: ۱۳۹ ايت).

ژباړه: اوسستى مه کوئ او مه خوابدي کېږئ، که تاسو مؤمنان اوسئ، نو عالي او لوړ ياست.

**۱۲. انسان د ټولو مخلوقاتو اشرف ګڼل شوی دی:**

د پورتنيو خواصو او امتيازاتو له مخې او دا، چې حضرت محمد صلى الله عليه وسلم او نورپيغمبران انسانان وو، نو انسان نه يوازې پر ځمکه بلکې په ټولو مخلوقاتو کې اشرف دي.

**د شخصیت منشور**

یوه بانډه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت حاضر شو او عرض یې وکړ، چې زه څه پوښتنه کول غواړم، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل وپوښته ، په دغه وخت کې خالد بن ولید هم ناست و، نو هغوی دا سپېڅلی حدیث ولیکه او له ځانه سره یې کېښووده، چې وروسته بیا دا حدیث په کنزالاعمال مسند احمد کې رانقل شوی دی.

بانډه چې: یا رسول الله صلی الله علیه وسلم زه شتمنېدل غواړم.

رسول الله صلی الله علیه وسلم قناعت اختیار کړ شتمن به شي.

بانډه چې: زه غواړم تر ټولو لوی عالم شم.

رسول الله صلی الله علیه وسلم تقوای اختیار کړه عالم به شي.

بانډه چې: قدرمن کېدل غواړم.

رسول الله صلی الله علیه وسلم له مخلوق نه څه مه غواړه قدرمن به شي.

بانډه چې: غواړم، چې ښه انسان شم.

رسول الله صلی الله علیه وسلم خلکو ته ګټه رسوه.

بانډه چې: مومن جوړیدل غواړم.

رسول الله صلی الله علیه وسلم څه چې د ځان لپاره خوښوې هغه د نورو لپاره هم خوښوه.

بانډه چې: غښتلتیا غواړم.

رسول الله صلی الله علیه وسلم پر الله تعالی توکل کوه.

بانډه چې: د الله تعالی په دربار کې ځانګړې مرتبه غواړم.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله تعالی ذکر ډېر کوه.

بانډه چې: د رزق پراخي غواړم.

رسول الله صلی الله علیه وسلم تل په اوداسه کې اوسه.

بانډه چې : د دعاګانو قبلېدل غواړم.

رسول الله صلی الله علیه وسلم حرام مه خوره.

بانډه چي: د ایمان بشپړتیا غواړم.

رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل اخلاق ښه کړه.

بانډه چي: غواړم ، چې د قیامت په ورځ له ګناهونو پاک الله تعالی ته ودرېږم.

رسول الله صلی الله علیه وسلم په جنابت پسې له واره غسل کوه.

بانډه چي: د قیامت په ورځ په نور (رڼا) کې راپاڅیدل غواړم.

رسول الله صلی الله علیه وسلم : تېری (ظلم) کول پرېږده.

بانډه چي: غواړم، چې الله تعالی پر ما رحم وکړي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله تعالی پر بنده ګانو رحم وکړي.

بانډه چي: غواړم، چې الله تعالی زما عیبونه پټ کړي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د خلکو په عیبونو پرده اچوه.

بانډه چي: له رسوایۍ نه خوندي کېدل غواړم.

رسول الله صلی الله علیه وسلم له زنا نه ځان ساته.

بانډه چي: الله تعالی او د هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته خوښ انسان جوړېدل غواړم.

رسول الله صلی الله علیه وسلم څوک چې د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم خوښ وي له هغوی سره محبت کوه.

بانډه چي: چې د الله تعالی تابعدار کېدل غواړم.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د فرضو اهتمام کوه.

بانډه چي: غواړم چې احسان کوونکی شم.

رسول الله صلی الله علیه وسلم : د الله تعالی عبادت په داسې ډول کوه ګواکې ته الله تعالی وینې او یا هغه تا ویني.

Scanned by CamScanner

بانده چي: يا رسول الله صلی الله عليه وسلم د ګناهونو د بښل کېدو لامل څه شی دی؟

رسول الله صلی الله عليه وسلم : اوښکې ، عاجزي او ناروغي.

بانده چي: څه شی د دوزخ اور سړولای شي؟

رسول الله صلی الله عليه وسلم : پر دنيوي مصيبتونو صبر.

بانده چي: څه شی د الله تعالی غوسه سړوي؟

رسول الله صلی الله عليه وسلم: پټ خيرات او صله رحمي.

بانده چي: تر ټولو لويه بدګڼه څه شی دی؟

رسول الله صلی الله عليه وسلم: بد اخلاقي او بخل.

بانده چي: تر ټولو لويه نېکي څه ده؟

رسول الله صلی الله عليه وسلم : ښه اخلاق ، عاجزي او صبر.

بانده چي: د الله تعالی له غوسې نه خوندي کېدل غواړم.

رسول الله صلی الله عليه وسلم: پر خلکو غوسه کېدل پرېږده. (د حديث پای).

## د شخصيت د پاېښت توکي

په ټولنيز ژوند کې له اداري وګړو او له ټولنې سره زموږ معاملې راڅي او زموږ له کړنو، د خبرو له ډول او زموږ له خوی نه زموږ شخصيت څرګندېږي، نو په دې اړه لاندېنۍ د لاندينيو نکتو په پامنيوی سره د ځان لپاره تګلاه وټاکئ، چې خلک مو ومني او په لږه موده کې خلک پرتاسې تبصرې پيل کړي او ووايې ، چې دا سړی څومره بدل شوی يانې ښه شوی دی.

## شخصیت زیانمنونکي توکي

لاندیني درېیو توکي شخصیت زیانمنوي او انسان له تباهۍ سره مخ کوي:

### ۱. اخلاقي نیمګړتیا

چې په دې برخه کې لاندیني توکي برخوال دي:

۱. تمه ، بخل. ۲. کینه او رقابت. ۳. ځان ښودنه. ۴. مشرۍ غوښتنه. ۵. بې پروايي. ۶. بې وفايي. ۷. کبر، غروراو ځان خوښونه.۸. بدمزاجي او غوسه. ۹. خپل موخې. ۱۰. دروغجنه شیخي. ۱۱. غیبت. ۱۲. شیطانه. ۱۳. زړه تنګي. ۱۴. ډېر ارمانونه.

### ۲. ذهني او بدني نیمګړتیا

په دې برخه کې لاندیني توکي برخوال دي:

۱. فکري ګډوډي.۲. اضطراري حرکات . ۳. بې ځایه وېره. ۴. وهم. ۵. اندېښنه. ٦. قنوطیت. ۷. تندي. ۸.منفي فکر. ۹. د کمترۍ احساس. ۱۰. بې باوري او په کار کې تنګېدل. ۱۱. ناهیلي. ۱۲. بدګوماني. ۱۳. انتهاخوښي او زور زیاتی.۱۴. کمزورې اراده.

### ۳. په معاملاتو کې نیمګړتیا

په دې برخه کې لاندیني توکي برخوال دي:

۱. له خلکو ګیلې کول. ۲. د ډاډ من کولو په ولوله کې نیمګړتیا. ۳. له ډلې جلاخوښي. ۴. بې ګټې خبرې. ۵. داسې توکې. چې د زغملو وړ نه وي.

Scanned by CamScanner

## د ناکامۍ دوه وجوهات

زموږ د نن ورځې شک زموږ د صبا ورځې کاميابي په ناکامۍ بدلولای شي.

دِ ناکامۍ ډېر وجوهات دي، چې دوه مهم يې وجوهات يې په لاندې ډول دي.

۱. **د مستقل مزاجي نيشتوالی**

اکثره خلک له دې وجهې ناکامه کېږي، چې له هغوی سره علم نه وي، بلکې هغه له دې وجهې څخه ناکامه کېدلای شي، چې هغوی مېدان پرېږدي، د کاميابي راز صرف په دوو شيانو کې دی، مستقل مزاجي او مزاحمت، کله هم چې د کوم کار کول وغواړې، له هغه څخه بيا مخ مه اړوئ.

۲. **خود غرضي او لالچ**

کوم خلک چې خود غرضه وي، هغوی هېڅکله دا حق نلري، چې هغوی د ترقي او کاميابي توقع وکړي، ځکه چې د داسې خلک رويه د نورو خلکو د فلاح او بهتري لپاره نه وي، لالچ روح سرطان ده، لالچ تعلقات او خپلولي تباه کوي.

# دویمه برخه

## د بریالیتوب ته د رسېدو لس لارې

۱ . زه ګټونکی یم؛ ځکه چې د موخو د نړۍ پر لور مې ګام اخیستی، لومړی ګام یعنې هوډ.

۲ . زه ګټونکی یم؛ ځکه داسې لوی رب لرم، چې وغواړم، راته راکوي یې.

۳ . زه ګټونکی یم؛ ځکه چې الله پاک مسلمان پیدا کړی یم او مسلمعنین تل بریالي دي.

۴ . زه ګټونکی یم؛ ځکه د ژوند نقشه مې داسې رسم کړې، چې یوازې یو شی غواړم، عملي کول.

۵ . زه ګټونکی یم؛ ځکه چې په لومړي سر کې هر لوی کار ناممکن ښکاري، نو ټوله هڅه کوم، چې ناممکن پر ممکن بدل کړم.

۶ . زه ګټونکی یم؛ ځکه هم ناهیلي پېژنم او هم صبر او حوصله پر دې هم پوه یم، چې صبر او حوصله د ناهیلۍ یوه بېلګه ده، چې انسان کولای شي، په اسانۍ سره یې وزغمي.

۷ . زه ګټونکی یم؛ ځکه چې ژوند ته د یو ښکلي شي په سترګو ګورم، کله چې دې چې ژوند ته ښکلي وکتل، خپله ښکلي کېږي.

۸ . زه ګټونکی یم؛ ځکه چې د ورځې په اوږدو کې یو ساعت د خپل زړه خبرو ته غوږ نیسم.

۹ . زه ګټونکی یم؛ ځکه چې ذهن مې داسې جوړ کړی، چې دوزخ راته جنت جوړ کړي، نه داسې چې جنت پر دوزخ بدل کړي.

۱۰. زه ګټونکی یم؛ ځکه پوهېږم، چې ستونزې هغو لویو کاڼو ته ورته دي، چې ذ اوبو مخه نیسي، که دغه کاڼي نه وای، اوبو به غږ نه درلود.

## منفي لیدونکي یا منفي ګران نه بریالی کېږي

تاسو په ژوند کې ضرور له داسې کسانو سره مخ شوي یاست، چې له ځمکې او اسمان دواړو نه شکایت لري او نا هیلونکي جملې ډېرې تکراروي، دا ډول کسانو ته نړۍ تیاره ښکاري، خپل کسب او کار د نابودۍ په لور ویني، په همدې خاطر نه توانیږي، چې کامیاب طرف(مسیر) وټاکي.
په دې مقاله کې شپږ داسې جملې بیانوو، چې په لوستلو سره به یې تاسو له پورتنیو یادو شوو مواردو سره مخه ښه وکړئ او له حافظو نه به یې پاک کړئ.

۱. **وای... ټولې ورځې مې بربادې شوې!** زړه بوږنونکې خو دا ده، چې په خپله همدغه خبره باندې ټینګ دریږو او ځان ته خپله قناعت ورکوو، چې ورځ مې کړه ده، په اصل کې دا موضوع د چایو د یوې پیالې مثال لري؛ یانې که څو شیبې خپله همدغه خبره هېره کړو، نو د چای غوندې به سړه شي، خو ډېر پرې تمرکز کول مو بیا خپله ورځ په خپله کړوو.

۲. **زه په دغه کار کې ناکام یم!** په واقعیت سره هر څوک چې له کوم شي سره ستونزه ولري، شرایط هم داسې تصور کوي، چې په رښتیا هم ناکام دي، په حقیقت کې ځان ته اجازه نه ورکوي، چې یو ځل یې وازموي کېدای شي، دومره ستونزمنه هم نه وي، لکه تاسو چې انځور کړې، ممکن ځینې کارونه داسې سرته ونه رسي؛ لکه څنګه یې چې غواړئ، مګر دا باید د خپل کار وروستۍ هڅه ونه شمېرئ، کولای شئ، چې یو ګام شا ته شئ، د هغه څه چې ښه نتیجه غواړئ، په دقت یې تر سره کړئ او دوهم ځلې یې امتحان کړئ.

هېڅ‌چا تر اوسه نه دي ويلي: چې، د بريا جاده يو طرفه ده، کېدای شي، هغو کسانو ته هم خپل کار په اسانۍ سر ته نه وي رسولی، چې تاسو يې په اړه فکر کوئ

۳ . **زه همېشه يوه ستونزه لرم!** هېڅوک همېشه په ستونزو کې نه دي پاتې شوي، خو په همدې فکر تر ډېره پاتې کېدل چې زه ستونزه لرم، دغه ټکی پخپله ددې سبب کېږي، چې تاسو محاصره کوي او تاسو مجبوروي، چې يوازې و اوسئ؛ مګر کولای شئ، چې دا حالت تغير کړئ.

۴ . **نا ممکنه ده!** موږ ټولو دا جمله ډېره کارولې ده، چې مګر ډېر کم داسې څه شته چې ناممکن وي، خو ددې پر ځای فکر وکړئ، يو شی نه يوازې ممکن دی، بلکې کېدونکی هم دی. اصلاً ولې د داسې کار اقدام موکړئ، چې له پيل نه يې په ماتيدو محکوموئ. د ذهن په دې ګړوډه تله کې ځان مه غورځوئ، په هر شي پسې يې هڅه ارزښت لري، کېدای شي، پايله يې حيرانونکې او د خوښې وړ وي.

۵ . **زما د کار په قدر نه پوهېږي!** کېدای شي، هغه کار چې تاسو يې کوئ، ستاسو د توقوع خلاف ډېر د قدر دانۍ وړ وي، خو کولای شئ، له يو چا نه د خپل کار په اړه وپوښتئ، هغه تاسو ته خبر کېږي او دا هيله څرګنديږي، چې ستاسو کړنې تقدير کړي.

۶ . **زه همېشه يوازې يم او هېڅوک راسره نشته!** کېدای شي، ځينې وخت همداسې وي؛ مګر همدغه خبره ستاسو د هيلو د پوره کېدو تر منځ خنډ جوړوي. بد فکرونه يوازې موږ له خلکو په تيره زموږ له مرستندويانو لرې ساتي، که تاسو داسې موقعيت غوره کوئ، چې فکر کوئ، اشتباه دې معلومه ده، چې نور خلک يوازې تاسو په منفي کريکټر او موقعيت کې ښه پېژني، بده خو لا دا چې خپل اهميت هم خپله راټيټوئ.

Scanned by CamScanner

ددې پر ځای د داسې لارو په لټه کې واوسئ، چې تاسو هم د ستونزو د حل یوه برخه و اوسئ.حرکت وکړئ، که اړتیا وي، نو مرسته وغواړئ، که نه نو منفي فکرونه مو د لارې په سر په کمین کې دي او په ذهن مو د پاچاهۍ هوډ لري او موږ له خپل هدفه کږوي، غواړي، په موږ په زور ومني، چې د هڅې لپاره هېڅ دلیل نشته دی، ځکه په هر حال کې به ماتې خورو.موږ ټولو داسې احساسات ډېر تجربه کړي؛ مګر هېر مو دي، چې ماتې د بري مهم عنصر دی. موږ ته را زده کوي، چې څه بې ګټې دي او څه بې ګټې نه دي. موږ ته را زده کوي، چې هېڅ ارزښتمن شی په اسانۍ لاس ته نه راځي. تاسو ددې توانایي لرئ، چې خپل لید لوری بدل کړئ. مثبت لیدونکي و اوسئ، چې هر څه درته مثبت را جذب شي.

## ټول وایي، مثبت فکر وکړئ، خو څه ډول؟

مثبت فکر په دې معنی چې هر څه ته د یوې هیله منډې له اړخه وکتل شي او دغه څه له موږ سره مرسته کوي، څو خپل استعدادونه وغوړوو او موخو ته ورسېږو.

د مثبت فکر بله ښېګڼه دا ده، چې له ستونزو سره د مخ کېدو پر وخت خپله ارامي او احساسات کابو کړو. دغه راز مثبت فکر کول موږ ته د خوښۍ او خوشالۍ احساس راکوي او تر ټولو ښه ځانګړنه یې دا ده: چې که موږ مثبت فکر وکړو، بریا به زموږ وي.

اوس چې د مثبت فکر پر معنی وپوهېدو، د بریا پر لور ګامونه اخلو.

**لومړی ګام**: هیله ولرئ،هڅه وکړئ، په ژوند کې لویې هیلې ولرئ؛ له لویو هیلو مې موخه هغه هیلې دي، چې د زړه له تله ورته رسېدل غواړئ. هېڅ داسې څه نشته ، چې تاسو ورته ونه شئ رسېدای، نو چې داسې ده، مه په تمه کېنئ او همدا اوس لاس په کار شئ او موخو ته د رسېدو لپاره ګام پورته کړئ. هیلې هغو وښو ته ورته دي، چې غواړي، له ځمکې سر را پورته

کړي، يوازې لږ باران ته اړتيا لري. که تاسو لږ هم د خپلو هيلو په برخه کې بې پروايي وکړئ، هغه ده، چې د هيلو په برخه کې وانښه به مو تر ځمکې لاندې وچ شي. کېداى شي، ډېرې هيلې مو تر اوسه له خاورو سره خاورې شوې وي، خو که وغواړئ، بيا يې هم را ژوندۍ کولای شئ.

**دويم ګام:** هوښيار و اوسئ، همدا چې هيله مو پوره شوه، بايد پر دې عقيده و اوسئ، چې په ژوند کې به مو يو نوی بدلون راځي. له شکه پرته چې خدای پاک به ستاسو مرسته کوي او په ډېرې اسانۍ سره به خپلې موخې ته ورېسېږئ. خدای پاک په خپل قدرت سره هغه څه چې ستاسو په واک کې درکوي، چې موخې ته د رسېدو لپاره درته ضروري دي، همدا چې د يوه کار په اړه پرېکړه کوئ، يو عظيم قوت ستاسو په څنګ کې فعالېږي، چې په اصل کې د جذب قانون دی، خو تاسو کولای شئ، چې بل هر نوم هم ورکړئ.

**درېيم ګام:** انعطاف منونکي واوسئ: انعطاف منل په دې معنی چې ځان د ژوند له بدلونونو سره همغږي کړئ؛ سازګاري درته په ګوته کوي، چې کوم څه ګټور او کوم څه ستاسو پر زيان دي.
په کار ده، چې موخې ته د رسېدو لپاره غير ضروري شيان له مخې لرې کړو او يوازې هغه څه ته پام وکړو، چې موخې ته د رسېدو په برخه کې راسره مرسته کوي.

**څلورم ګام:** قوي ايمان او هوډ ولرئ: ايمان درلودل په دې معنی چې موخې ته د رسېدو لپاره هر ډول ستونزې وزغمو او له هر ډول خنډونو تېر شو. کېدای شي، موخو ته د رسېدو په برخه کې له ډول ډول کسانو سره مخ شئ، له داسې کسانو سره چې ان مايوس به مو کړي، کېدای شي، دا هغه کسان وي، چې دوی هم ستاسو په څېر لوی هيلې درلودې، خو دا چې له

ستونزو سره مقابله کول يې نه و زده، نه دي توانيدلي، چې خپلې موخې ته ورسېږي، هڅه وکړئ، د داسې کسانو په خبرو له خپلو پرېکړو ونه ګرځئ. که تاسو پر خپلو پرېکړو پوره ايمان ولرئ، نو هېڅکله به ستونزو ته تسليم نه شئ او د د غو کسانو منفي خبرې به وا نهورئ.

**پينځم ګام:** د خدای شکر ادا کړئ: همدا اوس موږ بايد د خدای پاک تر ټولو راکړو نعمتونو د زړه له تله شکر ادا کړو، په اصل کې شکر ايستل د اوسنۍ شېبې او راتلونکي تر منځ د پل حيثيت لري. موږ کولای شو، په شکر ايستلو باندې موخې ته د رسېدو لپاره خپل سرعت ګړندی کړو. پر دې بايد عقيده ولرئ، چې په شکر ايستلو کې لوی قوت پروت دی. همدا چې تاسو شکر وباسئ، ټول قوتونه پو بل ته لاس ورکوي او موخې ته رسېدل درته اسانه کوي.

قلم او کاغذ را واخلئ، همدا چې له خوبه را پورته کېږئ او يا هم د ورځې په اوږدو کې هغه څه ته چې لاس رسی لرئ، په کتابچه کې يې وليکئ او د خدای پاک شکر ادا کړئ، دغه ليکل ددې لامل کېږي، چې تاسو راتلونکي ته هيله من شئ او د خدای پاک يو شاکر بنده و اوسئ.

## د ريښتيني خوښۍ په موخه لاندې ۸ چلندونه غوره کړئ!

**لومړی:** تل د نورو خوشالولو لپاره هڅه مه کوئ!

هغه کسان چې تل د نورو د خوښ ساتلو په موخه هر کار سرته رسوي، حتا د نورو لپاره خپل ځان کم راولي او خپل ځان خفه کوي، نو دوی په حقيقت کې د غوره چلند ټاکونکي نه دي؛ بلکې دوی د خپلې خوښۍ ريښتيني وژونکي دي او دا کړنه يې پر ژوند بېلا بېلې منفي اغېزې اچولای شي.

**دويم:** د نورو له شتو سره مو خپل شته مه پرتله کوئ! له کم عقلۍ بشپړه ډکه کړنه له نورو سره د ځان او مال پرتله کول دي، په حقيقت کې دا کړنه هغه کړنه ده، چې انسان له ژوندڅخه لاس په سر کوي او له ژوند څخه يې

په بشپړه توګه ناهیلی کوي. غوره او بریالی انسان له ځانه لوړ وګړي د ځان لپاره الګو یا نمونه ګرځوي او پرته له منفي فکر څخه د بریا په لټه کې وي.

**دریم:** پر ځان ډېر بربار مه جوړوئ! که غواړئ، په ژوند کې خوښ و اوسئ، نو هغه وکړئ، چې د حپل ورځني ژوند په مهالویش کې مو هر اړخېزې موضوع او کړنې ته پام وکړئ.

**څلورم:** په کوم ځای کې چې باید خبرې وکړئ؛ په هغه ځای کې د خبرو کولو هڅه وکړئ! هېڅ وخت مو خپل احساسات له ځان سره پټ مه ساتئ، تل په دې هڅه کې شئ، چې په هر اړین وخت کې مو خپل احساسات نورو ته څرګند کړئ او په زړه کې مو هېڅ کومه غوټه پرې نه ږدئ.

**پینځم:** هېڅکله پر دې باور مه اوسئ، چې ګواکي عشق او مینه له رنځ او غم سره ملګرې ده! د خوښۍ په موخه دا هڅه مه کوئ، چې بې ارزښته او وحشتناکې پېښې او احساسات د عشق یا مینې تر نامه لاندې په ځان ومنئ.

**شپږم:** د خپل ځان داخلي یا دننه غږ اورېدونکي شئ! د خوښ اوسېدلو په موخه تل په دې هڅه کې شئ، تر څو د زړه له اصلي غوښتنو څخه مو لرې ونه اوسئ.

**اووم:** هڅه وکړئ، تر څو دا څرګنده کړئ، چې په ریښتینې ډول مو له ژوند څخه څه غواړئ؟!د ریښتینې خوښۍ په موخه مو له ژوند څخه سترې موخې هېڅ وخت له یاده مه باسئ!

**اتم:** هېڅ وخت وېرې ته اجازه مه ورکوئ، تر څو در باندې زور شي! له ژوند څخه د خوند اخیستلو او خوښ اوسېدلو په موخه مو هېڅ وېرې ته اجازه مه ورکوئ، چې ښکار یې شئ. له کوم څه څخه چې وېره لرئ، نو له همغه څه سره مخامخ شئ؛ وېره به مو په خپله له منځه لاړه شي

## اته شیان چې په پرېښودو به يې بريالیتوب تر لاسه کړئ

ډېر خلک فکر کوي، چې د بريالیتوب لپاره ته بايد نوي مهارتونه او لوړ هنر زده کړې؛ خو له دې نه دی خبر، چې په ژوند دکې د بريالیتوب لپاره بايد ته له ځېنو شیانو لاس هم واخلې. دا په حقیقت کې هغه څېزونه دي، چې ستا د بريالتیوب په وړاندې اصلي خنډ جوړوي.

په ژوند کې د بريالیتوب لپاره شپه او ورځ په دې سوچ نه وهئ، چې کوم او څنګه نوي مهارتونه زده کړئ؛ بلکې له خپلو ځېنو عادتونو تېر شئ او خپل بريالیتوب تضمین کړئ.

موږ تاسو ته اته(۸) داسې شیان در پېژنو، چې په پرېښودو سره يې ستاسې د بريالیتوب تضمین کېږي:

۱ . **بهانه مه کوئ:** بهانه کول ځان ته دوکه ورکول دي. ځان ته دروغ ويل دي او خپله د خپل ځان تېر ايستل دي. دا د کامیابو خلکو کار نه دی. کامیاب خلک بهانه نه کوي، نورو د ملامتولو کوښښ هم نه کوي، هغوی مسولیت منونکي وي او د بې ځايه بهانو او دلايلو په ځای خپلې نیمګړتیاوې درک کوي او د هغې اصلاح لپاره وسايل لټوي.

۲ . **ځان جامع الکمالات مه غواړئ:** هېڅ انسان پوره نه دی. هر انسان ښېګڼې او بد ګڼې لري. که تاسې غواړئ، چې په هره برخه کې استاد اوسئ او له هر پلوه پوره اوسئ؛ نو دا هسې هوا ګرزول دي، دا کار امکان نلري.

هېڅ انسان پوره نه دی، خو هر انسان له ښو هم ښه پرېکړه کولای شي. خپلې وړې وړې غلطیانې مه په ښنه کوئ او د سمون لپاره يې همدا اوس پکار شئ. بريالیتوب له همدې ځايه پیلېږي.

۳ . **وېره له زړه وباسئ:** اکثره خلک ان خپل ځان هم په تمامه معنی نه پېژني. هغه په دې معنی چې دوی له خپلو شته وړتیاوو هم نا خبره دي او

تل د کمترۍ احساس کوي. په مجلسونو کې سره له دې چې د ویلو لپاره
ښه نظر لري، خو د ویلو جرات یې نه کوي، دوی د اشتباه کولو وېره لري.
دا وېره له زړه وباسئ، با جراته اوسئ او خپلې وړتیاوې درک کړئ. خپل غږ
وباسئ. خپلې موخې وټاکئ او په شجاعت سره یې تعقیب کړئ. همدا د
بریالیو خلکو کار دی.

۴ . **په هر شي د کنټرول درلودلو هڅه مه کوئ:** د ژوند هره برخه او هر
حالت زموږ په کنټرول کې نه دی. تاسې د هر شي د کنټرول هڅه مه
کوئ،دا تاسې ته بریالیتوب نه درکوي؛ بلکې تشویش، اندېښنه او خفګان
درکوي.

ددې لپاره چې په ژوند کې بریالي اوسئ، په هغه شیانو پسې ډېر مه
ګرځئ، چې ستاسې له کنټرول او وس څخه دباندې وي؛ بلکې په ځای یې
په هغه برخو ډېر تمرکز او کار وکړئ، چې ستاسې په وس کې وي او تر سره
کولای یې شئ.

۵ . **تنګ نظري مه کوئ:** بریالي خلک همیشه خلاص ذهنیت لري، دوی
هرې نوې پوهې او نویو معلوماتو ته په ورین تندي هر کلی وایي.
تنګ نظري او هغوی چې که ووایم، ذهن یې بسته وي، د نویو شیانو او نویو
معلوماتو د زده کولو هڅه نه کوي، دا خلک تل ناکام وي.
همیشه خپل فکر او ذهن پراخ او خلاص وساتئ او ومنئ، چې تاسې له نن
نه سبا ته ډېر هوښیارېږئ.

۶ . **په یوه ورځ کې دننه بریالیتوب مه غواړئ:** بریالیتوب کوم چانس او
بخت نه دی او نه هم د یو ساعت او یا یوې شیبې زحمت دی. ااکثره خلک
باور لري، چې ګنې بریالی انسان هسې په چانس او بخت سره ډېر ژر
بریالي شوي دي.

نه داسې نه ده، برياليتوب سمه ده، چې بخت غواړي، خو موخو ته له ژمنتيا او د وخت څخه له سمې ګټې اخيستنې پرته هم امکان نلري.

هڅه وکړئ، چې خپل راتلونکی له همدې نن ورځې څخه پلان کړئ.

۷. **منفي ګران خلک له خپل ژوند څخه لرې کړئ:** هغوی چې منفي ذهنيت لري او هميشه ناهيلې وي، په ژوند کې تل ناکام دي.

که تاسې د داسې خلکو سره ناسته پاسته لرئ، دا خلک مو له ژوند څخه لرې کړئ. ځای يې مثبتو او رغونکو خلکو ته ورکړئ.

هغوی چې مثبت او رغوونکی فکر لري،تاسې تشويقوي او تاسې ته ډاډ درکوي، څو په سره سينه خپلې موخې او هيلې تعقيب کړئ. دا ډول خلک مو ژوند ته خوښي راوړي او پريشاني در څخه اخلي.

۸. **هميشه د (هو) ويلو عادت پرېږدئ:** وايي، چې د مخ پوستکی مې نرۍ دی، چا ته (نه) نشم کولای. خو دا کار ښه نه دی. بريالي خلک نورو ته د (نه) ويلو په هنر پوهېږي. د هغوی چې کوم کار نه خوښېږي، نورو ته وايي، چې په دې برخه کې در سره مرسته (نه) نشم کولای.

دوی په (نه) ويلو سره خلکو ته ښيي، چې خپل وخت د نورو د ګټو او هوساينې لپاره نه قربانوي.

نورو ته په (نه) ويلو کې زړور اوسه. ستاسې موخې له بل هر چا مهمې دي، خپلې موخې تعقيب کړئ. ځان د نورو خلکو په کارونو کې ډېر مه ښکېلوئ. يار دا د برياليو خلکو عادت دی.

**که غواړئ، چې غوره شخصیت ولرئ، نو لاندې لارښوونې عملي کړئ:**

شخصیت د فکر او احساس کولو او رویو یو ځانګړې نمونه ده، چې کله سره دا ټکي یو ځای شي، یو بې مثاله شخصیت جوړوي.

ځینې وخت موږ وایو، فلانی ښه شخصیت لري، نو ذهن ته مو همدا راځي، چې هغه شخص ډېر د توجه وړ، پوه، خوشالوونکی او خوښېدونکی دی.

په نړۍ کې هر شخص غواړي، چې نورو ته په زړه پوری وي، ځکه غوره شخصیت خورا مهم او زیات ارزښت لرونکی وي.په حقیقت کې نن سبا په نړۍ کې د کامیابۍ او خوشالۍ تر شا تقریباً تر ۸۵سلنه پورې راز له نورو سره د ښو متقابلو اړیکو او رواطو لرل دي، خو په ټولنه کې دا د یو چا د شخصیت ښکارندوي کوي، چې خلکو ته په زړه پورې او جذبونکی وي، ځکه که داسې نه وای، خلک به ترې لرې ګرځیدل.

نو که موږ څومره هم خپل اعتماد او باور په ټولنه کې زیات او پراخ کړو، په هماغه اندازه کولای شو، خپل شخصیت ته پرمختګ او پراخوای ورکړو. که داسې مو وکړل، بیا چې څومره د غوره، بریالیو او مناسبو شخصیتونو د لرلو اټکل کوو،کولای شو، په هماغه ډول سره شو.

خو برحال؛ دلته اته هغه لارې چارې په ګوته شوي، چې انسان ته ښه شخصیت وربخښلی شي.

۱ . باید غوره اوریدونکی شې: په نړۍ کې یوې جذبوونکي ښځې په توګه پېژندل کېده، ځکه هغه په یوه استثنایي او عجیبه اورېدونکې او توجه کوونکی وه، نوموړې په دې مشهوره وه، چې خلکو ته به یې په سترګو کې کتل او د خبرو هر کلیمې ته به دومره ځېر وه، چې متقابل (وینا کوونکو) به ځان ته داسې فکر کاوه، کنې دوی ډېر مهم دي او مهمې خبرې کوي، نو تاسې ووایې، چې له دې بل جالب څه وي، چې یو څوک تا په پوره توجه

سره غوږ شي او ته داسې احساس وکړې، چې والله دې نړۍ کې يوازې نه يم، ځکه يوازې همدا ما اورې کنه!

۲. ډېره لوستل کول، نويو علاقو او نوښتونو ته پام کول، مو نورو ته ډېر په زړه پورې او جذبوونکی معرفي کوي، نو کله چې ته له نويو او نابلده خلکو سره مخ کېږې، دا ستا لپاره يو فرصت دی؛ په هغه څه چې پوهېږې، هغه ورسره شريک او د نظرياتو او فکرونو تبادله ورسره وکړې.

۳. ښه خبرې کوونکی اوسه: دا په ډېرو لوستلو او پوهېدلو پورې اړه لري، کله چې څوک غواړي، له چا سره مرسته وکړي، نو بايد په دې پوه شي، چې څه ډول ورسره بايد په دې اړوند وغږېږي او مرسته وکړي؛ځکه له نورو سره غږيدل ښه دي؛ ځکه هر انسان په هر څه نه پوهېږي، کېدای شي، ته په هغه شيانو نه پوهېږې، د کوم په اړه چې بل پوهېږي، نو ممکن په همدې غږيدلو کې ترې زده کړه وکړې.

خو که چېرته په څه پوهېږې، خو په ويلو يې شرميږې، نه يې وايې، نو له داسې اشخاصو سره کېنه، چې خبرو ته مو تشويق کړي.

۴. يوه نظريه بايد ولرې: که چېرته يوه نظريه ولرې، کولای شي، ددې نظريې پر اساس ډېر خلک ځانته جذب کړې؛ ځکه هغه اشخاص چې هېڅ نظريه او مفکوره نلري، خلک ترې ځان لرې ساتي.

((که ته يوه نظريه ولرې، ستا په اړه خلکو ته پراخ معلومات ورکوي))

۵. له نويو خلکو سره ناسته پاسته وکړه، هڅه وکړئ، چې له نويو او بېلا بېلو خلکو سره کېنئ، په خاص ډول له هغه خلکو سره چې ستاسې په خلاف دي او نه مو خوښوي، دا نه يوازې دا چې تاسې د بېلا بېلو کلتورونو سره بلدوي، بلکې د کارونو د تر سره کولو له بېلا بېلو لارو سره مو اشنا کوي، چې بالاخره په همدې ډول سره مو د فکر لمن پراخيږي.

۶. خنګه چې یې، هماغسې اوسئ: موږ هر یو بې ساري اشخصاص یوو او زمـوږ دا ځـانګړی او بــې سـاری طبیعـت او حالـت دا معنــی لـري، چې شخصیتونه لرو، نو هڅه وکړئ، چې د یو چا د کاریون کاپي شئ، خو دومره نه چې چا ته سقوط شئ:

(تول کړه وړه مو یوازې هماغه شخص پورې وتړل شي) ځکه که داسې شئ، بیا ستا اصیلیتوب او سپیڅلتیا تر پښو لاندې کېږي. له چا چې تقلید کوئ، هغه هم انسان دی، نیمګړی دی، که ته دومره ترې اغېزمن شې، نو ممکن د هغه په غلطی ته هم غلط شي.

۷. مثبته نظریه او چال چلند غوره کړئ، آیا داسې څوک به پېدا شي، چې د منفي ګرا خلکو سره ناسته پاسته خوښه کړي؟ معلومه خبره ده، چې ټول به وایو هېڅوک؛ ځکه کله چې منفي ګرا کس ګورو، ټول ترې تښتو او نه ورسره کېنو، خو ددې پر ځای بیا خوشبین او مثبتو خلکو سره کېنو، ځکه مثبت خلک داسې دي، لکه زموږ لپاره بله شوې ډېوه.

هدف دا دی، چې تل د اشخاصو او شیانو لپاره له مثتبې زاویې وګورئ، په مینه سره خندا وکړئ، خوښی وویشئ او په خپلو مثبتو کړو وړو سره نور خلک وېښ کړئ.

۸. ساتیری اوسه او لږ د ژوند د شوخی برخې ته هم سر ښکاره کړه، هر څوک د هغه شخص ملګرتیا ډېره خوښوي، څوک چې ډېر مسکی او خندنی خوی لري، نو لږ لږ ټوکي هم اوسئ، ځکه د ژوند په دې برخه کې تل خوښي وي.

ځېنې وخت مسخره ډېره مهمه او ضروري ده، چې وشي، مثلاً: که یوه تیاره مغزی، ناپوهه او لټ انسان سره ساتیري او خوښي وکړئ، نو هغه انسان نه یوازې دا چې منله

## د خوښمنو (خوشال) خلکو لس عادتونه

د مثبتې اروا پوهنې پلار مارتین سیلګمین وایي، چې ٦٠ سلنه خوښي د انسان په ارثي او محیطي خصوصیاتو پورې تړلې ده او پاتې ۴۰ سلنه د حالاتو په وړاندې زموږ او ستاسې په غبرګون پورې اړه لري.

ښاغلی سلیګمین باور لري، چې خوښي عبارت ده له خپلو اعظمي وړتیاوو له درک او د هغې څخه د شخصیت او ژوند د سطحې لوړول لپاره پوره ګټې اخیستنې څخه.

د سلیګمین په څېر ګڼو څېړونکو د خوښۍ ساینس او هنر مطالعه کړې، موږ دلته په دې لیکنه کې تاسې ته د خوشحاله خلکو (۱۰) عادتونه در په ګوته کوو. خوشحاله خلک څه کوي؟!

۱. دوی له خپلې هرې لحظې څخه خوند اخلي.خوښ خلک له کل بویولو هم خوند اخلي، دوی د ژوند هره ښه او بده شیبه درک کوي او په خپله خوښه یې ځرخوي.

دوی یوازې د ژوند په هغه شیبو توجو کوي، چې دوی کنټرولولای شي. دوی د هغه شیبو په کیسه کې نه دي، چې د دوی تر وس بهر وي، دوی تر کنټرول لاندې خپلې ټولې شیبې شماري او خوند ترې اخلي.

۲. خوښ خلک لوړ ذهنیت لري، خوشحاله خلک لوړ ذهنیت لري، دوی د ټولې ذهنیت لرونکو خلکو په څېر خپله خوښي یوازې په بریالیتوب پورې نه تړي، بلکې دوی ان له خپلو کامیابیو هم زده کړه کوي او د ماتې له تجربو خوند اخلي.

دوی ناکامې خپله کمعقلتوب نه بولي،بلکې د ناسمې ستراتیژۍ او پلان له امله یې بولي. په لنډ ډول ویلای شو، چې خوښ خلک له خپلو ناکامیو هم خوند اخلي او له هغې څخه د ژوند د پرمختګ په برخه کې د تجربې په ډول استعمالوي.

۳ . دوی له نورو خلکو سره راشه درشه ساتي.د جیم روهن په نوم یو پوه وايي، چې تاسې د هغه ۵ کسانو اوسط یې، چې ستاسې په شاوخوا کې دي.

موږ د چا سره راشه درشه لرو، څوک زموږ ملګري دي؟ دا ټول زموږ په احساس او فکر تاثیر لري.

دا خبره موږ په تاسې ښه ونه لګېږي، خو موږ سپارښتنه کوو، چې ټول منفي ذهنیت لرونکي خلک له خپله ځان لرې کړه. هغوی چې ستا خوشالي تروږي په خوا یې هم مه تیرېږه.

که په یو دم له منفي خلکو نشي- لرې کېدای ، ناسته پاسته ور سره کمه کړئ او په تدریجي ډول سره ترې لرې شئ.

۴ . خوشحاله خلک هیله مند وي.هیله، امید او خیال هغه څه دي، چې په سختو شیبو کې موږ ته اساني راولي او زموږ راتلونکې ته هیله مند کوي.

ځان سره د سهار د پاڅېدو لپاره یو علت وټاکئ. سهار چې پاڅېږئ، ولې پاڅېږئ؟ څه کوئ؟ څه کار کوئ؟ ولې یې کوئ؟ دا ډول پوښتنې ژوند معنیداره کوي او شخص ته خوښي بخښي.

۵ . حوصله لري. ژوند کې خوښ او خوشحاله خلک با حوصله او استقامت لري. دوی ژر نه ناهیلي کېږي او د ستونزو سره د مقابلې ډېره انرژي او سره سینه لري، دوی په دې باور لري، چې د صبر میوه خوږه وي.

۶ . خوشحاله خلک ځان ته حدودات ټاکي،دوی همیشه هر چا ته (هو) نه کوي؛ بلکې کله کله (نه) هم کوي. دوی خپل ځان او خلکو ته حدودات ټاکي. د نورو د خوشالولو لپاره ځان نه پایمال کوي.

د نورو خلکو لپاره یوازې د ګټې ځاله مه جوړېږه، چې هغوی راشي او له تاسې څخه ګټه پورته کړي اوځي په خپله مخه. په ځان هم کار وکړئ او ځان ته هم وخت او انرژي بېله کړئ. ته له هر چا ډېر مهم یې.

۷. تجربه په پیسو اخلي؛ مالونه نه اخلي. خوشحاله خلک ځان ته د ٦۴ انچه درې ضلعي تلویزیون او سکرین په ځای اروپا، امریکا او نورو خارجي هېوادونو ته د تګ زمینه برابروي. دوی هلته ځي، چې د خلکو څخه زده کړي، څوک څه ډول ژوند کوي، دوی تجربې ته د جنس په نسبت ډېر ارزښت ورکوي. تجربه موږ خوشحاله ساتي، موږ ته د ژوند درس راکوي او د راتلونکې لپاره مو هوښیاروي.

۸. خوشحاله خلک ډېر ورکوي، لږ اخلي: خوښ خلک ډېره مینه ویشي، د پیسو د جمعه کولو په ځای ډېری خلکو سره په مرسته لګوي، دوی خیر وخیرات ډېر کوي، اړمنو خلکو سره مرسته کوي، لایقه زده کوونکي، هنرمندان او نور استعدادونه په جایزو سره نازوي.

۹. د سخت حالت سره مبارزه کوي: خوشحاله خلک د سختو شیبو په وړاندې نه مایوسه کېږي؛ بلکې د هر ځل پریوتو څخه وروسته دوی بیا را پاڅېږي او بیا هڅه کوي. دوی باور لري، که ۷ ځلې مات شي، اتم ځل به ودرېږي.

خوښ خلک عادت لري، چې مبارزه وکړي، دوی وایي، هڅې او کوښښونه به یې رنګ راوړي او پرمختګ یې په نصیب شي، دوی په دې پوهېږي، چې څه کوي، هغه دا ارزي، چې دوی ورته خپلې خولې تویې کړي.

۱۰. خوښ خلک دوامداره زده کړه کوي: خوشحاله او بریالي خلک همیشه زده کړه کوي، دوی هڅه کوي، چې یو څه نوي زده کړي، دوی کتابونه لولي؛ سفرونه کوي او بهرنۍ ژبې زده کوي، د دوی زده کړه عمري وي، دوی هېڅکله هم د نویو شیانو له زده کړې څخه نه په شا کېږي.

دوی په دې باور لري، چې د خوشحاله ژوند لپاره په ژوند کې پرمختګ لازمي دي، دوی د ژوند د پرمختګ لپاره له زده کړې مخ نه اړوي.

## که دغه اوه(۷) پوښتنو ته مو ځواب ورکړ، بریالیتوب ستاسې دی

۱ . خپل ارمانونه سم تعریف کړئ، که وغواړئ، په خپل چاپېریال کې بريالي اوسئ، څه ډول ځانګړتياوې باید ولرئ او څنګه چلند وکړئ؟

د کاغذ پر مخ خپل ارمانونه ولیکئ، د هغو کسانو ژوند مطالعه کړئ، چې ستاسو په اند تر ټولو غوره دي، د هغوی ځانګړتیاوې څه او ستاسې په بریا کې څومره مهمه ونډه لرلی شي؟ فکر وکړئ، خپلو ارمانونو ته د رسېدو په موخه کومو شیانو ته اړتیا لرئ؟ ویې لیکئ، همدا اوس.

۲ . کومه برخه کې زیات فعالیت او هڅه کوئ؟ د خپل دغه فعالیت په اړه څه ډول ذهني انځور او خاکه لرئ؟ څنګه کولای شئ، چې په هغې کې نور انکشافات او نوښتونه وکړئ؟

۳ . څه ډول خلکو ته درناوی لرئ او ولې؟ څنګه کولای شئ، په ځان کې بدلون راولئ؟ له هغه چا څخه چې متاثر یاست، د هغوی مثبتې نکتې د ځان لپاره د یو ایډیال په توګه انتخاب کړئ، وروسته خپل انتخاب وګورئ، هغې ته ځان نژدې کړئ او خپل مثبت بدلون له هغه سره مقایسه کړئ، کرار کرار تاسې هم د هغه بریاو ته رسېږئ.

۴ . د بریالیتوب یوه لاره د هغه تخیل او ذهني انځور جوړول دي، لکه فکر کوئ، بریالي یاست، همدا په خپل ذهن کې انځور کړئ، مثلاً تاسې ځان یو میلیاردر وګڼئ او له دې خیالي انځور څخه خوند واخلئ. دغه مسله په ذهن کې نوره هم وروزئ، هر کار ته ذهني انځور جوړوئ،دا بریا ته د رسېدو یوه لاره ده.

۵ . د خپل ژوند له کومې برخې سره زیاته مینه لرئ؟ څه ډل کارونه مو وجدان در څخه خوشحاله کوي، څنګه کولای شئ، دغه کارونه زیات تر سره کړئ؟

٦. تاسې زيات ښه ياست: د نن ورځې وروسته ځان غوره وبولئ، پر ځان باور ولرئ، هر ډول ناسم محدوديتونو مبارزه وکړئ، هر څومره چې کېږي، خپل بارو پياوړی کړئ.

۷. خپل پخوانی تفکر خوی او چلند پرېږدئ، اوس تاسو هغه کس ياست، چې ځانته مو ايډيال ټاکلی، نور نو د خپلې خوښې له ژوند څخه خوند واخلئ.

## لس خويونه

لس خويونه له لس ډوله کسانو سره تر نورو ډېر بد ښکاري:

١. له پاچاهانو سره ظلم.
٢. د ښو کورنيو سره دوکه.
٣. له علماوو سره تمه.
٤. له قاضيانو سره دروغ.
٥. له هوښيارانو سره ناروغي.
٦. له مشرانو سره کم عقلي.
۷. له طبيبانو سره ناروغي.
٨. له غم ځپليو سره ټوکې.
٩. له فقيرانو سره وياړ (فخر).
١٠. له مالدارو سره بخل.

**اوو (۷) هغه نښې چې تاسو پرې ملګرو سره بايد اړيکه پرې کړئ**

که د نوي ملګري پيدا کېدل ستونزمن دي، خو ناممکن هم نه دي، دلته موږ تاسې ته اووه لارښوونې ذکر کوو، که ستاسو ملګرو له تاسې سره دا ډول چلند کولو، نو اړيکه ورسره پرې کړئ.

### ۱. سپکاوی کول

که ستاسو ملګري ستاسو سپکاوی کوي، نو دا معلومه خبره ده، چې تاسو ته به دا چاره د منلو وړ نه وي؛ ځکه تاسو په توهین تر هر څه ډېر خفه کېږئ، هڅه وکړئ، چې داسې ملګري یو ځل په خبره پوه کړئ، که پوهه شول او تېروتنه یې ومنله؛ نو حتماً به بښنه هم غواړي او بیا به ستاسو توهین نه کوي؛ خو که نه پوهېدل؛ نو ناسته پاسته ورسره کمه او بیخي پرېږدئ.

### ۲. دورغ ویل

که مو ملګرو تاسو ته هر وخت دورغ ویل او دوکه یې درسره کوله؛ نو پوه شئ چې دا تاسې ته صادقه نه دي، باید لومړی یې پوه کړئ، چې دروغ ویل به زموږ په ملګرتیا کې بند وي او یو بل ته به سره رښتیا رښتیا وایو، که یې تاسو سره ومنله؛ نو ښه ده او که ویې نه منله؛ نو اړیکه ورسره پرې کړئ.

### ۳. له شخصیت څخه ناوړه ګټه اخیستل

که مو ملګري له شخصیت سو استفاده کوله، نو په یاد ولرئ، چې دا ستاسو لپاره تر هر څه ډېره زیانمنوونکې ده او باید داسې ملګرو ته هېڅکله د دې اجازه ورنه کړئ، چې ستاسو شخصیت ته زیان ورسوي، هڅه وکړئ، چې داسې ملګري لومړی پوه کړئ او د دې ناوړه اقدام بدې پایلې ورته په ګوته کړئ، که پوه شول، نو ښه ده او که نه پوهېدل؛ نو اړیکه ورسره پرې کړئ.

### ۴. دوستانه چلند نه کول

هغه ملګري چې دوستانه چلند نه لري،ستاسو ملګري نه دي، له همدې امله تاسو د ملګرو په پیدا کېدا کې باید له ښه فکر او پام څخه کار واخلئ او داسې ملګري ځان ته پیدا کړئ، چې دوستانه او مینه ناک چلند ولري.

### ۵. ژر غصه کول

که مو ملګرو ژر غصه کوله او هر وخت يې تندی تروش نيولو؛ نو تاسو مجبوربږئ، چې ورسره اړيکه پرې کړئ، په پام کې ونيسئ، هغه ملګرو چې په ناخبره غصه کوله، نو تاسو ورسره د حوصلې نه کار واخلئ، همداراز دوی په دې هم پوهه کړئ، چې ژر غصه کول د ملګرو د لاسه وررکولو يو اصلي لامل دی او غصه د ملګرتيا لاين پرې کوي، که مو ملګرو ومنله، نو ښه ده او که يې نه منله ؛ نو اړيکه ورسره پرې کړئ.

### ۶. تېز چلند کول

هغه ملګرو چې تاسو سره يې تېز او جدي چلند کول؛ نو لومړی يې پوه کړئ، چې خپل حد وپېژني او په دې يې هم پوه کړئ، چې تېز او جدي چلند ملګرتيا ته صدمه رسوي، که مو ملګري پوه شول، نو ښه ده او که نه پوهېدل نو اړيکه ورسره پرې کړئ.

### ۷. راز نه ساتل

راز د ملګرتيا له لپاره خورا ښه او ارزښت لرونکې ځانګړنه ده، که تاسې د راز او نياز ملګري لري، نو لومړی هغوی وازمويئ،تر ټو څرګنده شي چې د راز په ساتلو کې څومره مهارت لري؟ که مو ملګرو د نورو رازونه افشاء کول، نو پوهه شئ چې سبا ستاسې رازونه هم افشاء کوي. که مو ملګرو رازونه افشاء کول؛ نو لومړی يې پوهه کړئ، که پوه شول، ښه ده او که نه پوهېدل؛ نو اړيکه ورسره پرېږدئ.

Scanned by CamScanner

**له دې ۸ ډوله کسانو لرې واوسئ!**

هغه کسانو یادونه کوو، چې تل راته ستونزې زېږوي او د دلته د ځینو هغه کسانو یادونه کوو، چې تل راته ستونزې زېږوي او د پرمختګ په لار کې مو خنډ دي.

**ځان غوښتونکي کسان**

دا هغه کسان چې تل د ځان په اړه فکر کوي، دوی زموږ سره صادقانه چلند نه کوي، هغوی تل د ځان په غم او ویر وي، کله یې چې د ځان پوره شوه بیا مو په کېسه کې نه وي، په هر کار کې د ځان ګټه ګوري.

**کینه لرونکي کسان**

دا ډول کسان زموږ سره زړه نا زړه چلند کوي، هغوی تل په ناخبره د لنډ وخت لپاره خپله لار جدا کوي، هغوی زموږ په پرمختګ خفه کېږي، هغوی دا نه خوښوي چې تر دوي وړاندې وو،دا ډول کسان مو ملګری او دوستی په جامه کې کندې ته اچوي او تل مو په غیر مستقیم ډول تهدیدوي او ګواښي مو.

**وروسته پاتې کسان**

دا ډول کسانو مو د بریا پر لور مزل سختوي هغوی تل راته غلطې مشورې راکوي، دوی دا خوښوي چې د دوی په رنګ اواوسو، داسې خلک ناوړه انګیزې او منفي افکار راکوي ، هغوی مو تل د بدمرغۍ پر لور بیایې، داسې کسانو نه یوازې د بریا په لار کې مو خنډونه جوړوي، بلې ژوند مو ګواښي.

**ژر قضاوت کوونکي کسان**

د داسې کسانو په نظر هېڅ شی ښه نه دی، دوي د دې پر ځای چې خلک تشویق او تقدیر کړي، بلکې تهدیدوي یې او غیر سالمې نېوکې پرې کوي، هغوی زموږ خبرو ته غوږ نه نیسي زموږ په ښه خبره بد ګومان کوي او ژر راته خپل نظر او غوښتنه مخته کوي، په زور خپلې خبرې پر موږ مني له دا ډول کسانو سره اوسېدل مو په ژوند اثر کوي.

## کنټرول کوونکي کسان

دا کسان هڅه کوي، چې د ژوند ټول واک مو په لاس کې واخلي، له داسې کسانو نه د ځان کنټرول هېر وي؛ خو دا يې ډېر خوښېږي، چې پر نورو حکومت وکړي او تل غواړي چې غوښتنې يې پوره دا ډول کسان ځينې وخت هڅه کوي، چې زموږ په شخصي مسايلو کې مداخله وکړي.

## دورغجن کسان

دا کسان تل راته دروغ وايي، دوی هېڅکله زموږ سره رېښتنی چلند نه کوي، د هغوی کار چل او دوکه ده، دا کسان ډېر خام دي، چې په لږ وخت راته په خپله خپلې نیمګړتیاوې او خاموالی ثابتوي، دا کسان هېڅکله خپل ځان په اصلي څېره کې نه ښيي.

## مزاحم کسان

دا کسان زموږ د پرمختګ په لار کې په مستقيم ډول او په سپين سترګي ستونزې ايجادوي، هغوی مو د وخت قاتلان دي، هڅه کوي، چې په يو ډول نه يو ډول مو وخت ضايع کړي، دوي مو د وزګارتيا او بوختيا وخت نه پېژني تل هڅه کوي، چې له دوی سره و اوسو او خبرې ورسره وکړو.

## مغرور او کبرجن کسان

يوه نامه خبره ده وايي (کبرجن د الله دښمن دی)، کبرجن کسان تل له خدای جل جلاله سره په جګړه کې وي، مغرور او کبرجن کسان پر هغو اخلاقيات نه لري، پاتې شوي دي، هغوي په زورقدرت، ښايست، پيسو ، واک او داسې نورو بې ارزښته شيانو نازېږي، له داسې کسانو سره اوسېدل زموږ په چاپلوسی دلالت کوي.

## د حضرت لقمان حکیم صاحب ۴۰ نصیحتونه

۱. د ګټې او زیان له پاره خپل عزت له منځه مه وړه.
۲. ملګري ته د راز خبره مه کوه، کېدای شي چې سبا ستا دښمن شي.
۳. د خلکو هومره لحاظ کوه، چې ځان خراب نه کړې.
٤. له جنګ او فتنې څخه په ډډه ګرځه.
۵. په مجلس کې له خلکو څخه مخکې مه ویده کېږئ.
٦. مړي مه یادوئ، ځکه چې ګټه نه لري.
۷. د مېلمه په وړاندې چا ته غوسه مه کوه.
۸. خلک د خلکو په وړاندې مه رسوا کوه.
۹. بې ځایه وینا کوونکی او لوېې کوونکی مه اوسه .
۱۰. که د ژبې له زیان څخه ځان ژغورل غواړې نو چپ اوسه.
۱۱. چوپتیا او خاموشي خپله پانګه وګرځوه.
۱۲. له بد ذاته خلکو څخه د وفا تمه مه کوئ.
۱۳. چوپتیا خپل شعار جوړ کړه، چې د ژبې له شر نه خوندي شي.
۱٤. که تاسو له چا سره محبت نه شئ کولی، نو له هغه څخه نفرت هم مه کوئ.
۱۵. ما ادب له بې ادبانو څخه زده کړ.......
۱٦. په مجلس کې خپله ژبه په کنترول کې وساتئ.
۱۷. په کوم حالت کې چې اوسې پر هغه خوښ اوسه.
۱۸. په هر چا مه بد ګومانه کېږئ، کنه، نو په نیا کې به هېڅ دوست او خوا خوږي ونه مومئ.
۱۹. په لمانځه کې د زړه، په مجلس کې د ژبې په غوسه کې د لاس او په دسترخوان د ګېډې ساتنه کوئ.

۲۰. د خلکو د هوساینې له پاره کوښښ وکړئ، له خلکو څخه مه ډارېږئ او په خپل منځ کې په مینه سره ژوند وکړئ.
۲۱. هغه راز چې له دښمن څخه یې پټ ساتئ، دوست ته یې هم مه ښکاره کوئ؛ ځکه کېدای شي، چې دا دوست مو یو وخت دښمن شي.
۲۲. هر وخت خپل مرګ په یاد ولرئ.
۲۳. ځوانمردي د ځان عادت وګرځوئ.
۲۴. که چېرې خلک تا په هغه صفت موصوف کړي، چې ته یې وړ نه یې مه مغروره کېږه، ځکه د ناپوهانو په وینا هېڅ کله هم له تېرې څخه زر نه جوړېږي.
۲۵. دنیا د غلو مورچه ده، په دې کې په هوښیارۍ او پوهې سره ژوند کول په کار دي.
۲۶. مرګ داسې شی دی، چې معلوم نه دی، چې کله به راځي، له وړاندې ورته تیاری نیول په کار دي.
۲۷. له ستونزو څخه مه وېرېږه، ځکه چې ستوري په تیاره کې ځلېږي.
۲۸. د لمر ختلو پرمهال مه ویده کېږئ، ځکه چې د عبادت پرمهال ویده کېدل بدبختي ده.
۲۹. د غوسې په حالت کې د خپل لاس ساتنه کوئ.
۳۰. که عزت غواړې تمه غوڅه کړه، له هغه څه چې د خلکو په لاس کې دي او په هغه څه چې خدای جل جلاله درکړي راضي اوسه.
۳۱. په کوم نعمت کې چې شکر وي، د هغه پای نه شته او په کوم نعمت کې چې ناشکري ، د هغه پایښت نه شته.
۳۲. الله جل جلاله او مرګ هېڅکله له یاده مه باسئ. خپله ښېګړه د بل بد ګڼه هېره کړئ.
۳۳. ډېر اورئ او لږ غږېږئ.

اوسئ.
۳۴. په خپټه ورې، خو په حکمت ماړه اوسئ.
۳۵. په خپله هم نېکي کوئ او نورو ته هم د نېکۍ تلین کوئ.
۳۶. په هر مجلس کې چې د الله جل جلاله ذکر کېږي، ګډون په کې کوئ او بدانو له ناستې نه ځان لرې وساتئ.
۳۷. رښتیا خبره مه پټوئ او دروغ خبره له سره مه کوئ.
۳۸. له پوهانو سره ناسته ولاړه غوره کړئ، دا کار په ربړو او ستونزو کې له تاسې سره مرسته کولای شي.
۳۹. له احمقانو او ناپوهانو سره انډیوالي مه کوئ، دا په ستونزمن وخت کې ستاسو ربړې او کړاوونه لازیاتوي.
۴۰. لکه باران چې وچې ځمکې لمدوي، دغه راز له عالمانو سره ناسته ولاړه د سړي زړه تاند او رڼوي.

## خوشحاله کسان څه ډول ژوند کوي؟

ډېر کسان په دې تمه شپې او ورځې سبا کوي، چې څه وخت به یې خوشحالي کورته کډه راوړي، له ځان سره وایي، که شتمن وای؛ نو خوشحاله ژوند به مې درلود، یا دوه کیلو مې وزن کم یا زیات وای، په خپل ژوند کې به ډېر خوښ وای او یا هم ..... ، تر اوسه مو دا ډول خبرې له خولې وتلې دي او یا مو یې په اړه فکر کړی دی؟ خوښ اوسېدل ډېر ساده او اسانه رازونه لري، له ننه وروسته له ځان سره پرېکړه وکړئ، چې خوشحاله و واوسئ، دا هم ممکنه نه ده، چې انسان دې تل خوشحاله او خوښ ژوند ولري ، معلومه خبره ده چې ژوند خوښیو او خپګان ټولګه ده ، خو تر ډېره هڅه وکړئ ،چې روښانه کړی څنګه کولای شئ خپل ځان خوشحاله وساتئ.

یوازې یو کس کولای شي چې تاسو خوشحاله کړ ي، پوهېږئ هغه څوک دی؟ هغه تاسو خپله یاست . غواړم له تاسو سره یو راز شریک کړم، هغه

داچې تر اوسه شتمني ، ښکلاوحتا تر ټولو ښه دنده درلودل هم نه شي کولای انسان خوشال وساتي، که غواړئ چې خوشحاله ژوند وکړئ پرخپل ځان باید کار وکړئ . په دې لیکنه کې دخوشحاله کسانو د څوارلسو عادتونو یادونه شوې ده چې پرهر یو عادت باید څو ورځې کار وکړئ څو پر یوه خوشاله کس بدل شئ:

## ۱. خپل ځان له کینې پاک کړئ

دخوښۍ اوسپړدلو یو راز ښنه ده ، چې کله له چا سره کینه کوئ ، په اصل کې د تاسو په خپل وجود کې منفي احساساتوته ،لکه غوسې ته روزنه ورکوئ . هڅه وکړئ زړه مو له کینې څخه پاک کړئ . مهرباني کولای شئ، د هغې بدمرغه کینې ځای ونیسئ، چې په پایله کې دا کړنه ستاسو دخوشالۍ لامل ګرځي.

## ۲. مهربانه و اوسئ

مهرباني نه یوازې یو ښه عادت دی، بلکې ستاسو د خوشالۍ سبب ګرځي،کله چې تاسو پر نورو خلکو رحم او مهرباني کوئ، ستاسو مغز د سروټونین په نوم هورمونونه تولیدوي، چې په وسیله یې کولای شئ،له نوروو سره ښه فکري اړیکه ټینګه کړئ او په خپل شاوخوا کې د خوښۍ انرژي خپره کړئ او ستاسو په څنګ کې چې کوم کسان دي هم خوښي احساس کړي.

## ۳. ستونزې د ځان د ځواکمنتیا لپاره د ننګولو په ډول وکاروئ

د ستونزو پېدا کېدو په صورت کې خپله توأمندي له لاسه مه ورکوئ، کوښښ وکړئ ستونزې مو لاندې نه کړي او داسې وانګړئ، چې ستونزې مو باید د پیاوړتیا سبب ګرځي، د ستونزې په نوم مو په ذهن کې کوم نامه ته ځای مه ورکوئ.

### ۴. د خدای جل جلاله پر نعمتونو شکر وباسئ او قدر يې وکړئ

هغه کسان چې د خدای تعالی پر نعمتونو شکر باسي، تل له نورو څخه متفاوت ژوند لري او په ډېره اسانی سره کولای شي له ستونزو ځان وباسي، مثبت احساسات لري او ډېر هغه څه ته چې په ذهن کې يې دي، ځان رسولای شي، ځکه دوی هره ورځ هغه څه چې لري يې، که هر څومره کم هم وي، د خدای تعالی شکر باسي، يو وخت به ووينئ چې د خوشالیو وسیل دربانديې را روان وي، کله مو چې دغه عادت ته په ځان کې روزنه ورکړه، پر يوه خوشحاله، مثبت فکره او سالم انسان بدلېږئ.

### ۵. لوړې هيلې ولرئ

کله چې لوی فکر کوئ او هيلې لرئ، ډاډه اوسئ، چې ضرور به خپلو موخو ته رسېږئ، د وړو فکرونو پر ځای لوی فکر وکړئ، څومره ذهن پراخ شي او په اسانی سره وکولای شئ ، خپلو موخو ته ورسئږئ.

### ۶. پر وړو شيانو فکر مه کوئ

که په وړو او بې ارزښت شيانو مو ځان مصروف کړ، انرژي به مو بېځايه لګولې وي، نو اړينه ده، چې پوه شئ، د دې پر ځای چې پر کوچنيو مسايلو ځان بوخت کړئ، پر لويو، لوړو او ارزښت لرونکو شيانو فکر وکړئ، خوښ انسان پر دې ښه پوهېږي، چې څنګه له ستونزو څخه ځان وباسي او له ځانه يې لرې کړي.

### ۷. د نورو په اړه ښې خبرې وکړئ

کېدای شي له ځېنو کسانو سره دغه فکر وي، چې په کار ځای کې يې ورو بند کړي او د اوړي په ګرمو ورځو کې يخ کولر روښانه کړي، پر يوه او بل همکار پسې منفي خبرې وکړي، خو ښه ده چې پوه شي په غايبو کسانو پسې خبرې کولو داسې معنی لري، لکه په منفي فکرونو باندې حمام کول.

بېځایه او بې منطقه خبرې کول د انسان وجود داسې پوښي چې مثبتې هغه بیا نه شي کولای ستاسو ذهن ته د ورتلو اجازه پیدا کړي، د غیبت پرځای کولای شو ذهن مو له مثبتو خبرو او هیلو ډک کړو، کوښښ وکړئ کله مو چې د یو چا په اړه خبرې کولې، مثبتې ځانګړنې یې یادې کړئ، نه منفي.

## ۸. د خپلې ماتې بهانه مه جوړوئ

دا اسانه خبره ده، چې د خپلو ماتو اړه پر بل چا واچوئ، پیاوړي او خوښ کسان تل خپلې ماتې مني او که یې بل څوک هم د ماتې سبب ګرځېدلې وي، په اسانۍ یې له دې ګناه تېرېږي او بښنه ورته کوي، دوی تل خپله ماتې د راتلونکې بریا پیلامه بولي.

## ۹. په اوس کې ژوند وکړئ

ځان ته مو اجازه مه ورکوئ، چې په اوسني وخت کې غرق شئ، همدا اوس چې چېرې یاست د ژوند له هرې لحظې خوند واخلئ، د تېر وخت منفي خبرې مو له ذهنه وباسئ او له لاسه به مو ورکړې وي.

## ۱۰. خپل ځان له نورو سره مه پرتله کوئ

ژوند مو یوازې پر تاسو پورې تړلی، خپل ځان مو وله شاوخوا کسانو سره مه پرتله کوئ، حتا کوښښ وکړئ، چې له خپلو همځولو سره هم ځان پرتله نه کړئ، ځکه کېدای شي دغه کار د دې لامل شي چې ځان درته بې ارزښته ښکاره شي او تل په دې اړه فکر وکړئ، چې د تېر کال، تېرې میاشتې او تېرې ورځې په پرتله که مو څه زیات یا څه کم لاسته راوړي وي، د راتلونکې لپاره مو هیله من کوي.

## ۱۱. مثبت او بریالي کسان مو د ملګرو وپه توګه وټاکئ

بدبختي په بدبختۍ پسې ده، چې داسې دغه خبره سمه ده، چې وايي: بدبختي په بدبختۍ پسې ده، چې داسې ده؛ نو له بريالیو او مثبت فکره کسانو سره ملګري وکړئ او د ملګرتيا لپاره يې غوره کړئ، خپله شاوخوا مو له مثبت انديشه کسانو څخه ډګه کړئ، تر څو په مثبتې انرژۍ باندې وپوښل شئ.

## ۱۲. پوه شئ چې د نورو تاييد ته اړتيا نه لرئ

خپلې هيلې او ارزوګانې مو د بل چا له تاييد او خوښې پرته پر مخ بوځئ او ځان ورته ورسوئ، ډېر کسان عادت لري، چې خپلې خوښۍ او هيلې په زړه کې وساتي او هېڅکله يې هم پر خوله نه راوړي، که تاسې هم له يوه داسې کس سره مخ شئ او خبرې يې ومنئ، پوه شئ چې ځان مو تباه کړئ.

دا ښه خبره ده، چې تل د نورو خبرو ته غوږ کېږدئ، خبرې يې واورئ، خو په عملي کولو کې يې له پوره دقت څخه کار واخلئ، تر ډېره مو خپله خوښه په کې شريکه کړئ او بيا پرېکړه وکړئ.

## ۱۳. غوږ ونيسئ

د تجربه لرونکو کسانو خبرو او نظرونو ته غوږ نيول له تاسو سره مرسته کوي، د نورو خلکو خبرې اورېدل ستاسو تجربې زياتوي، چې کله کله ترې ګټه اخيستل بيا له تاسو سره خپلو موخو ته په رسېدو کې پوره مرسته کولای شي.

## ۱۴. ټولنيزې اړيکې مو پراخې کړئ

د مثبتو ټولنيزو اړيکو درلودل له تاسو سره د خوښۍ په موندلو کې مرسته کوي، نو د دوستانو، ملګرو د لېدلو او نوو ملګرو پيدا کولو ته مو مناسب وخت ځانګړی کړئ.

Scanned by CamScanner

## د بریا پر لور لس ساده لارې

١. زه ګټونکی یم؛ ځکه چې د موخو د نړۍ پر لور مې قدم اخیستی، لومړی، قدم یعنې هوډ.
٢. زه ګټونکی یم؛ ځکه داسې خدای تعالی لرم څه چې ترې وغواړم راته راکوي یې .
٣. زه ګټونکی یم؛ ځکه چې خدای تعالی مسلمان پیدا کړی یم او مسلمعنین تل بریالي دیږي.
٤. زه ګټونکی یم؛ ځکه چې د ژوند نقشه مې داسې رسم کړې، چې یوازې یو شی غواړي (عملي کول).
٥. زه ګټونکی یم؛ ځکه چې په لومړي سر کې هر لوی کار ناممکن ښکاري، نو ټوله هڅه کوم،و چې ناممکن پر ممکن بدل کړم.
٦. زه ګټونکی یم؛ ځکه هم ناهیلي پېژنم او هم صبر او حوصله ، پر دې هم پوه یم، چې صبر او حوصله د ناهیلی یوه بېلګه ده، چې انسان کولای شي په اسانی سره یې وزغمي.
٧. زه ګټونکی یم؛ ځکه چې ژوند ته د یوه ښکلي شي په سترګو ګورم، کله دې چې ژوند ته ښکلي وکتل، خپله ښکلی کېږي.
٨. زه ګټونکی یم؛ ځکه چې د ورځې په اوږدو کې یو ساعت د خپل زړه خبرو ته غوږ نیسم.
٩. زه ګټونکی یم؛ ځکه چې ذهن مې داسې جوړ کړی، چې دوزخ راته جنت جوړ کړي نه داسې چې جنت پر دوزخ بدل کړي.
١٠. زه ګټونکی یم؛ ځکه پوهېږم، چې ستونزې هغه لویو کاڼو ته ورته دي، چې د اوبو مخه نیسي، که دغه کاڼي نه وای اوبو به غږ نه درلود.

## کله کله فیصلې مه کوئ

ځینې وخت حالات داسې وي، چې په هغه کې د فیصلې نه کول پکار دي، په دغو حالاتو کې اکثر غلطې فیصلې کېدلای شي.

. په جذباتي حالاتو کې مهمې فیصلې مه کوئ، د پریشانۍ فکر مندي، اضطراب او د تشویش په حالت کې هم مهمې فیصلې مه کوئ، په داسې حالاتو کې خپلې فیصلې ملتوي کوي.

په ناجوړتیا کې مهمې فیصلې مکوئ.

له سخت انتهایي ضرورت نه پرته زر فیصله مه کوئ، د فیصلې له کولو مخکې ویده کېږئ.

که مو ډېر تنهایي، یا مو ډېر درد محسوسولو بیا هم مهمې فیصلې مه کوئ.

تر څو مو چې د مسئلې ټول اړخونه په ښه طریقه ځانته نه وي معلوم کړي، بیا هم مهمې فیصلې مه کوئ.

کله چې له تاسو سره کافي معلومات نه وي، بیا هم د مهمو فیصلو کول نه دي پکار.

کله چې موږ د کومې فیصلې کول غواړو، باید چې صبا ورځې یې مطالعه کړو، یا د راتلونکي لمانځه تر وخته ، دلمانځه له اداء کولو وروسته لوی مهربان خدای جل جلاله ته عاجزي وکړو، دعا وکړو،و له دعا نه وروسته مو وچې هر څه اول ذهن ته راشي، باید په هغه عمل وکړل شي.

## ایا تاسو یو ښه انسان یاستئ؟

دې نهه پوښتنو ته ځواب ورکړئ او د خپلې ښېګڼې کچه وسنجوئ: د ډېرو خلکو دا خوښېږي او فکر کوي، چې ښه انسانان دي، مګر تریخ حقیقت دا دی، چې ډېر خلکو دومره هم ښه نه دي، چې فکر کوي ښه دی، په دې لیکنه کې نهه پوښتنې شتون لري، چې دا جوتوي، ایا تاسو سره په رښتیا ښه انسانان یاستئ؟

دغه راز دا نهه پوښتنې له تاسو سره مرسته کوي، چې ښه انسانان شئ.

۱. ایا له نورو سره د زړه خوږي احساس کوئ؟

یو له هغو مواردوڅخه، چې د ښو انسانانو په اړه شتون لري دا دي، چې هغوی نورو ته په داسې ډول ارزښت ورکوي، چې نور یې نه شي کولای، هغوی د نورو درد او خواشینی احساس بیانوي، چې په هغو باندې پوهېږي.

۲. ایا په قصدي ډول نورو ته زیان رسوئ؟ ښه انسانان هېڅکله نورو ته زیان نه رسوي.

۳. ایا د هغو کارونو په وړاندې، چې د نورو له پاره یې ترسره کوئ، له هغوی څخه کومه تمه او هیله لرئ؟

ښه انسانان د انسان دوستی په خاطر چې لرې یې، د خپل ګاونډي له پاره د خپلو دوستانو او خپلې کورنی له پاره او دغه راز د خپلې ټولنې له پاره کارونه تر سره کوي، لنډه دا چې هغوی پرته له کومې هیلې او تمې څخه د نورو له پاره کارونه ترسره کوي.

۴. ایا د هغو کارونو د ترسره کېدو لپاره ، کوم چې تاسو ته ګټه نه دررسوي وخت ورکوئ؟

معمولاً ښه انسانان د خپل وخت یوه برخه د هغو کارونو ترسره کېدو ته خانګړې کوي، کوم چې باید ترسره شي، یا مرستې ته له اړمنو انسانانو سره مرسته کوي.

۵. ایا کله چې له نورو سره مخامخ کېږئ او یا هم له هغوی سره راکړه ورکړه کوئ، ادب مراعات کوئ، مهربان یاستئ او هغوی درک کوئ؟

ښه انسانان له نورو سره په مینه او درنښت مخامخ کېږي، هغوی مهربان دي، نور درک کوي او د هغوی ځای پېژني، هغوی متواضع دي او هېڅ‌چا ته

لټونکي ګټونکي دي

په کمه سترګه نه ګوري، که چېرې تاسو هم ښه یاستئ، نو همداسې چلند وکړئ.

۶. ایا د نورو بدي غواړئ؟ ښه انسانان پر ځای د دې چې په نورو باندې قضاوت وکړي او د هغوی بدي وغواړي، هغوی درک کوي او پوهېږي،هغوی له نورو څخه د غچ اخیستنې په لاره کې د هغوی په کارونو کې لاسوهنه نه کوي.

۷. ایا تل رښتینې یاستئ؟

ښه کسان هېڅکله دروغ نه وایي، یا دا چې د ځان ساتنې له پاره د ظاهري دوکه کوونکي تر شاه نه پټېږي، هغوی هېڅکله نورو نه دوکه کوي، په هغه څه باندې چې باور لري او سم دي، په ژبه یې راوړي او په هغه څه باندې چې ایمان لري او حق دي دربرېږي.

۸. ایا هغه کس ته ښښنه کوئ، چې تاسو ته یې زیان دراړولی؟

هو دا حقیقت لري، ښه انسانان هر کار چې اړین وي، په خپل دننه کې یې تر سره کوي، تر څو هغه چا ته ښښنه وکړي، چې دوی ته یې زیان رسولی دی.

ایا نورو ته دا اجازه ورکوئ، لکه څنګه چې دي واوسي، پرته د هغوی له غندلو؟ ښه انسانان کبرجنان نه دي، له هغه څه څخه چې نور یې لري او پرې خوشحاله دي، دوی هم خوشالېږي.

## د شخصیت لوړونې په اړه د پوهانو ویناوې

رښتنی ویاړ

دا ویاړ ندی ، چې ځواکمن راوپر ځوي، بلکې ویاړ دا دی، چې له کمزوري سره انصاف وکړي.

د عقل ارښت

هر څه چې ډېر شي ارزښت کموي، بې له عقله چې څومره ډېرېږي، هغومره یې ارزښت لوړېږي.

مشکلات مو باید اړیکو د پریکون لامل نشي: کله چې نوکان لوېږي، باید نوکان پریکړو نه خپلې ګوتې، همداسې مو وچې کله مشکلات زیاتېږي، باید خپلې ستونزې او مشکلات ختم کړو نه خپلې اړیکې، د خلکو په اړه هغه څه مه وایه چې د ځان په اړه یې ویل بد ګڼې.

دردونکی حقیقت

که چېرته مونږ پوهیدلی، چې په غیاب کې زمونږ په اړه څه ویل کېږي، نو د ډېرو خلکو په مخکې به مو موسکار نوې کړي.

د بدلون اهم لاملونه

پېنځه شیان که چېرته بدلون ومومي، نو لامله یې انسان هم بدلېږي:

قناعتونه.

پاملرنې.

ورتیاوې.

اړیکې.

رهبر او لارښود.

څلور شیان درته بریا تضمینوي

تر ټولو زیات کار.

تر ټولو زیاتې اړیکې.

تر ټولو ښه اخلاق.
تر ټولو زياته پوهه.
درې شيان مه پرېږده، چې ستا د ژوند پريکړه وکړي
بدي خاطرې.
خلک.
مال.
دريوو جملو په اړه ځان ناخبره کړه
ما اوريدلې.
خلکو ويلې.
خلک به وايي.
د خپل ځان په اړه درې شيان مه منه
نور درته قناعت درکړي، چې ته له هغوی ټيټ يې.
خپله دا عقيده ولرئ، چې ته له هغوی کم يې.
په نورو باندې د خپل لوړووالي په توان شک وکړئ.
وخت، شپې او ورځې دې وړاندې دوه انتخابه ږدي
يا به د نورو لپاره قدوه ګرځې.
او يا هم عبرت.
درې خبرې بايد تل په ياد ولرئ
له مرګ څخه خلاصی نشته.
په دنيا کې ارامي او راحت نشته.
او د خلکو له خبرو سلامتيا نشته.
د نورو ژبې نه چوپ کېږي
د خلکو خبرې د خاورو په څېر ديی، که يه هوا کې وانلوځي.
نو د قدمونو لاندې کېږي.

سالم اوسه د خلکو ژبې نه چوپ کېږي.

نورو وته احترام لرل

نورو ته احترام او درناوی درلودل هغوی ته ستا د اړتيا په معنی نه دی، بلکې دا ستا د اخلاق دي، که څه هم هغوی يې وړ نه دي.

ستا ارزښت ستا په اخلاقو پورې تړلي دي.

په الله جل جلاله باور درلودل: که په ژوند کې هر څه د لاسه ورکړې، خو په الله جل جلاله باندې خپل باور له لاسه مه ورکوه.

دوه شيان انسان نړوي

د تير وخت په اړه فکر کول.

او د نورو په کړنو ځان مشغولول.

يواځې خبرې پورې ندي

زما له ناوړه اخلاقو شکايت مه کوه! بلکې ماته په خپل ځان کې وښايه، چې بايد په اخلاق څرنکه وي.

له دريو شيانو ځان وساته: د خوښۍ پر وخت له ژمنې.

د غوسې پر وخت له ځوابه.

او د غم پر وخت له پريکړې.

له ما وپوښته

که غواړې چې زما شخصيت معلوم کړې، نو له ما پوښتنه وکړه يا راسره ملتيا وکړه، که دا دې، له وسه پوره نوې، نو زما په اړه له چا پوښتنه مه کوه، ځکه زمونږ ټولنه له کينه کرو او نفاق اچوونکو ډکه ده.

وهم او حقيقت

له وهمې او خيالي مانيو څخه درته د حقيقت جونګړه ډېره غوره ده.

په اړه يې اندېښنه مه کوه

که څوک تاته بد رد وايي،ستا د رسوايي او زيان هڅه کوي، دا معنی نه ده، چې ته يې د زړه په ترلاسه کولو کې پاتې راغلی يې، بلکې تا يې له ناوړه څېرې پرده پورته کړه.

تفکير

هر شخص د خپل فکر او پاملرنې له زاويې د نورو کړنې څاري.

د چا غيبت مه کوئ.

د چا سپکاوی مه کوئ.

په چا ظلم مه کوئ.

او د چا په نيتونو او خاطرو کې مه ورننوځئ.

تريخ حقيقت

فرضاً که په اوس وخت کې درته زمينه مساعده شي، چې د خپل ځان په اړه پشې شاه کېدونکې خبرې واورې، نو له هغې چا به درته سخته صدمه ورسي، چې مخامخ درته خندا کوي.

د ځان درناوی وکړه

چا چې دې درناوی وکړ، ته يې هم درناوی وکړه، چا چې سپک وګڼلې، د هغه نه په لريوالي د ځان درناوی وکړه.

د خپل ځان د درناوي يو ډول دادي: چې له هغه اشخاصو جلا شئ، چې ستا قدر او اهميت نه پېژني.

د قناعت عينکې

قناعت هغه عينکې دي، چې په سترګو دې وي، نو ژوند درته ښکلی ښکاري، خو که د سترګو دې لرې کړې، نو بيا سترګې په هيڅ شي نه مړېږي.

چوپتیا

په سختو حالتو کې چوپتیا درناوی او احترام زېږوي، په ځای د جنجال او جګړې چې د کینې او نفرت لامل کېږي.

عقلونه هله کوچنې شي

چې د نورو په عقلونو مشغوله شي او هله لوړ شي، چې کله یې تمرکز او پاملرنه خپل ځان ته شي.

تنهایي

یواځې خوښ ښه یې له دینه چې ترځنګ دی، زر منافقین وي.

بشریت د عقلونو په دري ډوله دي:

لوړ عقلونه چې له افکارو او نوښتونو بحث کوي.

متوسطه عقلونه چې له پېښنو بحث کوي.

ټیټ او کمزوري عقلونه چې له خلکو خبرې کوي.

ستا عقل له کوم یو څخه دی؟

پیاوړی عزم

د حق په لاره کې یواځې پاتې ښه یې لدینه چې باطل د لارې سر لښکر شي.

مه خفه کېږه

که یو څوک ستا قدر او احترام نکوي، ځکه دا د انسانانو طبیعت دی، تر هغې د نعمت ارزښت نشي پېژندلای تر څو چې له منځه ولاړ شي.

اړتیا

اړتیا کله سپین ږیری هم ټوپ وهنې ته اړ کوي.

عقل

یواځې دا پوره نه ده، چې ښه او پیاوړی عقل ولري، بلکې مهمه او لازمه دا ده، چې ته یې ښه او پر ځای استعمال کړې.

Scanned by CamScanner

تل خیرخواه اوسه

د نورو سوکالي ستا خوښې نه ختموي.

د نورو مالداري ستا زرق نه کموي.

د نورو روغتیا ستا صحت ته زیان نه رسوي.

تل پاک نفسه او خیر خوا اوسه، د نورو لپاره هغه څه خوښ کړه، چې د ځان لپاره یې خوښوې.

باید پر یو بل رحم وکړو

که چېرې انسانانو د زړونو لېدل ممکن وي، نو د هر زړه دردونکي کېسې به مو لوستې وي، راځئ، چې په یو بل رحم وکړو، ښایي اللّٰه جلّ جلاله پر مونږ رحم وکړي.

ستا ارزښت په تا پورې تړلی دی

خلکو ته په ځان ښوونه ژوند مه تیروه پدې تمه چې څوک دې خوښ کړي.

ستا ارزښت په نورو کې ندی، بلکې ستا په داخل پورې تړلی دی.

په ځان باور کول: په ځان باور دا عقیده لرل ندې چې ټول خلک دې تا خوښکړي، بلکې دا عقیده لرل دي، چې د خلکو خوښي او نه خوښي ستا په شخصیت اغېز ونه کړي.

د هېڅ چا سپکاوی مه کوه

مرغان مېږیان خوري، خو کله مړه شي، بیا یې مږیان په خوراک پیل کوي،، حالات بدلېږي.... د هېڅ چا سپکاوی مه کوه، که نن ځواکمن یې نو په یاد ولره چې زمانه له تا ډېره ځواکمنه ده.

د غږ لوړول سرټیتوب ندی

که چېرې غږ لوړول سرټیتوبو وي، نو سپی به په سرټیتوب کې د ټولو سردارو.

**له ځانه پیل وکړه!**

د دې پر ځای چې د فتوی پر کرسۍ ناست او پر نورو تور پورې کوې. خپل ځان د اصلاح هڅه پیل کړه.

**له ځان وروسته ګناه مه پرېږده**

نیکمرغه هغه څوک دی، چې له مړینې سره یې ګناهونه هم مړه شي.

**د نورو پرده ساتل**

که غواړې چې د الله تعالی له لورې په پرده کې پاتې شي، نو هغه د هېڅ یو بنده بې پرده ګي مه کوه.

**صبر**

د صبر په اموخت سره، د ژوند نیمې ستونزې حل او کمېږي.

**له نورو سره ښګیره**

د اسمان د لاندې او د ځمکې پر سر په هر ځای کې له هر چا سره ښیګیره. او نیکي وکړه، ځکه ته نه پوهېږې، چې کله او چېرته به یې بدله مومې؟!

**قناعت او رضایت**

چا چې دنیا کې په لږه قناعت وکړ، ټولې ستونزې به ورته اسانه شي.

**ستونزمنه ده، په هر زړه کې ځای پېدا کول**

دا لازمه نده ، چې د ځان لپاره په هر زړه کې ځای پېدا کړې، ځکه د خلکو وزړونو تنګ شوي، بلکې یواځې دا پوره ده، چې د دوی په نفسونو کې خپل احترام د راټولولو کوښښ وکړې.

**د خوښې او کرکې لامل**

څوک چې دې د کومو خویونو لامله خوښوي، د هغې د نشتون لامله درڅخه کرکه هم کوي.

وروځنې حقيقت

مونږ ځېنې داسې اشخاص له لاسه ورکوي، چې مړه نوې مګر په هغوی کې هغه صفات مړه شوې وي، چې له امله به يې مونږ خوښول.

يو سپين ږيری راته وويل

يو وخت زه او صحت دواړه د مال په لټه کې وو، خو نن زه او مال د خوښې او کرکې لامل: څوک چې دې د کومو خويونو لامله خوښوي، د هغې د نشتون لامله درڅخه کرکه هم کوي.

•

وروځنې حقيقت

مونږ ځېنې داسې اشخاص له لاسه ورکوي، چې مړه نوې مګر په هغوی کې هغه صفات مړي شوې وي، چې له امله به يې مونږ خوښول.

يو سپين ږيري راته وويل

يو وخت زه او صحت دواړه د مال په لټه کې وو، خو نن زه او وصحت دواړه د مال په لټه کې وو، خو نن زه او مال دواړه د صخت ب لټه کې يو!.

**وقفه**

ابو عبيد الله جعفر بن محمد بن علي وايي، ما ته مې پلار داسې نصيحت کړی، چې له پېنځه ډوله کسانو سره ناسته ولاړه مه کوه!

د فاسقانو له ملګرتيا نه ځان ساته، ځکه فاسق به دې په لږ څه خرڅ کړي.

د بخيل له ملګرتيا نه ځان ساته، ځکه بخيل به دې په هغه ځای کې وشرموي، چې ته به يې مال ته سخت ضروت لرې.

د دورغجن له ملګرتيا نه ځان ساته، ځکه هغه به درته لرې شي رانږدې او نږدې به درته لرې ښايي.

د کم عقل له ملګرتوب نه ځان ساته، ځکه هغه به د ګټې په نيت تاوان درسوي.

د خپلوي پرېکوونکي له ملګرتیا نه ځان ساته، ځکه خپلوي پرېکوونکی مې د الله تعالی په کتاب کې درې ځایه له کافرو سره یو ځای لېدلی دی.

**د دې اوه (۷) شیانو په اړه هېڅ ډول اندېښنه مه کوئ**

اندېښنه ستاسو روغتیا لپاره جدي ګواښ ګڼل کېږي او ستاسو هڅې او فعالیتونه له خنډ سره مخ کوي. اندېښنه کولای شي ، تاسې له سردرد، د اشتها نشتوالی، په تېولنیزو اړیکو فشار او په چارو مو منفي اغېزه هم کولای شي، دلته هغه ۷ شیان ، چې موږ روښانه کوو چې تاسو باید د دې په اړه اندېښنه ونه کړئ.

**ستاسې په اړه د نورو خلکو نظریات**

که تاسې په خپلو بوختیاوو کې ښه روان یاست؛ نو ډاډمن اوسئ او لا هم خپل ټول پام مو خپلو چارو ته وکړئ، د دې اندېښنه مه کوئ، چې نور خلک به زما په اړه څه نظر لري او دغه چارې ما ترسره کړي دي، څوک پرې بې ځایه نیوکه ونه کړي، تاسې او ستاسو شخصیت تر هرڅه ډېر ارزښت لري او باید د خپل ځان اهمیت پخپله درک کړئ، ستاسې چارې تاسې تر هر چا خپله ښه مخته وړلای شئ، ځکه تاسو د نورو خلکو په پرتله ډېر مستحق یاست.

**ستاسې تېروتنې**

موږ ټول تېروتنې کوو، لامل یې دا دی، چې موږ په ژوند کې د بېلابېلو موخو ټاکنه کړې ده او دا لازمې خبره ده، چې د موخو په ترلاسه کولو کې به له ستونزو سره مخ کېږو او ستونزو ته حل لاره د تېروتنو سره مل وي، دا منل شوی حقیقت دی، چې د ژوند سترې موخې د تېروتنو وروسته ترلاسه کېږي.

## ستاسو تېر ژوند

تېر وخت خپل مزل طی کړی دی او یا بیا نه راګرځي، که تاسې په تېر وخت کې څه زده کړي وي؛ نو دا ستاسو لپاره د ارزښت وړ ده؛ خو که څه مو نه وي زده کړي، اوس یې هم ښه وخت دی او همدا اوس یې پېل کړئ، دا مهمه مه بولئ چې تاسې څوک یاست، له کوم ځای څخه راغلي یاست، بلکې په دې فکر وکړئ، چې تاسو موخه څنګه وټاکئ؟ تېر ته اندېښنه نه؛ بلکې فکر وکړئ او له تېروتنو مو زده کړه وکړئ.

## ستاسو راتلونکی

ستاسو ښه راتلونکې د نن ورځې هڅو پورې تړاو لري او خپلې هڅې مو جارې وساتئ، که تاسې د ښه راتلونکي هیله لرئ؛ نو اندېښنه راتلونکي ته مه کوئ، چې څنګه به ښه ژوند ښه کور، ښه موټر او ښه دنده ولرم، بلکې ټول تمرکز مو په هغو بوختیاوو وکړئ، چې تاسې د روښانه راتلونکي لپاره بېل کړې دي.

## ستاسو دنده

زیات خلک شته چې ښوونځی پرېږدي او د مادي امتیازاتو لپاره کوچنۍ دندې ته اپلای کوي، دا چاره زیانمنوونکې ده او له مختنه تګ مو ساتلی شي، تاسې د نن زحمت ومنئ، سبا به خپله د راحت خاوندان یاست ، په دې اړه اندېښنه مه کوئ، چې که زده کړې وکړم، دنده به ترلاسه کړم؟ بلکې په دې حقیقت خپل هڅې بدرګه کړئ، چې بې زحمته راحت نشته او د نن زیارکښنه ځوانان د سبا اتلان دي.

## د زده کړې لپاره له ویناو ګټه واخلئ

۱. پر موضوع د حاکم او متخصص شخص ویناوې واورئ، دوی مسایل په اسانه تشریح کولای شي، تاسو یې هم ترې ښه زده کوئ.

۲. د فعال اوریدو هنر زده کړئ، فکر، زړه او نیت مو اوریدو ته متوجه کړئ، د ویناوال خبرو، کلیماتو، لحن اشارو، موسکا، کتلو او لېوالتیا ته متوجه واوسئ، هر یو یې ارزښت لري او په هر یوه کې یې تاسو ته یو پیغام شت.

۳. د امکان تر بریده د وینا د تالر یا ټولګي په لومړۍ لیکه کې کینئ.

۴. د درس یا وینا د پیل او پای دواړو لپاره ځان تیار کړئ، مهم موضوعات په لومړۍ بر خه کې ویل کېږي او په پای کې تکرارېږي.

۵. که ضرور وه له ځینو ځانګړو درسونو او ویناو څخه د ښې استفادې لپاره د وینا په تالار یا ټولګي کې د مهمو ټکو اصلي او ځینې فرعي پیغامونه یاد داښت کړئ او له ځان سره یې وساتئ، د اړتیا پر مهال یې تکرار کړئ.

٦. په هم مهال ډول د اوریدو او یادداښت لیکلو مهارت زده کړئ، دا مهارت ورو- ورو تر لاسه کېږي.

۷. یادښتونه مو وروسته له سره ولیکئ، منظم او تصنیف بندي یې کړئ، ویې ساتئ او و،یې کاروئ.

۸. هره پوښتنه ، چې مو په ذهن کې ګرځي، له ځان سره یې ولیکئ.

۹. که کوم شی مو د نظر مخالف و، هغه هم یادښت کړئ، بیا پرې فکر هم وکړئ او له ویناوال یا ښوونکي سره پرې د امکان په صورت کې بحث هم وکړئ.

۱۰. دقیق اوسئ، جزئیات، مهم ټکي، مهم لغتونه، مهم اتصالي ټکي او مهم تاکیدي ټکي په پام ولرئ.

Scanned by CamScanner

۱۱. که تر وینا وروست د بحث فرصت و او همدارنګه په ټولګي کې فعال اوسئ، په پوښتنو، ځوابونو، تبصرو، مباحثو، تکرار او تمرینونو کې برخه واخلئ.

۱۲. تر مباحثې مخکې باید پدې ډاډه شئ، چې مفاهیم مو ښه پوره زده دي، چې غواړئ بحث پرې وکړئ.

## لالچ ځنګه پیدا کېږي

لالچ د نفس له دورغجن عزت څخه پیدا کېږي، مطلب دا چې یو کس په دورغو په خپل ځان فخر کوي او د یوه مقصد لپاره بل چا ته د ځان اظهار کوي، د لالچ نه د بچ کېدلو ښه طریقه دا ده، چې تاسو د خپلو وسائلو مطابق مطمئن اوسېدل زده کړي، یاد لري چې د قناعت پسندي مطلب دا نده چې تاسو د مخته تللو ارزو مه کوئ.

## د کامل یقین نشتوالی

کوم خلک چې له کامل یقین څخه خالي وي، هغه د سرک په منځ روان وي، تاسو پوهېږئ، چې د سرک په منځ د تلونکو انجام څه وي.
د کامیابۍ له مهمو رازونو څخه یو دا ده، چې تاسو له کومې خبرې سره د مخالفت کولوو په ځای د هغې تائید او حمایت وکړئ، تاسو د هرې مسئلې په مخالف طرف کې مه درېږئ، بلکې د حل په طرف کې ودرېږئ.

## په دنیا کې درې ډول خلک دي:

۱. داسې خلک کوم، چې لوی لوی کارونه کوي.
۲. داسې خلک کوم، چې واقعاتو او حالاتو ته صرف ګوري.
۳. داسې خلک کوم، چې په واقعاتو او حالاتو باندې فکر او او غور کوي.
سوال دا دی، چې تاسو له کومو څخه یاست؟
عقیده له یقین کامل څخه پرته محض وهم وه.

Scanned by CamScanner

## پلان جوړونه او تیاري نه کول

د ګټلو خواهش له هر چا سره وي، مګر د ګټلو لپاره د تیاری کولو خـواهش له څېنو څېنو سره وي.

اکثر خلک داسې وي، چې د تفریح لپاره تیاري کوي مګـر د خپلـې زنـدګی لپاره منصوبه سازي نشي کولی.

د تیاري کولو لپاره مطلب دا دی، چې ناکامي به برداشت کوي، مګر ناکـامي به بالکل نه منی،د تیاري مطلب دا دی، چې له خپلو غلطیو څخه سبق زده کړل شي، د غلطیو کولو غلط ندي، له مونږ څخه غلطي کېدلای شي، البته بې وقوف هغه څوک دی، چې یوه غلطي بیا بیا کوي، کوم خلک چې غلطي کوي او د هغې اصلاح نه کوي، په دویم ځل له هغې بله لویـه غلطـي ترینـه کېږي.

## تجزیه

ګټونکي خلک تجزیه کوي، بهانې نه کوي، ځکـه چـې دا د بـایلونکو خلکـو کار دی، له دوی سره یو کتاب وي، کوم چـې د ناکـامیو لـه جـواز نـامو څخـه ډک وي، مثلا هغوی لیکلي وي.

زه بد قسمت یم.

زه په منحوس وخت کې پیدا شوی یم.

زما عمر کم دی.

زما عمر زیات دی، زه بوډا شوی یم.

زه مجبور یم.

زه ډېر هوښیار نه یم.

زه تعلیم یافته نه یم.

زه ښه خواني نلرم.

زما له چا سره روابط ، تعلقات نشته.

له ما سره ډېرې روپۍ نشته.

له ماسره وخت نشته.

کاشکې ما ته موقع په لاس راشي.

د بایلونکو خلکو دغه فهرست له دې څخه هم اوږد وي، د هر کس د کامیابیدلو فیصله دوه شیان کوي، وجوهات او نتائج، وجوهات باید شمار نکړل شي، تر څو چې نتایج شماریدلی شي.

## د جرئت نشتوالی

کامیاب خلک په خپلو کارونو کې په خنډونو د غالب کېدلو لپاره د جرئت او قوت هڅه او تلاش کوي، کله چې د موږ ذهن له جرئت څخه ډک وي، نو خپله هیره مو هیرېږي او په خنډونو باندې برلاسی کېدلای شو، جرئت د خوف د نه موجودیدلو نوم ندی، بلکې په خوف باندې د غالب کېدلو نوم دی، کردار، انصاف او د یانتداري له جرئت نه بغیر مؤثره نه وي.

### دوه ځانګړتیا وې

په چا کې چې دوه خصلتونه وي، اللّٰه تعالی ورسره مینه : تقوا او ښه اخلاق.

په چا کې چې دوه خصلتونه وي ، خلک ورسره مینه کوي: ښښنه او نېکه رویه.

په چا کې دوه خصلتونه وي، ګاونډیان ورسره مینه کوي: پراخه تنده او په چلن کې شرافت.

په چا کې چې دوه خویونه وي، ورونه یې ورسره مینه کوي: د هغوی ناپوهي زغمل او له هغوی سره مهرباني کول.

په چا کې چې دوه خویونه وي، ښوونکی ورسره مینه کوي: درس ژر یادول او د هغوی احترام کول.

هر څوک چې دوه خصلتونه ولري، کورنی یې ورسره مینه کوي: له هغوی سره نېکي کول او د هغوی د مشکلاتو درک کول.

# درېیمه برخه

**له خلکو سره یو ځای شه**

ګوښه کېږه مه، بلکې خپلې نظریې له خلکو سره تبادله کړه او هېڅوک سپک مه ګڼه.

**له ځان سره رېښتینې اوسه**

ځان سره دوکه مه کوه او له دروغو ځان وساته ،اخلاص ، دعا او د ثواب په نیت کار کول یاد کړه.

**لمونځ وکړه**

د اندېښنو او نا امیدیو یواځېنی علاج د لمانځه پابندي ده، د لمانځه پر پابندۍ ټینګار وکړه، خشوع زده کړه، د لمانځه وخت لمانځه ته ورکړه، د لمانځه په وخت کې خپل ذهن په نورو شیانو مه مشغوله کوه، ځکه دا درڅخه د لمانځه ګټې ورکوي، نوافل ډېر کوه تر څو ورسره عادت شي.

کله چې د لمانځه وخت شي او ته کوم کار لرې، کار ته دې وواېه چې زه لمونځ کومه نه دا چې لمونځ ته وواېې چې زه مصروف کار کووم.

**دعا وکړه**

دعا په یقین سره غواړه، له نېک عمل، رښتیني غوښتنې ، غوره مطلوب او بیا بیا زارۍ سره یې ملګری کړه، چې غوښتنه دې ومنل شي.چې دعا د عبادت مغز دی.

**موسکی شه**

موسکی کېدل د نېکبختۍ کیلي ده، هر کار په کوښښ سره کېږي او د کوښښ کیلي موسکی کېدل دي او موسکی کېدل یوه فرض شوې صدقه ده.

**مینه**

مینه د ټولو کارونو اساس دی، دا زده کړه، چې له خپل رب، دین، وطن، ځان، کورنۍ مسلمعنینو ، ژوند،..... او ټول مخلوق سره څرنګه مینه وکړې؟

**ذکر کوه**

کله چې دې هم زړه ته منفي فکر راشي، نو تر ټولو لومړی ذکر شروع کړه، نوي نوي اذکار وکړه او خوند ترې واخله ، د ذکر د وختونو لپاره پلان جوړ کړه.د الله جل جلاله په کلام باندې زړه ته سکون ورکړه، نه په عبثیاتو ، سندرو او نورر کارونو .

**توکل او ښه ګومان کوه**

په ارام سره کار کوه او پر الله تعالی ښه ګومان کوه، خو شحاله اوسېږه او د مصیبتونو له امله مه راټولېږه، موسکی شه او د الله تعالی له رحمت څخه مه نا امیده کېږه.الله تعالی باندې همېشه باوري اوسه ؛ ځکه هغه د هر چا ښه کار ساز دی.

**د هغوی د تجربو لنډیز**

✓ په ژوند کې لوی دردونه شته؛ نو د ژوند خوښې تر هغو ډېرې لویې دي، بلکې په خپله ژوند له ټولو دردونو او خوښیو لوی دی.

✓ پوره ژوند دا دی، چې : ځواني دې په هيلې او خوځښت ، سړيتوب د ژوند په جګړه او بوډاوالی په ژور لرو، لېوني به يو، که د فکر کولو اراده ونه لرو، متعصب به يو او که د فکر کولو زړورتيا ونه لرو؛ نو غلامان به يو.

✓ د وړيو په پستو بسترو ويده خلک لوړوالی نشي تر لاسه کولای.

✓ کله چې له شانه دې کې درکول کېږي؛ نو پوه شه چې د کاروان په سر کې يې.

✓ د علم لومړی پړاو چوپتيا ، دويم يې اوريدل، درېيم يې زده کول ، څلورم يې عمل کول او پنځم پړاو يې نورو ته رسول دي.

✓ ژورنالستانو راځخه پوښتنه وکړه، تا له ډېر وخته راهيسې څنګه وکولای شول، چې هره ورځ څوارلس ساعته کار وکړې او هملته په کار ځای کې ويده شې؟ ما ورته په موسکا وويل: ما يوه ورځ هم کار نه دی کړی، زه هسې لوبې کوم؛ ځکه زه خپل کار خوښوم.

✓ تر ټولو خوښ شی روغتيا ده، که د مصيبتونو تريخوالی نه وای؛ نو خلک درځخه د ژر پای ته رسولو د وخت پوښتنه نه کوي، بلکې د کار کره والی او ښه والی در څخه غواړي.

✓ موسکا کلک خلک هم ويلې کوي، خوشحالي خپروي ، په زخم پټی ږدي او د انساني اړيکو د پرانستلو کيلي ده .

**له ژونده خوند واخلئ!**

له ځانه ښکته خلکو ته ګوره او تر ځان پورته خلکو ته مه ګوره ! نو د الله تعالی نعمتونه به درته سپک نه ښکاري.

د دنيا له پلوه تر ځان ښکته خلکو ته کتل انسان شکر ته اړباسي او د دين له پلوه تر ځان پورته خلکو ته کتل انسان لا ډېرو نېکيو ته هڅوي، چې دغه دواړه کاره خپله په ژوند کې خوند پيدا کوي.

Scanned by CamScanner

## مؤمن ولې نه نامیده کېږي؟

دا څه راز دی، چې مؤمن هیله من او کافر ناهیلی وي؟

راز دا دی چې مؤمن پر دې خبره ایمان لري، چې زه یو رحیم او قدیر رب لرم، هغه چې د محتاج دعا قبلوي، تکلیف ورڅخه لرې کوي، ډېر څه ورکوي، ګناهونه یې ښښي توبه یې قبلوي، له بدیو یې تېرېږي، داسې رب، چې پر خپل بنده د هغه تر موره هم څو چنده ډېر مهربانه دی، له خپل مخلوق سره د هغوی تر څانونو ډېر ښه کوي، د شپې مهال د دې لپاره لاس را اوږدوي، چې د ورځې ګنهګار توبه وباسي ، د خپل بنده پر توبې تر هغه مسافر ډېر خوشالېږي، چې په دښته کې یې سپرلۍ ورکه کړې وي او بیا یې بېرته پیدا کړي، یا یو ورک شوی کس خپله لاره پېدا کړي او یا یو تږی انسان اوبه مونده کړي.

هغه داسې معبود دی، چې د نیکۍ بدله یو په لس، یو په اووه سوه او بلکې تر دې هم زیاته ورکوي او د ګناهونو بدله د همغو په اندازه ورکوي او کله کله ګناه همداسې هم ښښي.

## لره کینه روغه سینه

خوږو لوستوال!

په دې نیمګړې ژوند څه باور دی، دا خو هسې هم په ختم حساب دی، فقط دغه څو لحظې راسره د اجل امانت دي؛ خو بدقسمته هغه څوک دی، چې دغه څو لحظې ژوند هم د کینې په اور سېځي او له خپله لاسه خپل خوږ ژوند تریخوي. که زما منئ ، نو راځئ، چې د شیطان زړه له وچې ډاګې ووهو، ټولې دښمنۍ او تربګنۍ تر پښو لاندې کړو، د کینو پر اورونو یخې اوبه واړو، چې شنه لوګې وکړي، یوه بې ازاره ټولنه راجوړه کړو او خپلمنځي بدبینیو ته د قمر زمان تایزي پر دغه بیت د پای ټکی کېږدو، چې وایي:

دا ژوند خو زموږ کم د محبت لپاره هم دی!
حیران یم چې نفرت ته وزګارېږي خلک څنګه !؟

## لنډ تنګ ژوند

په دې لنډ تنګ او بې برکته ژوند څه باور! کلونو د میاشتو او میاشتې د جمعو غونډې ژر تېرېږي، وړکتوب، ځواني او زړښت هر څه تېوکې غونډې ښکاري، یو څوک به پرونی هلک ګڼې؛ خو هغه به د بچیو او لمسیو خاوند وي، ځان دې هېر دی! ته به څو کلن وې؟

ژوند ډېر لړ دی او بیا زموږ په دې خواره تیولنه کې پام چې دغه پاتې څو لحظې ژوند درڅخه په خوشو تشو تیر نشي۔ ځکه همدغه څو پوروړې لحظې د یوه ابدي ژوند د خوښیو او کړاوونو کرونده ده، که خواري وکړو، په دغو څو لحظو کې د خپل خالق په رضا کولو د (دار السلام) او (فردوس) جنت وړ ګرځیدای شو، چې د ابدي نعمتونو کورونه دي؛ خو په دې لړ کې مو لږه بې پروایې الله مه کړه! د دوزخ کندو ته غورځوي.

### ټولنیزې اړیکې ښې وپالئ

ښه اخلاق او ښې اړیکې د ټولنیز ژوند سینګار جامه ده، د ښه شخصیت خاوندان تل له ښه چلند او سلوک څخه کار اخلي، که تاسې ټولنیزې اړیکې ښې او پراخې کړئ؛ نو هومره مو شخصیت ورسره لوړېدای شي.

### ځان ته مو یو هدف وټاکئ

بریالي خلک تل پر ځان باور لري؛ نو ځکه خو ځان ته هدف هم ستر ټاکي، که تاسې کوچنی هدف وټاکئ؛ نو ممکن ژر یې ترلاسه کړئ، ښه خبره دا ده، چې ځان ته ستر هدف وټاکئ، دغه راز خپل خیالات او تصوراتو ته په سپکه مه ګورئ، بلکې خپلو چارو ته لاښه پام وکړئ او د خپل هدف شاه ونیسئ.

### امانت دار اوسئ

امانت خیانت کول ستاسو شخصیت بې باوره کوي، دروغ ویل، خیانت کول، په وعده وفا نه کول؛ دې هغه سترې خانګړنې دي، چې په خپلو یې انسان دوه مخې، بې باوره او رسوا کېږي، بریالي اشخاص تل امانت په خپل مالک سپاري او نه یې خیانتوي.

### حقیقت

حقیقت دا نه دی، چې مونږ وایو، مونږ نه شو، بلکې حقیقت دا دی، چې مونږ یې کوو نه.

دا فرق نه کوي؛ چې مونږ څومره لرو، بلکې دا اړینه ده، چې مونږ څه لرو په هغې مو څه کړي.

هغه څه چې لرو د هغې باره کې ډېر څه بدلون نه شو راوستلی ، خو مونږ هغه څه چې لرو د استعمال لاره یې بدلولی شو.

سطنج کې که یو پیاده سم وکارول شي، نو وزیر ترې جوړېدای شي.

### د بریالیو کسانو د بریا کیلي

یو ځل مې له یوه کس څخه وپوښتل، تر ټولو لوړه موخه دې څه ده؟ ویې ویل، زړه مې غواړي چې یوه لویه مغازه جوړه کړم، ومې پوښتل ، دې موخې ته د رسېدو لپاره دې تر اوسه څه کړي، ویل یې، څه مې نه دي کړي، ځکه نه پوهېږم څنګه او له کومه خایه یې پیل کړم، وړاندیز مې ورته وکړ، هغه ځوک چې دغه ډول مغازه لري،د غرمې لپاره یې دعوت کړه، د ډوډۍ خوړلو پر وخت ترې وپوښته چې څه ډول یې په لومړیو کې د مغازې جوړولو کار پیل کړ، په سر کې کومو شیانو ته اړتیا ده، د کار په اوږدو کې له کومو ستونزو سره مخ شو؟ څه ډول یې له ستونزو د وتلو لاره پیدا کړه او...

ویې وئیل، آیا کېدای شي چې داسې وکړم؟ بې له شکه چې دا کار امکان لري، په هره برخه کې چې کار کوي د همدې برخې له ماهرو کسانو سره

مشوره وکړئ، خبرو ته يې غوږ ونيسئ او ګټه ترې پورته کړئ، کېدای شي پوښتنه درته پيدا شي چې څنګه به دا ډول کسان له موږ سره خپلې تجربې شريکې کړي او خپل وخت به زموږ په واک کې راکړي؟ د مثال په ډول يوه کولال څنګه وغواړي ، چې د کوزې جوړولو چل موږ ته را زده کړي او په خپل لاس د ځان لپاره رقيب وتراشي؟ دا خبرې مو له ذهنه لرې وغورځوئ، ډېرې کسان غواړي خپلې تجربې، په کار کې لېدلې ستونزې، برياوې او په ټولنه کې د خپل کار په اړه له نورو سره خبرې وکړي او ډېر کله هغه کسان چې په خپل کار کې بريالي وي، له دې ډول خبرو خوند اخلي او ويو ډول د خوښۍ احساس کوي.

**ښه اخلاق**

دا يو روحاني کيفيت دی، چې له باطني چارو سره تړاو لري او د دې باطني رڼا انځور په ظاهري نښو پېژندل کېدای شي او د ښو اخلاقو تعريف داسې شوی دی.

١. په غم او خوښۍ دواړو کې د الله تعالی مخلوق خوشالول او د هغوی خوښي په پام کې نيولو ته ښه اخلاق ويل کېږي. (ابوبکر واسطي).
٢. په هر حال کې د الله تعالی خوښي پلټلو ته ښه اخلاق وايي.(ابو عثمان مغربي).
٣. د ښو اخلاقو تر ټولو لوړه مرتبه دا ده، چې په انسان کې د زغم ځواک پياوړی وي او کله هم غچ نه اخلي، دښمن ته هم د لور په سترګه ګوري او د هغه دظلم په بدله کې د هغه لپاره ښښنه غواړي. (سهل ابن عبدالله استسري).
٤. د ښو اخلاقو پېژند ګلوي په درېيو خصلتونو وسره کېږي:

١. له محارمو نه ځان ساتل، ٢. حلاب رزق ګټل، ٣. له خپل اهل عيال سره ښه چلند (علي رض).

۵. د څلورو شیانو ټولګي ته ښه اخلاق ونیلی شو:

۱. سخا، ۲. الفت . ۳. خواخوږي، ۴. شفقت. (جنبد بغدادي).

رسول الله تعالی فرمایلي دي. د قیامت په ورځ به د میزان په تله کې له ښو اخلاقو ډېر د روند شي بل نه وي او بد اخلاقه خلک د الله تعالی ډېر بدې راځي.

**څنګه له ځانه یو ښه شخصیت جوړ کړو؟**

شخصیت جوړونه ځانګړي مهارتونه او بېلابېل هنرونه غواړې ، که تاسې له ځانه یو ښه شخصیت جوړول غواړئ: نو باید لومړی باور ترلاسه کړئ، په تجربو تمرکز زیات کړئ، ځان ته مو ارزښت ورکړئ او د ستونزو په وړاندې مبارزه پیل کړئ.

که تاسې غواړئ یو ښه شخصیت ولرئ؛ نو موږ دلته اته معتبر میتودونه بیانوو چې ستاسو سره په شخصیت جوړونه کې مرسته کولای شي.

**په ځان باور او اعتماد ستاسې د بریالیتوبونو او لاس ته راوړنو اساس جوړوي**

که تاسې په ځان له باوري کسانو څخه یې؛ نو بې له شکه ، چې تاسې له عادي او عامو خلکو څخه په بېلابېلو برخو کې بیل او جلا یې له تاسې د غیري عادي کارونو تمه کېدلای شي.

څېړونکي په دې باور دي، هغوی چې په خپل ځان د بریالیتوب باور ونه لري،هېڅکله به د بریالیتوب هڅه ونه کړي او بریالي به نشي.

هغه خلک ، چې په ځان باوري وي، له وړایه معلومېږي، چې په ځان ویسادي. خو په دې موږ نه پوهېږو، چې کومو څیزونو دوې په ځان دومره باوري جوړ کړي دي.

دلته موږ تاسې ته څلور (۴) داسې کارونه در په ګوته کوو، چې په ځان ستاسې باور څو چنده زیاتوي ، دا د باوري خلکو عادتونه دي.

Scanned by CamScanner

**۱. مسکا کوي**

مسکا د ژوند مالګه ده، مسکا ستاسې دماغ په اتومات ډول د خوښۍ په لور راکاږي، مسکا ستاسې اندېښنې او پرېشانۍ تر ډېره کموي.

که غواړئ،چې په ځان باوري او ویسا اوسئ؛ نو سر له سبا، چې له لومړي کس سره مخ کېږي، خوږه مسکا ورته ورکړئ، دا کار تاسې په ځان باوري کوي او ستاسې اعتماد بالنفس څو چنده زیاتوي.

**۲. نور خلک تشویقوي**

په ځان باوري خلک په زړه کې له نورو خلکو څخه کومه ویره او ډار نه لري، بلکې نور خلک تشویقوي او هغوی هڅوي، چې خپلې وړتیاوې درک کړي او د بریالیتوب په لورې ګامونه اوچت کړي،

په ځان باوري کس په توګه ستاسې کار باید دا وي، چې که څوک درته راځي او د یوې موضوع په اړه درسره خبرې کوي، هڅه وکړئ، چې هغوي ته مثبت نظر ورکړئ او هغوې وهڅوئ، څو له موقع څه سمه ګټه پورته کړي.

**۳. مثبته بدني ژبه (باډي لنګویج) لري**

په ځان باوري خلک همېشه خلاصه، مثبته او له باروه ډکه باډي لنګویج کاروي، د دوې حرکات مثبت او د لاسونو او بدن حرکات یې باور خپرونکي وي، باډي لنګویج هومره ارزښت لري، څومره ، چې شونډو مسکا ارزښت لري.

په لاره نیغ ځئ، خپله سینه بیرون وباسې او چې کله هم ودرېږئ، نو نیغ ودرېږئ، دا ټول په ځان ستاسې باور لوړوي.

**ايمان**

څوک چې د الله تعالی په وجود ايمان ولري، نه لالهانده کېږي، څوک چې په رحمت ايمان ولري، نه ناهيلي کېږي، څوک يې چې په حکمت ايمان ولري، شک او دوه زړه توب يې له منځه ځي، څوک يې چې په مطلق قدرت ايمان ولري، سرکښي نه کوي، څو ک يې چې په څارنه ايمان ولري، دوکه نه کوي، څوک يې چې په قانون ايمان ولري، نه ګمراه کېږي، څوک يې چې په روزۍ ورکولو ايمان ولري، له چا طمع نه کوي، څوک يې چې په عدالت ايمان ولري، ظلم نه کوي، څوک يې چې په وعدو باور ولري، بې پروايي نه کوي، څوک يې چې په ګواښنو ايمان ولري، د هغه مخالفت نه کوي او څوک چې پر دې ټولو شيانو ايمان ولري، نو د الله تعالی مخلص، نږدې او محبوب بنده دی.

**ژوند همداسې دی**

هو، ژوند همداسې دی! له ګمنامۍ پيل کوو، وروسته مشهورېږو او تر هغې وروسته په قبرونو کې تر خاورو لاندې کېږو... له هغې وروسته يا د خندېدونکو او يا د ماتې خوړونکو خلکو په قطار کې ودرېږو يا خوښ او سوکاله کېږو او يا هغه ډله چې د الله تعالی قهر پرې ورېږي!

**اعتماد پرې مه کوه!**

مال دې طمع کوونکي ته مه سپاره او راز دې دوراغجن ته مه وايه، عقل دې هيله ګر او مکار ته دين دې دجال ته، سلامتيا دې جنجالي ته، علم دې جاهل ته او اهداف دې هوښيار انسان ته په واک کې مه ورکوه. ګنې پښېمانه به شي.

**ای غم ځپلو!**

ای غم ځپلو! الله تعالی ، باغونه، ګلان او دهستۍ ښکلاوې تر ټولو لومړی تاسې ته پېدا کړي.

ای ناروغانو! الله تعالی ، لمر، هوا، اوبه ا و غذا تر ټولو لومړی تاسې ته پېدا کړي.

ای ظالمانو! الله تعالی ، د اسمانِ دورازې تر هر چا مخکې ارزانه او ګټور خوراکونه تاسې ته پېدا کړي.

ای مظلومانو! الله تعالی ، هغه د اسمان دروازې تر هر چا مخکې ستاسو د دعاګانو لپاره پرانیستي.

ای دردېدلو! الله تعالی ، هغه څه تر ټولو وړاندې تاسې ته پېدا کړي، چې ستاسې په شاوخو کې دي او ستاسې د غمونو او مصیبتونو د هېرېدلو سبب کېږي.

## ژوند دا رازده کړل

**هر څوک...**

هر څوک چې قلم په لاس کې لري، لیکوال نه دی، هر څوک چې پانې توروي، مرزا نه دی، هر څوک چې ګونګه خبره کوي، فیلسوف نه دی. هرڅوک چې مسئلې ترتیبوي عالم نه دی، هر څوک چې ژبه خوځوي، ذاکر نه دی، هر څوک چې عاجزي کوي، زاهد نه دی، هر څوک چې پر اس سپور وي، مجاهد نه دی، هر څوک چې پګړی له سره تاوه کړي شیخ او پیر نه دی، هر څوک چې کاږه بریتونه یې پرېښي وي، ځوان نه دی، هر چا چې سر ښکته *نیولی* وي، عاجز نه دی او هر م وسکا کوونکی په زړه بې غمه نه دی!

## چې خلک درسره مینه وکړي

که غواړې چې خلک درسره مینه وکړي، لاره ورته پرېږده، که غواړې چې خلک درسره عدل او انصاف نه کار واخلي،د زړه پنجره دې د هغوی پر مخ پرانیزه، که غواړې چې له خلکو سره د انصاف نه ډک چلند وکړې، له عقل نه دې کار واخله او د دې لپاره چې د خلکو له شر نه په امان کې شي،و نو هغوی ته د خپل حق یوه برخه ور وبښه!

## ولې حق نه خوښوو؟

موږ د ماشومانو په څېر یو، حق نه خوښوو، ځکه د هغې د دوا تریخوالی مو ځلکی، خو د شفاء د خوږوالي په اړه یې فکر نه دی کړی او باطل خوښوو، ځکه خوند ترې اخلو، خو د هغې وژونکي صفت ته هېڅ توجه نه کوو!

## خپله شتمني په کار واچوه

هر چا چې د خپل عزت او لویوالي د ساتنې لپاره خپله شتمني په کار واچوله، هوښیار دی، چا چې پرې ډېر ملګري پیدا کړل، حکیم دی او چا چې ترې د الله تعالی د اطاعت لپاره کار واخیست، محسن دی:
(اِنَّ رَحْمَتَ اللهِ قَرِيْبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِيْنَ)سورة : العراف.
بېشکه چې د الله تعالی رحمت نېکي کوونکو ته نږدې دي.

## نا ازمویل شوی قوماندان

د جنګ په ډګر کې د بې تجربې قوماندان څخه ډډه وکړه، ځکه کېدای شي یوازې ستا په فکر کې شي او ځان هېر کړي او یا د ځان په فکر کې شي او تا هېر کړي او په دې دواړو حالاتو کې باید د ماتې په تمه واوسې!

## د عبرت په نیت

لږ تر لږه باید په ژوند کې یو ځل له زندان څخه لیدنه وکړې تر څو د ازادۍ د نعمت قدر درته معلوم شي،و په کال کې یو ځل محکمې ته ورځه تر څو د نېک چلند په قدر پوه شې، په میاشت کې یو ځل روغتون ته ورځه تر څو

د هغې ښکلا قدر درته معلوم شي، چې الله تعالی طبیعت ته وربښلي، په ورځ کې یو ځل کتابخانې ته ورځه تر څو د خپلې هغې پوهې په قدر پوه شي، چې الله تعالی پرې قدرمن کړی یې او په پای کې دا چې هر شپه له خپل پروردګار سره ملاقات کوه او ذکر یې په ژبه جارې ساته تر څو په ټولو نعمتونو کې د هغه د پېرزوینې په قدر پوه شي.

**پلرونه او زامن**

زوی د بد ملګري له ملګرتیا وژغوره، لکه هماغه ډول چې یې له بدې ناروغۍ نه لرې ساتې، ځارنه یې له کوچنیوالي څخه شروع کړه، کنه نو ناروغي به خپره شي او وبیا به یې علاج ګران وي.

د زوی د روزنې پر مهال له زوی او رټنې څخه کار اخیستل ، د هغه د لا سرکښۍ سبب کېږي او هغه ته ناز ورکول، کمزورتیا ور زده کوي او د دې دواړو جرمونو ترمنځ ستا پر وړاندې راولاړېږي!

زوی د اس د بچې په څېر دی، چې که د هغه د خوښې هر څه ورکړل شي، سر غړونه کوي ان تر دې چې کنټرولول یې ګرانېږي او که د هغه د خوښې له شیانو څخه منع کړای شي، هغه د اړونکی حیوان تررې جوړېږي، چې د خپل شاوخوا له هر څه نه کرکه کوي، له همدې امله هغه ته په ورکړه او منع کې حکیم اوسه او هغه ته له ډېرې مینې ورکولو ډډه وکړه، ځکه ستا او هغه د نېکمرغۍ لپاره مضر دی.

پلرونه له خپلو زامنو سره مینه او له لورګانو څخه نفرت کوي، خو ما ډېر لیدلي چې لورګانې له زامنو ډېر د پلارنو د نېکمرغۍ سبب شوي.

زویو ته دې پر خپل نفس د اعتماد روزنه ورکړه که څه هم ته شتمن واوسې، نو که هغه په خپله ځان ته کسب او کار پیدا کړ او د علم زده کړې ته یې شا کړه، نو هغه پر خپل نفس ځای مه کېنوه، په کور کې یې له ځان سره مه مېشت کوه او له خپله جېبه خرچه مه ورکوه، ځکه په دې ډول ته په هغه

کې د ژوند دسفر پر مهال د سختی زغملو روحیه وژنې او ما دا ډول ډېرې بېلګې لېدلي دي.

که زویــي د ځــان پــر وړانــدې د خپــل پــلار لــه توجـه څخـه نـاهیلی شي، سرغړونکی او خپلسري کېږي او که د پلار په توجــه پــوروې زړه وتــړي، لټ اموخته کېږي، غوره پلار هغه دي چې زوی یې له مهربانۍ نـاهیلی نشي- او ونه هم خپل زوی ته د خپل لطف او توجه د پابندۍ روزنه ورکړي.

د زوی د روزنې پر مهال د هغه په رټنه کې افراط کول، تا له هغه څخـه لـرې کوي، نو هوښیار اوسه، ګنې در روزنې موقع دې له لاسه وځي.

که دې ولیدل چې زوی دې د ژوند له سختیو ځـورېږي او د لـه منځـه وړلـو لپاره یې کار کوي، نو دا وروته له دې څخه غوره ده، چې په نعمتونو کې یـې پټ کړې او پر هغه تا اعتماد وکړي.

که زامن دې فاسد وي، نو پام چې خپله شتمني په واک کې ورنه کړې، ځکه هغه څه چې تا د کلونو په تېریدو لاس ته راوړي، هغوی یې په څو ورځو کې له منځه وړي، تا پرې رسوا کوي، پر لمن دې تور داغ پـورې کـوي او په پای کې دې الله تعالی ته سپاري!

هغه نیک زوی چې دعا درته کوي او خلک دې د هغه پـه واسـطه پـه نېکـۍ یادوي، له هغه زوی څخه ډېر غوره دی، چې تاهېروي او په خپلـه بـده رویه له تا سره بدي کوي، ستا زوی ستا د وجود یوه برخه ده، نـو ایـا غـواړې چې وجود او وځیګر دې په دردونو او ناروغیو اخته شي او کنه غواړې چې پاک او سالم واوسې؟

که هر پلار د خپلې ورځې او وخت یوه برخه د زوی د ساتنې او روزنــې لپاره بېله کړې وایی، پلرونه به نورر د زامنو له سرغړونې نه وای ستړي شوي.

عزتمن پلار کوي چې زوی یې تر هغه لوی شي او هوښیار پلار کوښښ کوي چې زوی یې د هغه په خبر شي او فکر نه کوم داسې پلار به هم وي، چې له ځان څخه د خپل زوی د کم راتلو کوښښ وکړي.

زوی فطرتا له تقلید سره مینه لري او تر ټولو خوښ شی ورته له مور او پلار څخه تقلید کوي دي، نو په کور کې د هغه او د هغه له مورو او له کور څخه د باندې له خلکو سره د خپلو وکړو وړو څارنه کوه.

څوک چې کور ته سر رادننه کړي، نو خپله ښځه او زوی یې هم په هغه کې د برخې اخیستلو لپاره دعوت کړي دي، که څه هم ګومان وکړي چې هغوی یې له شر څخه لرې ساتلي...

ګناهګار پلار بد زوی ته وویل: ایا له ما څخه نه شرمېږې، همدا ما روزنه درکړه او اوس راسره بدي کوې؟!

زوی یې ورته وویل: غوره دا ده، چې ته د خپل پروردګار پر وړاندې خجالت شي، څکه ته یې پیدا کړی یې، نعمت یې درکړ او ته بیا هم بدي کوې؟؟؟

**د ښځو ښکلا**

زموږ د شتمنی نیمه برخه زموږ د ښځو پر ښکلا او سینګار مصرفېږي او زموږ د دښمانو جېب ته ورځي...

**بیدار اوسه!**

له ډاکټر پرته بل چا ته د خپلې ناروغۍ شکایت مه کوه، له خپل دوست پرته بل چا ته له زمانې ګیله مه کوه، له خپل ورور پرته بل چا ته خپل راز مه وایه، د لاس وتلیو شیانو په اړه یوازې هغه چا ته خپل غم ووایه، چې مرسته درسره کولای شي، یوازې هغه چا ته خپل غم ووایه، چې مرسته درسره کولای شي، یوازې هغه چا ته نصیحت کوه، چې خبره ته دې احترام ولري او خپل نظر هغه وخت خلکو ته څرګند کړه چې ښه پرې ډاډه شوې.

## د تاریخ جوړونه

ځوانان په خپلو زړونو، علماء په خپلو عقلونو او حکیمان په خپل روحونو سره تاریخ جوړوي، له همدې امله که چېرته زړه، عقل او روح یو له بل سره د تاریخ په جوړونه کې مرسته وکړي، د تاریخ نور به تت نشي او ځلا به یې له منځه ولاړه نشي، موږ د اسلام په پیل کې د لومړي ځل لپاره همدا ډول تاریخ جوړ کړی و.

## بدل اخیستل

- ✓ د ماتې یواځېنی ځواب بدل اخیستل دي.
- ✓ کېدای شي د ژوند یوه نا اشنا خبره دا وي، چې کله له لاندې نه د غره څوکې ته وګورې؛ نو هغې ته رسېدای شي.
- ✓ ارزښتناک انسان چې د کوم شي لپاره هڅه کوي، هغه له خپل ځان سره پټ ساتي، البته ناکام انسان تل د نورو په موخو کې لګیا وي.

## پیاوړی اوسه او مه ودرېږه!

- ✓ مزني د امام شافعي (رح) رساله پېنځه سوه ځله ولوسته.
- ✓ ابواسحق شیرازي (رح) په اته سوه ټوکه کتاب کې فنون ولیکل، کلکه ډوډۍ به یې خوړله، تر څو د پېنځوسو ایتونو لیکل بچت کړي.
- ✓ ابن تیمیه (رح) به هره ورځ څلور کتابونه لیکل، چې بل سړي به په یوه هفته کې نشوای لیکلای، په یوه ناسته کې به یې پوره کتاب لیکه، له همدې امله امام ابن تیمیه (رح) تر زور ډېر کتابونه لیکلي دي.
- ✓ ابن جریر (رح) یو لک مخه لیکنه کړې.
- ✓ عطاء بن ابي رباح (رح) دیرش کاله د علم زده کولو لپاره په جومات کې ویده شو.
- ✓ له اعمش (رح) شپیته کاله تکبیر اولی نه وفوت شوی.
- ✓ ابن ادریس (رح) په کور کې څلور زره ځله قران کریم ختم کړي و.

Scanned by CamScanner

✓ امام احمد (رح) به د ورځې درې سوه رکعته لمونځ کاوه.

✓ ابو هریره (رح) به دولس زره ځله سبحان الله ویله.

**مهارتونه باید مخکې له ۳۰ کلنۍ زده شي!**

اروا پوهان پدې اند دي، چې د انسان لپاره د زده کړو تر ټولو مناسب وخت له ۱۰ کلنۍ نه تر ۳۰ کلنۍ پورې دی، دوي وایي چې انسان باید د ژوند پدې مرحلو کې پوره زده کړې وکړي او ترڅنګ یې ځینې نور مهارتونه هم زده کړي، که انسان د خپل ژوند پدې مرحلو کې ځینو مهارتونو ته وده ورکړي؛ نو د راتلونکي ژوند د دوام لپاره به یې ډېر ګټور تما شي.

**د کلک او ټینګ تصمیم نیولو مهارت**

هڅه وکړه، چې دا مهارت زده کړئ، هېڅکله په یو کار کې زړه نا زړه کېږئ مه، کله مو چې د یو کار هوډ کولو نو پیل یې په پوره جرئت کوئ، هر ډول ډار او وېره مو له زړه وباسئ.

**د خبرو کولو مهارت**

که فکر وکړئ، تر ډېره هغه کسان د پرمختګ په حالت کې دي، چې هغوی د خبرو کولو ښه مهارت لري، د دې مهارت زده کولو کومه ګرانه خبره نده له ملګرو ، دوستان او د کور له غړو سره مو خبرې کوي له هغوی سره د ځینو مسایلو په اړه بحث وکړئ او هغه کتابونه ولولئ، چې د خبرو کولو د مهارتونو په اړه لیکل شوي دي.

**د احترام کولو مهارت**

په ژوند کې مو ځان او نورو ته احترام وکړئ، که غواړئ چې خلک مو احترام وکړي؛ نو تاسو لومړی د هغوی احترام وکړئ، احترام کول مو د اخلاقو او شخصیت نمایندګي کوي، که غواړئ چې په راتلونکي کې د یو غوره شخصیت خاوند و واسئ؛ نو دې مهارت ته مو وده ورکړئ.

## د مسولیت منلو مهارت

تر هغه نشئ بریالي کېدلای، تر څو په ژوند کې ځینې مسولیتونه په غاړه وانخلئ، هڅه وکړئ، خپل مسولیت مو وپېژنئ، هغه په ورین تندي ومنئ او په صداقت یې تر سره کړئ.

## د مدیریت مهارت

هر انسان باید یو قوي مدیر واوسي، تر څو خپل ځان او د ژوند نورې جارې کنټرول کړي، مدیریت مو په ژوند کې نظم راولي هغه څوک چې ښه مدیریت لري، هغوی په خپل ژوند کې ښه پرمختګ کولای شي، د دې مهارت په وسیله کولای شئ، چې ځان، ژوندد او وخت کنټرول کړئ، کله چې دا کنټرول کړئ؛ نو بریا ستاسو ده.

## د جذبولو مهارت

د خلکو جذب او د هغوی زړونه تر لاسه کول ستاسو پرمختګ کې مهم رول لري، تاسو چې کوم خلک جذبوي، یا د هغوی زړونه ترلاسه کوئ، هغو تل درسره مرسته کوي او خپلو کارونو ته مو هڅوي، کوښښ وکړئ، چې د خلکو زړونه ترلاسه کړئ، تر څو له مرستو یې برخمن وئ.

## باوري اوسئ او هېڅکله باور مه بایلئ

باور د ښه ژوند یو ستر راز دی، که په ټولنه کې باور ولرئ، ژوند به مو له ستونزو سره په مبارزه کې مخکښ رول ولوبوي، باور ستاسو د جلند د ځانګړتیاوو یوه مهمه برخه ده، چې باور بایلو ستاسو شخصیت ورسره خامېږي او بې باوره کېږئ، تر هر څه ستاسو ځان تاسو ته ډېر ارزښت لري او خپل ځان مو په باور ارزښتمن کړئ.

## دروغ مه وایئ او رښتیني اوسئ

دشخصیت جوړونې لپاره یوه بله ښه ځانګړنه هم دا ده، چې تاسو باید تل صادقه اوسئ او هېڅکله دروغ ونه وایئ، دورغ ویل د دې تر څنګ چې

تاسې د ټول عمر لپاره بې باوره کوي، بلکې تاسو لټۍ ته هم سوق کوي، ځکه که نن یو کار ونه کړئ او سبا مو رئیس ته دورغ (بهانه) وکړئ، راتلونکي کې هم دې کار ته اړ کېږئ؛ د دې لپاره چې ښه مخته ولاړ شئ، باید تل ریښتینې اوسئ.

## ماتې ته هرکلی کوئ

که تاسې بریالي اشخاص ګورئ، دوی په لومړي او دویم ځل دې مقام ته نه دي رسیدلي، تجربه او مهارتونه تاسې تر بریا رسوي؛ خو په دې لړۍ کې تاسې ممکن له ماتو سره هم مخ شئ، د بریاوو تر شاه چې کوم راز دی، هغه د ماتو زغمل دي او بریالي اشخاص ماتې زغملای شي.

## تر هر څه وړاندې پر ځان باور پید کړئ

انسان د داسې لوبو وړتیاوو او ظرفیتونو لرونکی دی، چې له تصوره اوچت دی، راځئ پدې اړه ځینې لنډ معلومات ولولو، که د اسلام له نظره د انسان د شان په باب حکمونه، د ده فزیکي او دماغي قوت او هغو بریاوو ته وګورو، چې دې عجیب مخلوق د علم، سیاست، فکر او ژوند په نورو برخو کې تر لاسه کړي دي، باید هر یو پر ځان باور وکړي او پوه شي، چې د ځانګړي استعداد او توانمندۍ لرونکی دی او پوه شي، چې د ځانګړي استعداد او توانمندۍ لرونکی دی او د یوه لوی ماموریت لپاره پېدا شوی دی.

# څلورمه برخه

## مېخونه

یو هلک و، چې ډېر زیات به غوسه کېده، غوسه به یې نه سړېده او خوشالول یې ډېر ګران کار و، یوه ورځ یې پلار له مېخونو ډکه کڅوړه ورکړه او ورته یې وویل:

زویه! کله چې غوسه کېږې، له دغې کڅوړې نه یو مېخ د باغ پر دېواله ټک وهه، هغه کڅوړه راواخیسته او په لومړۍ ورځ یې پر دېوال ۳۷ مېخونه ټک وهل، یوه اونۍ یې همدا کار وکړ؛ خو په دویمه اونۍ هلک پوه شو، چې څنګه کولای شي، خپله غوسه کابو کړي؛ نو له دې امله په دې اونۍ کې یې د مېخونو د ټک وهلو اندازه راکمه شوه، بلاخره یوه ورځ داسې هم راغله، چې هلک له سره غوسه نه شو او پر دیوال یې یو مېخ هم ټک نه واهه، پلار ته یې خبر ورکړ، چې نن له سره غوسه شوی نه دی او نه یې پر دېوال کوم مېخ ټک وهلی دی.

پلار یې ورته وویل: اوس چې هره ورځ دربانديي داسې تېرېږي، چې پکې غوسه نشې؛ نو له ټک وهل شويو مېخونو څخه یو یو بېرته راوباسه.

زوی یې د پلار له لارښوونې سره سم عمل وکړ، تر دې چې ټول دېوال بېرته له مېخونو خالي شو.

کله چې پلار یې پوه شو، چې زوی یې پر دېوال ټک وهل شوي ټول مېخونه بېرته راویستلي دي، نو زوی یې له لاسه ونیوه او هغه دېوال ته یې بوته او ورته وویل: زویه ستا د غوسې له امله پر دېوال جوړ شوي ټول سوري وګوره،ایا د دېوال دغه سوري به په کلونو کلونو بېرته بند شي؟! یا به یې په بندولو ډېره خواري کوې او یا به همداسې سوري پاتې وي.

ستا د غوسې اغېز همدغه ډول د خلکو پر زړونو هم کېږي، که ته هر ځل یو څا ته غوسه کېږي او له خولې نه دې ناوړه الفاظ وځي؛ نو ته د هغه په زړه کې له دغه سورو څخه سخت زخمونه جوړوې، له دې امله د غوسې په حال کې د ځان کابو کولو ډېره هڅه کوه!

## د مهاتما ګاندي حلم

یوه ورځ ګاندي غوښتل، چې ریل ګاډي ته وخېژي؛ خو ریل ګاډی ترې روان شو او د ورته په منډه ، د ختلو پر مهال یې له بلې پښې نه هم بوټ وویسته او د ریل ګاډي په پټلۍ یې د هغه بوټ خوا ته وغورځاوه، چې مخکې یې له پښې نه وتلی و.

ټول ملګري یې حیران شول او پوښتنه یې ترې وکړه، چې ولې دې دا کار وکړ؟

هغه په پوره حکمت خپلو ملګرو ته وویل:

ما د دې لپاره دا کار وکړ، چې کله یو محتاج کس دغه بوټ پیدا کړي، چې یو نه وي او جوړه یې برابره وي، تر څو ګټه ترې واخلي ، که دا یو ترې ما ایسار کړی وای، نو نه به یې بل ته ګټه رسېدلې وي او نه ما ته.

د ګاندي ژوندی احساس ته وګورئ، دا له دې امله چې غوسه ورته رانغله، ځکه که غوسه ورغلی وای؛ نو دومره د هوښ پرېکړه یې نشوه کولای.

له پورتنۍ کیسې څو خبرې لاس ته راځي، چې موږ یې باید په پام کې ولرو:

۱. په لږ څه نه غوسه کېدل.
۲. په هغه څه نه غوسه کېدل، چې له لاسه دې وځي،ځکه څه چې شوي دي، هسې هم شوي دي او غوسه څه ګټه نه لري.
۳. په ژوند کې د ګټې پر اساس پرېکړې پکار دي، د غوسې او خپل خواهش پر اساس نه دي پکار.

٤. سختۍ پر ډالیو بدلول پکار دي، لکه د ګاندي بوټ له لاسه ورکول. یو ډول سختي وه؛ خو هغه دغه سختي پر ډالۍ بدله کړه.

٥. د یوې خبرې په اړه په پوره تلوار سره ژور فکر کول.

**زمرى او هوسۍ**

په افریقا کې د سهار له لمر ځرک سره هوسۍ راپاڅېږي او هدف یې دا وي، چې باید په منډه کې له چابک زمري څخه مخکې شي، ځکه هغه یې دښمن دی، که ترې مخکې نشي؛ نو له هلاکت سره به مخامخ شي؛ خو پر همدې مهال سهار له لمر ځرک سره زمری په دې نیت راپاڅېږي، چې باید د سستې هوسۍ په څېر منډه ووهي، ګنې له لوږې به مړ شي!

دا ضروري نه ده، چې ته دې یا زمرى او یا هوسۍ وې، بلکې د سهار له لمر ځرک سره باید د ځان لپاره دا هدف وټاکې، چې له نورو ډېره او چابکه منډه ووهې، ترڅو برى تر لاسه کړې.

ځکه لمرر هره ورځ په همدې نیت پریوزي، چې سبا بیا راخیژي.

**همتونه دي چې له نا امیدۍ سره مقابله کوي**

امام بخاري (رحمه الله) به په یوه شپه کې څو څو ځله راویښېده،ډیوه به یې بله کړه او هغه فائده به یې لیکله چې ذهن ته به یې راغلې وه، ډیوه به یې مړه کړه ، بیا به راپاڅېد، تر سهاره پورې به نږدې شل ځله راویښېده او بیا به بیرته ویده کېده.

هغه امام بخاري چې د نفس پاکوالي له سوال څخه بند کړی و، کله چې به ورسره خرچه ختمه شوه، واښه به یې خوړل.

امام احمد بن عبدوس دیرش کال د ماخوستن په اوادسه د سهار لمونځ کړی، پېنځلس کاله دا ژده کړې پر مهال او پېنځلس کاله د عبادت لپاره.

ابن ابي حاتم ویلي: موږ اووه میاشتې په مصر کې تېرې کړې؛ خو کتغ مو پکې نه دی خوړلی، د ورځې به په علماوو پسې ګرځېدو، علم به مو زده کاوه

او دشپې به مو ليکل کول، يو ځل مو په لاره کې يو ماهي وليد، ډېر مو خوښ شو، وامو خيست، چې کور ته ولاړو؛ نو له علماوو سره د ناستې وخت راغی، هلته درې ورځې هغه ماهي پروت و، نږدې و، چې خوسا شوی وای، بيا مو همداسې خام وخوړ، دومره هم وزګار نشو، چې پوخ کړي مو وای، بيا يې وويل: علم د بدن په راحت سره نه ترلاسه کېږي!

شيخ امام حافظ ابن ابراهيم وايي: ما ديرش (۳۰) کاله په دوو ټيکليو تير کړي دي، که خور يا مور به مې راته خواړه راوړل، خوړل به مې اوکه نه نو د بلې شپې پورې به وږی وم او دېرش کاله مې په شپه او ورځ کې يوه ډوډۍ خوړلې، که ښځې يا کومې لور به مې راته راوړه؛ نو خوړله به مې او که نه نو تر بلې شپې پورې به نهاره وم!

عبيد بن يعيش وايي: ما دېرش کاله د شپې په خپل لاس خوراک نه دی کړی، خور به مې راته په خوله کې مړوۍ راکولې، ما به خوړلې او احاديث به مې ليکل. د دوی دې کلکوالي او همېشوالي ته تعجب دی، چې له دومره غريبۍ او لوږې سره سره يې بيا هم علم ترلاسه کړ!

**وارن بوفت**

د نړۍ له هغو بړياليو اشخاصو څخه دی، چې ټایم مجلې د شلمې پيړۍ تر ټولو اغيزناک شخصيت ګڼلی دی، د بوفت پانګه تر.اويا بيليونه حساب شوې ده، د خپلې نغدې ۴۸ بيليوني پانګې څخه يې ۴۰ بيليونه بيل ګيټس ته ښښلې ده او د ليل يې دا ګڼې چې بيل ګيټس د مرستې او وصدقې پيسې په بهترين ډول لګوي، د وارن بوفت دبرياليتوب د ستراتيژۍ لس مهم ټکي دا دي:

۱. ژوره مينه.

۲. د نورو په فکر کار نه کول، بلکې پخپل فکر کار کول.

۳. ښه، يا کفايته او ږو خلک استخدامول.

۴. مطالعه، مطالعه ،مطالعه.

۵. په سوداګرۍ کې د مصئونیت څنډه په پام کې ساتل.

۶. په تولیداتو او خدماتو کې تر نورو خپله مقایسوي برتري ساتل .

۷. د تولیداتو د کیفیت لوړ ساتل.

۸. په کار او مارکېټ کې مسابقې او رقابت په تیارۍ.

۹. د بریالیتوب بېلګه کېدل.

۱۰. له هر چا سره بې شرطه مینه کول.

**رتن ټاټا**

د هند په ممبیي کې د ټاټا کمپینو د ګروپ مشر- و، دغه کمپنۍ او وهر کال سل بیلیونه ډالر عاید لري، د ده د بریالیتوب لس قوانین د دي:

۱. کار کوونکو سره پوهاوی.

۲. له فرصتونو څخه کار اخیستل.

۳. سخت کوشي او دروند کار.

۴. باور جوړول.

۵. موءدب اوسیدل.

۶. خپل اتل لرل او د نورو له تقلیده ځان ساتل.

۷. د کار او تولید په برخو کې بدلون راوستل.

۸. خپل ځان اوسیدل (تقلید نه کول).

۹. په تولید او مارکیټ کې مسابقې او رقابت ته تیارۍ.

۱۰ . ناشونې کاونه کول او د دنوښت لپاره خطر اخیستل.

Scanned by CamScanner

**جک ما**

د چین تر ټولو ستر او د نړۍ ۱۸ شتمن شخص دی، له شلو زرو ډالرو يې سوداګري پيل کړه، د علي بابا شرکت بنسټ يې کېښود او په لږه موده کې د دیرش بیلیونه پانګې خاوند شو، د ده د بریالیتوب لس قوانین دا دي:

۱. خپل خوبونه او ایډیالونه ژوندي ساتل.
۲. پر کار تمرکز.
۳. واړه خلک (حسد کوونکي )له نظره غورځول.
۴. د هڅونې ژوندي ساتل.
۵. تمرکز.
٦. ښه نوم او شهرت ساتل.
۷. مراجعین مهم ګڼل.
۸. شکایت نه، بلکې له فرصت څخه استفاده کول.
۹. ژوره مینه.
۱۰ . له رديدو ویره نه کول.

**فقير واکمن هم وي!**

عمر بن الخطاب رضي اللّٰه عنه د حمص له خلکو وغوښتل چې د خپلې سيمې (حمص) د بې وزلو او فقيرانو ليست ورته راولېږي، څو له بيت المال نه د هغوی مرسته وکړي، کله چې د حمص د بې وزلو او وفقيرانو د نومونو ليست عمر ته راورسيد هغه يې په لوستلو پيل وکړ، نا څاپه يې د سعيد بن عامر په نوم سترګي ولګيدلي، سعيد بن عامر د حمص والي و! خليفه هک پک پاتې شو چې د ده والي هم د حمص په فقيرانو کې ليکلي دي!د حمص له حاضرو خلکو ويې پوښتنه وکړه، چې والي يې رښتيا فقير دی؟ هغوی ورته و ويل: بې شکه هغه فقير دی هغه خپل ټول معاش د حمص په فقيرانو ويشي او وايي، څه وکړم له ما نه به په اخرت کې د دوی پوښتنه

کېږي او وايي، زه مسؤل يم خليفه هغوی وپوښتل ايا تاسو په هغه کې کوم عيب ليدلی دی؟ هغوی وويل: هو کې په هغه کې درړې عيبونه دي:

- هغه مور ته له کوره ناوخته راوځي.
- هغه د شپې بيخي نه وينو او ورک وي.
- هغه په جمعه کې يوه ورځ ترې تم وي.

کله چې خليفه له سعيد نه د دې عيبونو پوښتنه وکړه هغه ورتته وويل: امير المومنين ! دا درې واړه عيبونه لاندې اسباب لري: دا چې زه دوی ته له ځانښت نه مخکې نه ور و ځم ځکه زه چې د کور له کارونو خلاص شم بيا دوی ته وروځم زه د کور خادم نه لرم او ميرمن مې ناروغه ده او دا چې زه دوی ته د شپې نه ور وځم نو ما خپل وخت ويشلی ده، شپه مې د خدای عبادت ته وقف کړې ده او ورځ د خلکو خدمت او په جمعه کې يوه ورځ بهر ته وځم ځکه زه يواځې يو جوړ جامې لرم ولاړشم هلته خپلې جامې ومينځم او بيا راشم.

امير المومنين عمر بن الخطاب وژړل او سعيد ته يې له بيت المال نه پيسې ورکړې، سعيد دا ټولې پيسې لا په د مشق کې په فقيرانو وويشلې، ځينې خلک دا کېسه عمر بن عبدالعزيز ده منسوب کړې ده، خو دا خبره سمه ده، ځکه سعيد بن عامر رضي اللّه عنه صحابي دی او دا کېسه په حلية الاولياء کې راغلې ده.

**بلاله دومره جفا؟!**

بلال بن ابي رباح رضي الله عنه د نبوي جومات لومړی مؤذن دی، بلا د رسول الله صلی الله علیه وسلم په جومات کې شاوخوا لس کاله اذان کړی دی، ډېرو خلکو ته د بلال په اړه همدومره معلومات شته، کوم معلومات چې له ډېرو خلکو سره نشته هغه دا چې بلال د رسول الله صلی الله علیه وسلم له وفات وروسته څه شو؟ دلته دې پوښتنې ته د ځواب له پاره د بلال رضي الله عنه دردونکي او ژړوونکي کېسه را اخلم.

بلال ابو بکر الصدیق رضي الله عنه ته ورغی او ورته کړه یې: ای د رسول الله صلی الله علیه وسلم ځای ناستې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم اوریدلي دي، چې ویل یې، د مومن تر ټولو غوره عمل د الله په لار کې جهاد کول دی، ابو بکر ورته وویل: بلاله! ته څه غواړې؟ بلال وویل: ما نیت کړی دی، چې تر مرګه پورې ژوند په جهاد کې تیر کړم، ابو بکر ورته وویل: مور ته به اذان څوک کوي؟ د بلال سترګې له اوښکو ډکې شوې او زیاته یې کړه، زه له رسول الله صلی الله علیه وسلم وروسته بل چا ته اذان نه کوم، ابوبکر ورته وویل نه، ته به له مور سره پاتې کېږې او مور ته به اذان کوې، بلال وویل: که تا زه داسې ازاد کړی یم، چې له ازادۍ وروسته به هم ستا سره یم، بیا به ستا په خوښه پاتې شم او که تا زه د خدای له پاره ازاد کړی یم، نو ما او هغه ذات سره پرېږده چې د هغه له پاره دې زه ازاد کړی یم.

ابو بکر ورته وویل: بلاله ته ما یواځې د الله له پاره ازاد کړي یې بلال د شام لورته روان شو او هلته په جهاد بوخت شو، دی ځان په اړه وایې: د رسول الله صلی الله علیه وسلم له وفات وروسته ما په مدینه کې د اوسیدلو وس نه لاره ده، به چې کله االذان پیل کړ او د اشهد ان محمداً رسول الله صلی الله علیه وسلم جملې ته به ورسیدي، ستوني به یې غریو بند کړ او

ژړا به يې پيل وکړ، نو ځکه شام ته ولاړ او مدينه يې پرېښودله، بلال تر څو کلونو پورې د اسلام په لښکر کې د يوه سپېڅلي غازي په توګه پاتې شو.

يو وخت يې رسول الله صلی الله عليه وسلم په خوب وليد، په خوب کې يې بلال ته وويل : بلاله! دومره جفاء؟ زموږ لېدو ته نه راځې؟ بلال چې راويښ شو غمونو او دردونو کړاوه او سمدستي د مدينې په لور روان شو، مدينې ته په رسيدو د رسول الله صلی الله عليه وسلم د قبر مبارک زيارت ته ورغی او د قبر خواته يې په ژړا زړه سپک کړ.

دی لا ناست و، چې حسن او حسين رضی الله عنهما ورته راغلل، دواړو په خپل وار په غېږ کې ونيو او په يوه بل مخ يې ښکل کړ او ورته وېې ويل: د سهار اذان به راته کوې، سهار مهال بلال د جومات بام ته وخوت او دا عرش لړزوونکي کلمات يې پيل کړل، الله اکبر الله اکبر د بلال د تکبير ملکوتي اواز مدينه ټوله ولړزوله کله يې چې: (اشهد ان لااله الله) وويلې په مدينه کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د مينانو د ژړا کړيکې او شور پورته شو او چې (اشهد ان محمد رسول الله ) يې وويلې د مدينې ښځې له پردو راووتلې په مدينه منوره کېد ژړا او انګولا دومره شور او زوږ جوړ شو، چې مخکې هېڅکله دومره نارينه او ښځينه چا په ژړانه وليدلې.

د راز کله چې اميرالمؤمنين عمر رضی الله عنه شام ته ولاړ، د شام مسلمعنينو ورته وويل، چې بلال دې يواځې د يې،ه لمانځه له پاره اذان راته وکړې، امير المومنين بلال د لمانځه په وخت کې راوغوښت او هيله يې ترې وکړه، چې اذان ورته وکړې، بلال پورته شو او اذان يې وکړ، د بلال له خولې چې د اذان سپېڅلې کلمات وتل د عمر او بيا د نورو صحابه کرامو د ژړا کړيکې ورسره غبرګې شوې ناستو صحابه کرامو ټولو ډېر زيات وژړل، فرضي الله تعالی عنهم اجمعينَ.

Scanned by CamScanner

**موږ مينه نه پېژنو**

له عادت سره سم پلار يې له کاره سترې او ناوخته کورو ته راغی، کوچني زوی يې په دروازه کې انتظار کاوه، زوی يې وويل: پلار جانه! يوه پوښتنه وکړم؟ پلار په مينه ورته وويل: ولي نه مهرباني وکړه، زوی يې وويل: پلار جانه په يوه ساعت کې څومره افغانۍ ګټې؟ پلار يې غوسه شو او ورته کړه يې: له دې سره ستا کار نشته، بيا داسې يو چې پوښتنې ونه کړې زوی يې په ټينګار سره وويل: هيله کوم پلار جانه! راته ووايه! په يوه ساعت کې څوافغانۍ ګټې؟اخر يې پلار ورته وويل: دېرش افغانۍ په يوه ساعت کې ګټم.

زوی يې په عاجزۍ ورته وويل: لس افغانۍ به پور راکړې؟ د پلار غوسه يې زياته شوه او په لوړ غږ يې ورته وويل: ښه دا پوښتنه دې د دې له پاره کوله چې پورو غواړې؟ زه ټوله ورځ په کار کې ستړی ستومانه يم اوس ستا دې پوچو خبرو ته نه يم خلاص، په منډه ځه خپلې خونې ته او ويده شه.

زوی يې بله يوه خبر هم ونه کړه، رڼه اوښکه يې په تنکي اننګي راورغړېدله او خپلې خونې ته روان شو، څو د خوب غېږې ته پناه يوسې. يو ساعت وروسته يې پلار ته ورپه ياد شو پښيمانه شوچې له ماشوم سرهر مې سختې وکړه، هلک دی لس افغانۍ به يې په کار و ي، پورته شو او د زوی خونې ته روان شو دروازه يې پرانستله او ورته کړه يې: ته ويښ يې ؟ زويو يې په بيړه په ځای کې راکښيناست او ويې ويل: هو پلاره زه لا ويښ يم، پلار يې ورته وويل: زويه! ما له تا سره سختې وکړه، ما دا هغه لس افغانۍ دې واخله!

ماشوم سخت خوشحاله شو په ډېره مينه يې له پلاره لس افغانۍ واخيستلې ، پلار يې ورته ولاړ دی او ماشوم د خپل بالښت لاندې لاس دننه کړ نوري ماتې افغانۍ يې راواخيستلې او دا لس يې هم له هغو سره يو ځای

کړې، پلار یې بیا په غوسه شو او ورته ویې ویل: ستا سره خو دومره افغانۍ دي نو له مادې نورې ولې غوښتلې؟ ماشوم په معصومانه لهجه ورته وویل: زما سره ځو افغانۍ وي ، خو کمې وي اوس هغه پوره دېرش افغانۍ شوې او غواړم له تانه یو ساعت وخت واخلم څو یې ګډ سره تیر کړو.

لکه څومره چې ماشوم خوراک، څښاک او پوښاک ته اړتیا لري همدومره د پلار او مور مینې ته هم اړتیا لري، مور د خدای عجیب مخلوق یو! په مور کې خو هغه یو متل د کاڼې کرښه ګرځېدلی د ه، وایي، چې ډب نه وي ادب نشته، ځکه خو مور ټول د ډب وهلو مینان یو او ټول موضوعات په همدې حل کوو. ډېره موده کېږي له مور نه مینه ورکه ده مور او مینه نه سره پېژنو خدایه ته مور د ډب (وهلو )مینانو ته مینه راوښیه.

**د ژوند لاره**

د واورو په اوریدلو سره هغه بڼ تک سپین وځلیدی، هلته دریو ملګرو لوبې کولې یوه یې وویل: راځئ له یوه بل نه د مخکې کیدلو لوبه وکړو، د بڼ په دیوال کې به یو هدف وټاکو او بیا به هغه ته ځانونه رسوو په واورو کې به په خپلو بوټونو لاره جوړوو او هر یو به کوښښ کوي، چې تر هدفه سیخه او مستقیمه لاره جوړه کړي او هېڅ کږوالی ونه لري.

دوی له یوه بل نه بیل شول او هر یوه هدف ته د لارې په جوړلو پیل وکړ، په بوټونو یې واوره تخته کوله او لاره یې جوړوله، په دوی دریو کې یې یو په مکمله توګه له هدف نه کوږ ولاړ، دویم فکر کاوه چې ده به هدف ته سیخه لاره جوړه کړې وي، خو وهدف ته له رسیدو وروسته یې چې بیرته لارې ته ولیدل هغه کله چپې او کله ښي خواته کږه وږه جوړه شوې وه او دریم یې هدف ته مستقیمه لاره ایستلې و.

دوی په خپلو کې سره کیناستل او دا پوښتنه یې رامنځته کړه، چې ولې لومړي لومړي ملګري پوره کږه او دویم یو څه کږه او دریم سمه سیخه لاره

هدف ته ورسوله ، دریم او هدف ته رسیدلي ملګري وویل: تاسو دواړو لاندې خپلو پښو ته کتل ځکه مو لارې کږې شوې او ما مخامخ وړاندې هدف ته کتل پښو او یوه بل لور ته مې نه کتل نو ځکه زما لاره سیخه او ستاسو کږې شوې.

زموږ ژوند هم تر یوه بل مخته کېدل دي موږ باید د ژوند په لاره د تګ په مهال د خلکو خبرو ته ونه ګورو، خپل هدف باید په نظر کې ونیسو او په ثبات سره د هغه په لور روان واوسو.

## میږه او ښځه

پلار یې د نوي واده د مبارکۍ له پاره ورته راغی، کله یې چې په کور کې کښیناست ورته کړه یې قلم او سپینه پاڼه راوړه! ځوان زوی یې ورته وویل: پلاره زما د کور په سامان کې دې هر څه راته اخیستي و یواځې قلم او کتابچې دې نه وې راته اخیستې ولې؟ پلار یې ورته وویل: اوس ولاړ شه، قلم، کتابچه او پینسلپاک راوړه، زوی یې حیران شو او ولاړ چې کتابچه او قلم راوړي، رایې وړل او د پلار خواته کښیناست.

پلار: ولیکه.

زوی : څه ولیکم؟

پلار: څه دې چې خوښ یې.

زوی یې یوه جمله ولیکه پلار یې ورته وویل: اوس یې ړنګه کړه او زوی یې ړنګه کړه، پلار یې بیا ورته وویل: ولیکه، زوی ورته کړه، پلاره په خدای مې لوبتلی یې څه م وخه لرې؟ پلار ورته وویل: ولیکه، زوی یې یوه جمله ولیکه پلار یې بیا د ړنګولو امر وکړ او زوی ړنګه ک ړه، دریم ځل بیا پلار تېره کېسه تکرار کړه یعنې ولیکه او ړنګه کړه او ځوان لیکله او ړنګوله.

وروسته یې پلار ورته وکتل، په اوږو یې لاس ورکېښود او ورته ویې ویل: زویه! د واده په ژوند کې پینسلپاک ډېر ضروري دی که له خپلې میرمنو

دي کومه ناخوښه خبر واوريدله او يا هغې له تا نه واوريدله او تاسو د دې ناخوښو خبرو د رنګولو له پاره پينسلپاک نه لاره چې دا نا خوښه او ژوند خرابونکي خبرې پرې رنګې کړئ، نو په څو ورځو کې به مو د واده پاڼه له تورو جملو ډکه شي.

د واده ژوند په رښتيا هم ډېر باريکه او ډېرې هوښياري ته اړتيا لري او له دې سره د يوه بل له تيروتنو تيريدل دومره مهم دي، چې ښه ژوند او زموږ پښتنې نارينه واکه ټولنه په دې اړه خورا زياتې نيمګړتياوې او درانه مشکلات لري، د بېلګې په توګه که يوې ميرمنې په شمار ۴۹ ډوډۍ روغې پخې کړې وي او د پنځوسمې ايله يوه څنډه يو څه سوې وه ميړه يې د هغې د ترټلو، ښکنځلو او آن ډبولو مسلم حق (!) لري، دا ډول جهالتونو او بې خبريو زموږ د ډېرو ژوند جهنم ګرځولی دی او په دې پښتنې جهنم کې پريمانه احمقان سوځي، الله دې پوه او نيکمرغي را نصيب کړي.

**ناهيلو زړونو ته هيلې ورکړئ**

له خپلې خور نه يې پوښتنه وکړه، په دې ونه کې څومره پاڼې دي؟ مشرې خور يې په مينه ورته وويل: ګرانې ولې مو دا پوښتنه وکړه؟ ناروغې ماشومې ورته وويل: څکه زه داسې فکر کوم، چې کوم چې کله د دې ونې وروستۍ پاڼه لوېږي زما ژوند شپې به هم پای ته رسيدلې وي، مشره خور يې مسکۍ شوه او ويې ويل: چې داسې ده نو بيا به ماو تا ډېره موده له ژوند نه خوند واخلو او که خدای کول د ژوند ټول ارمانونه به مو تر سره شي.

شپې ورځې تېريدلې ناروغې ماشومې له خپلې خور سره يو ځای خوندور ژوند تېراوه، خوند ورې لوبوې يې کولې او د ماشومتوب له پاچاهي هر وخت ښارلې، اخر په ونه کې يوه پاڼه پاتې شوه او دې به همېشه هغه پاڼه څارله، دې ګومان کاوه چې که دا پاڼه ورژويدله نو دا به خپله ناروغي وژني او مري به!

خزانا او ژمی دواړه تیر شول خو دا پاڼه لا په ځای تم وه، ونه رژیدله، ناروغه نجلۍ هم له ناروغي نه په رغیدا وه، تر څو رکه روغه شوه او له خپلې خور سره یې خوشحاله ژوند کاوه، حالات او ژوند طبیعي شو او ناروغه ماشومه رکه روغه شوه، عجیبه دا وه، چې هغه یوه پاڼه لا په ونه کې پاتې وه او نه وه رژیدلې! یوه ورځ ماشومه ونې ته ورنږدې شوه، څو هغه معجزه پاڼه ووینـي، چې ویې لیدله هغه یوه پلار ستیکي شنه پاڼه وه او په ډېره ښه توګه په ونه کې بنده کړل شوې وه، ماشومه په خندا بیرته راستنه شوه او پوه شوه، چې مشرې خور یې د دې د نا امیدي د مخنیویې په موخه دا چل برابر کړی و.

که د چا په وس کې وي، چې خپل مسلمان ورور خوشحاله ولوري، نو نه دي سپموي، هغه زړونو ته چې نا امیدیو ځپلې وي امیدونه او ډاډ ورکړئ، دردمنو او غمځپلیو ورونو او خوېندو ته د خوشالي رڼا ورکړئ، او د ژوند ښکلا ورته وځلوئ او نهیلو زړونو ته هیلې ورکړئ، دا ستر کار په موجوده غملړلې زمانه کې تر ټولو لوی خیر او د ثواب کار ده.

**ملایکه او شیطان**

کیسه کوي،یو وخت د ایټالیا یوه واکمن یو وتلی رسام راوغوښت او امر یې ورته وکړ، چې د هېواد د لوی روحي مرکز په دروازه دوه متضاد انځورونه رسم کړي، یو د ملایکې انځور او په مقابل کې یې د شیطان انځور، څو خلکو ته د ښو او بدو توپیر په انځوریز شکل روښانه کړل شي.

رسام په انځورونه له پېل مخکې د داسې دوو متضاد شکله انساني څېرو په لټه کې شو، څو دا دواړه انځورونه د هغو په تقلید سره تیار کړي، یو ښایسته ماشوم یې پیدا کړ،سپینه ښکلې څېره یې وه، په مخ کې یې درنښت او ښکلا ځلېده او په سترګو کې یې نیکمرغي له ورایه معلومېدله ، د ماشوم کورته ورغی او د هغه له مور او پلار نه یې اجازه وغوښتله چې دا

ماشوم به ځو ورځې له ماسره ځي، هلته به راته ناست وي، ځو زه د ده په خېر یو انځور تیار کړم او په بدل کې یې ورکړم او انځور ګر په ځو میاشتو کې خورا ښایسته انځور تیار کړ، دومره ښایسته چې هېڅچا یې ساری نه ولیدلی.

رسام د دویم انځور په تیارولو پیل وکړ او په پېل کې د شیطان شکله انسان په لټه کې شو، رسام غوښتل خپل کار په رښتینې معنی سر ته ورسوي او د مطلوب انسان ژوره پلټنه یې پېل کړه، دې پلټنې یې خورا ډېر وخت واخیست او څلوېښت کاله پسې وګرځېدي، پاچا وویریده چې خبره اوږده شوه، نو اعلان یې وکړ چې د چا ځېره ډېره رعب لرونکې او زیاته خوړجنه وي، هغه خلک باید حاضر شي او ډېر انعام به ورکړل شي، رسام بندیخانې وکتلې، دروحي ناروغانو روغتونونو ته ولاړ او ګڼ شمېر ځایونه یې وکتل خو ټول انسانان وو او شیطان یې ونه موند.

یوه ورځ یې نا څاپه شیطان شکله انسان پېدا کړ، هغه یو بد حاله انسان و، په یوه تنګ او پلیت ځای کې ناست و او د شرابو مینا یې په خوله کې نیولې وه، رسام یې خواته کېناست او د موضوع په اړه یې خبرې ورسره وکړې، ورته ویې ویل چې ښې پریمانه پیسې به هم ورکړي، سړي موافقه وکړه، هغه ډېر بد مخی او بویه انسان و، لغړه کوپړۍ یې وه او په تندي یې ګوتشمیر ځو ویښتان وو، په خوله کې یې غاښونه وو، په لوړ غږ یې خبرې کولې او شکل یې کټ مټ د شیطان و.

رسام هغه له ځانه سره کړ او د انځور په تیارولو یې پیل وکړ، د انځور تیارولو ډېر دقت ته اړتیا لرله او ځو ورځې کار یې غوښت ، یوه ورځ رسام په خپل کار بوخت و او دا شیطان شکله انسان یې مختې ناست و، حیران شو او ورته ویې ویل: که ډوډۍ یا شرابو او هر شي ته اړتیا لري، ووایه چې درته راییوړم، هغه په غریو نیولې غږ ورته وویل: مکېسه د لوړې او وبلې غوښتنې

نه ده او هغه چوپ شو انځور ګر ټينګار وکړ، چې کېسه پوره کړه او هغه زياته کړه، تقريبا څلوويښت کاله مخکې تا زه ليدلی وم... هغه مهال زه ماشوم وم او زما له څېرې دې د ملايکې انځور تيار کړ و... او نن ته زما له څېرې د شيطان انځور جوړوې! شپو او ورځو په ما کې بدلون راوست زه يې د خپل ځان نقيض وګرځولم او دا زما کړنو لامله ... سلګۍ يې زياتې شوې او غريو يې په ژړا او کړيکو وبدل شو، د رسام په اوږه يې سر کېښود، د رسام زړه هم د ده په حالت ودريد دواړو يو ځای د ملايکې د انځور خواته ښه ډېر وژړل.

موږ الله جل جلاله ټول د ملايکو په څېر پاک او سپيڅلي پېدا کړي يو دا موږ يو چې خدای راکړې پاک نفسونه د شيطان په پيروۍ کې په ګناهونو او جرمونو ګنده او پليت کړو، قران کريم وايي: و هديناه النجدين، يعنې موږ انسان ته (خير او شر ) دوه لارې ښوولې دي، ګناهونه پليتي او بد بويه دي د انسان په سپيڅلي روح او پاک زړه تور داغونه او خوږجن خاپونه لګوي او د ملايکو په څېر پاک انسان د شيطان په څېر بد مخلوق وګرځوي.

خدايه! موږ ته ستا د ياد او شکر توفيق راکړه او ستا د ښه عبادت وس راکړه.

## سپکې خبرې مه خپروئ

يو سړي يوه حکيم ته راغی او ورته ويې ويل: پلانکي په يوه مجلس کې ښکنځلې او بدې خبرې يې درپسې وکړې! حکيم ورته وويل: هغه زما په لو غشی ويشتلی دی، خو ما ته ونه رسيدی، نو تا ولې هغه غشی ما ته راورساوه او زما په زړه کې دې خښ کړ؟!

د خلکو په منځ کې خبرې ګرځول په شريعت کې نميمتر بولي او نميمتر لويه او کبيره ګناه ده، په صحيح بخاري او صحيح مسلم کې يو روايت داسې راغلی دی: رسول الله صلی الله عليه وسلم په دوو قبرونو تيريده

او ويې ويل: دوی دواړه په عذاب اخته دي او عذ اب په دومره لويه ګناه هم نه ورکول کېږي، يوه به يې له بولو ځان اوجامې نه ساتلې او بل به يې نميمتر کاوه، يعنې د خلکو په منځ کې به يې خبرې ګرځولې.

داراز په يوه بل روايت کې راغلي دي، چې نميمتر کوونکی به جنت ته نشي ولاړ، د خلکو په منځ کې د فساد په نيت خبرې ګرځول د انسانانو تر منځ د ښځرو او د مسلمعنينو په منځ کې د جګړو اوفسادونو لامل کېږي؛ نو ځکه شريعت دا کار حرام او کوونکی يې له جنته محروم کړی دی.

**ښه روزنه**

ښوونکي کېسه کوله، چې د لومړي ټولګي له شاګردانو مې وپوښتل: هر يو راته ووايي، چې کله ستر شي له ځانو څه جوړول غواړئ؟ چا ويل زه غواړم پيلوټ شم، بل ويل: غواړم ډاکټر شم، داراز ګڼ ځوابونه مې له خپلو شاګردانو واورېدل، خو يوه شاګرد چې غلی ناست و عجيب ځواب يې راکړ! ټولو ټولګيوالو يې هم ورته وخندل، هغه وويل: زه غواړم له ځانه صحابي جوړ کړم!

ښوونکي وايي، ما ورته وويل: ولې څه وجه ده، چې له ځانه صحابي جوړول غواړې؟ هلک راته وويل: ځکه مور چې هره شپه ويده کېږو مور مو د يوه صحابي کېسه راته کوي، صحابه پر خ داې مين وو، تکړه وو او زه هم غواړم چې صحابي شم...

استاد غلی شو او هڅه يې کوله خپلې اوښکې تم کړي، هغه پوه شو چې د ماشوم تر شا درنه او ستر مور ده، ځکه يې د کوچني زوی موخه او هدف هم ستر او لوی دی، ارمان مور داسې ډېرې مندې لرلي، چې هغوی خپلو زامنو ته داسې روزونه ورکولې او د هغوی فکرونه يې داسې تيار کړي وي لکه د دې ماشوم.

## تاسو خپل دین خرڅ کړ

په فرانسه کې یوې مسلمانې میرمنې په یوه سوپر مارکیټ کې په داسې حالت کې سودا اخیستله چې مخ یې پټ و، کله یې چې سامان راټول کړ او د حساب اخیستونکي میز ته راغله څو پیسې ورکړي، سامان یې په میز کېښود، د میز شا ته یوه مغربي الاصله عربه میرمن ناسته وه، هغه لوڅ سر او بې حجابه وه دې مخ پټې مسلمانې میرمنې ته یې په سپک نظر وکتل او د سامان په حسابولو یې پیل وکړ، مغربۍ میرمن دومره ورته په غوسه وه، چې سامان یې یو په بل ویشته ، خو مخپټې میرمن چپه ولاړه وه او هېڅ یې هم نه ورته ویل: اخر یې په خبرو پېل وکړ او ورته کړه یې: موږ په فرانسه کې ګڼ شمېر ستونزې لرو او له دې ستونزو تاسو مخ پټو مېرمنو راته جوړه کړې ده، موږ دلته د کار او خواري له پاره راغلي یو موږ د دې له پاره نه یو راغلي ، چې خلکو ته خپل دین او تاریخ وروښیو، مغربۍ میرمنې مخپټې هغې ته وویل: تا ته چې خپل دین دومره خوند درکوي خپل وطن ته ولاړه شه او هلته په خپله خوښه دي، چې څه زړه غواړي هغه کوه دلته موږ ته ولې ستونزې پېدا کوئ؟!

مخ پټې میرمنې خپل سامان په میز ایښی او هغې ته یې کتل، وروسته یې خپل نقاب له مخه لرې کړ، مغربۍ ښځې چې ورته وکتل نو هغه یوه سورمخې او شین سترګې میرمن وه او مغربۍ‌س ته یې وویل : زه فرانسوۍ یمه زما اسلام هم خپل دی او وطن مې هم خپل دی، تاسو خپل دین خرڅ کړ او موږ درنه واخیست...!

**حکایت**

وایي، چې د بني اسرائیلو ویو عابد انسان د شګو په یوه ډېرۍ تیریده او دا داسې وخت و، چې په بني اسرائیلو ډېره زیاته لوږه رارغلې وه، نو دې عابد انسان په زړه کې یو ارمان وکړ، چې که چېرته دغه د شګو ډېرۍ اوړه وې، نو ما به پرې بني اسرائیل په خېټه ماړه کړي وي، نو الله تعالی د بني اسرائیلو د هغه وخت پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته وحې وکړه، چې زما هغه عابد بنده ته وwایه چې تاته مې خپل اجر او ثواب درکړ، په هغه ډېرۍ د اوړو باندې د بني اسرائیلو د مړولو اجر او ثواب مې درته درکړی، له همدې امله پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: د مومن مسلمان نیت د هغه له عمل نه غوره او بهتر دی.

**اوسپنې یو ټوټه په** ۲۵۰ روپۍ ده....

له هغې څخه یو نال جوړ کړه، هغه به ۱۰۰۰ روپۍ ارزښت ولري.

له هغې څخه د ساعتونو سپرنګونه جوړ کړه، هغه به ۱۰۰۰۰۰ ارزښت ولري.

ستا ریښتوني ارزښت په دې کې نه دی، چې ته څوک یې بلکې په دې کې دی، چې ته د ځان څخه د څه شي جوړولو وړتیا لري.

سبحانک اللهم وبحمدک اشهدان لااله الا انت استغفرک او اتوب الیک

محمداصف اشنا

ننګرهار – جلال اباد

## ماخذونه


۱. فاروقي،مولوي محمدغني: له ژوند سره مينه وکړئ،چاپ کال،۱۳۹۳ هـ جلال اباد، ګودر خپرندويه ټولنه.

۲. اصلاحی، مولانا محمد يوسف: په اسلام کې د ژوندنه اداب، چاپ کال۱۴۲۹ هجري. جلال اباد ، پيغام خپرندويه ټولنه.

۳. القرني، دوکتور عائض،ژباړن : هلال، فريد احمد، مه خپه کېږه!، چاپ کال۱۳۹۲ ل، جلال اباد، کتاب خپرندويه ټولنه .

٤. غزالی، ژباړن: حنيف، بهادر،مکاشفة القلوب، وحيد خپرندويه ټولنه.

٥. پکتياوال، نجم الرحمن: فکري روزنه،چاپ کال، ۲۰۱۱ ميلادي ، پېښور، مکتبة الحرم.

٦. حامد، محمد وزير، کېسې اوپندونه، النور علمي خپرندويه ټولنه.

۷. القرني، عائض، ژباړن: ضياء ، ضياء الحق: چاپ کال ۱۳۹۲ ل، پېښور، ګندهارا خپرندويه ټولنه.

۸. حميدي، حميدالله : خوشحاله ژوند ته غځېدلې لار،چاپ کال، ۱۳۹۵ ل، کابل: اکسوس خپرندويه ټولنه.

۹. السباعي، دوکتور مصطفی، ژباړه: عمار، محمد ظاهر ،له ژونده مې دا زده کړل...، چاپ کال، ۱۳۹۳ ل، پېښور، ګندهارا خپرندويه ټولنه.

۱۰. سلوی العضيدان، ژباړه: عمار، ظاهر، له ناکامۍ يې زده کړه! ، چاپ کال: ۱۳۹۴ ل، پېښور، ګندهارا خپرندويه ټولنه.

۱۱. سولي العضيدان، ژباړه: مصلح، احسان الله، مه نااميده کېږه!، چاپ کال: ۱۳۹۳ ل، پېښور، ګندهارا خپرندويه ټولنه.

۱۲. القراني، عائض، ژباړه: ضياء، ضياء الحق، مه غوسه کېږه!، چاپ کال : ۱۳۹۴ ل، پېښور، ګنداهارا خپرندويه ټولنه.

۱۳. مهاتريارا، ژباړن: نجيب، طارق، ژوند وکړئ!، چاپ کال: ۱۳۹۵ ل، جلال اباد، مازيګر خپرندويه ټولنه.

۱٤. ازاد، ابوالکلام ،ژباړه: هلال، احمد، اغېزناکه شخصيت جوړونه، چاپ کال: ۱۳۸۹ ل، جلال اباد، مومند خپرندويه ټولنه.

۱٥. شينواری، محمد ابراهيم ، هدف، زده کړه او بری، چاپ کال: ۱۳۹۵ل، کابل: دانش خپرندويه ټولنه.


Scanned by CamScanner

## د ليکوال په اړه



له وښي دنګ، غنمرنګ، د ښو اخلاقو خاوند درپېژنم؛ نوم يې محمد اصف ؛ خو ډېرى خلک يې په اشنا پېژني، دى د هدايت الله شينواري زوى او د سيف الملوک لمسى دى.

له نن څخه (۱۹) پسرلي وړاندې يې د کوزې پښتونخوا د چراټ په ښکلې سيمه کې دې نړۍ ته سترګې پرانيستې، پلرنى ټاټوبى يې د علم او ادب کور ننګرهار ،هسکه مېنه ، لوى پاپين دى.

لومړنۍ زده کړې يې د پښتو نخوا په اسلاميه ښوونځي کې سرته رسولي، وروسته خپل هېواد افغانستان ته راستون شو او د استقلال له عالي لېسې څخه پر(۱۳۹۶) کال کې په لوړه درجه فارغ شوى او اوسمهال د الفلاح پوهنتون اقتصاد پوهنځي زده کړيال دى.

نوموړى د ژوند پر نيلي سپور او څو کاله کېږي، چې د خوږې ژبې (پښتو) د ناوې د دسمال پر پيڅکه يې سر ټړلى او ځان د خوږې ژبې خواخوږى او مين بولي، چې د همدې ژبې د خدمت لپاره يې دا لومړى کتاب (لټونکي ګټونکي دي)تر عنوان لاندې برابر کړى.

نوموړى ځوان او ډېوره حوصلې خاونددى، زه پر دې باوري يم، که دى د زمانې له کړغېړنو او ناورينونو ژوندى ووت؛ نو د پښتو ژبې په ښېرازۍ کې به له دې سربېره دداسې نورو پنځونو شاهد ياست چې تل به يې نوم د لوستونکو پر خوله وي.

نوموړي ته د کتاب د چاپ په پار مبارکي وايم ،د اشنا د ليکوالۍ چينه دې همداسې تانده او بهانده وي، چې د ادب تږي پرې وخت نا وخت خپله ادبي مينه او تنده ماتوي. د پښتو ادب د لا پراختيا او غوړېدا په هيله!

په وروروليزه مينه

وفي الله منت بار

منت بار کمپوز، ډيزاين مرکز- جلال اباد

Scanned by CamScanner

100% 10:57 AM

Search




# Àbdülràoöf Hïmàt
## (PashtuonHimat)

تهٔ باعِث مو دَ بېلتون ئې تا مو وينه ده ويشلې!!
ماتول دې ضروري دي دَ دېورند توره زنځـــــيره!!

Add to Story | Edit Profile | Activity Log | More

**Not Yet Working**

Went to **ليسه عالی خصوصی الحرمين**

Lives in **Kabul, Afghanistan**

From **Khost, Afghanistan**

Engaged

Scanned by CamScanner



Scanned by CamScanner

# The Researchers are The Winners

**(Happy Tiddings For Upset Hearts)**



M. Asif Ashna

2019

Designed By: Sanaullah Zawab

الفلاح

الفلاح کتاب پلورنځی، لاندې پور، لومړی

دوکان اسحاق زی ملرکیټ، جلال اباد

0780760764 - 0798811500

Scanned by CamScanner